د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د څېړنيزو رسالو لړې

# د اوبو مديريت، مالداري او د ترياکو اقتصاد

# د بيوزلو په ګټه د کرهنيزې ودې فرصتونه



لورين فلمنګ او الن رو

د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې مياشت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د څېړنيزو رسالو لړۍ

# د اوبو مديريت، مالدارۍ او د ترياکو اقتصاد

# د بيوزلو په ګټه د کرهنيزې ودې فرصتونه

لورين فلمنګ او الن رو

دا څېړنه د اروپا د کميسيون له خوا برابره شوې ده.

د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې مياشت

تصحیح: ماری شیرزاد

ډیزاین: عبدالوکیل وسیم

د مخ پاڼی عکس: فلورجی لجن

© ۲۰۰۹ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره. ټول حقونه محفوظ دي. ددې خپرونې هیڅ یوه برخه بیا ځلې چاپ، د لټولو وړ سیستم کې ساتل یا په هیڅ ډول یا له هیڅ کومې لارې لکه برښنایي، ثبت یا نورو ډولونو ته نشي لیږدول کیدای مګر دا چې د خپرونکې یعنی د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې، مخکینی لیکې ل اجازه اخیستل شوې وي. د اجازې د ترلاسه کولو لپاره publications@areu.org.af ته برېښنا لیک ولیږی یا ۸۵۴ ۲۰۸ ۷۹۹ ۹۳+ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړې.

## د لیکوال په هکله

لورن فلمنګ یوه خپلواکه سلاکاره ده چې په مخ پر ودې هیوادونو کی د طبیعي سرچینو په مدیریت کی ۲۰ کلنه تجربه لري. هغی د عامه پالیسی په برخه کی د هارورډ دپوهنتون څخه ماسټری او د چاپیریالي ځیرنو په برخه کی د کالیفورنیا د سانتا باربارا د پوهنتون څخه لیسانس ترلاسه کړی. د ۱۳۸۴ کال څخه راهیسې د پروژو په څارنې، ستراتیژیک پلان جوړونې، او په افغانستان کی د کلیو د ودې لپاره د عامه سکتور د ظرفیت لوړولو په چارو کی په کار بوخته ده.

الن روی د آسټرالیا د چارلس داروین پوهنتون د چاپیریالی ځیړنو په ښوونځي کې د ځیړنې په برخه کې خپل ضمیموي زده کړې ترسره کوي. هغه د برتانیي د دورهام د پوهنتون دکتورا او د کرهنی او چاپیریالي ځیړنې د پلې کولو په برخه کی ۱۵ کلنه تجربه لري. هغه ډیر کلونه په عربی ملکونو کی کار کړی، مګر پر شمالی آسټرالیا او افغانستان یی هم تمرکز درلود چیرې چې نوموړې په ۱۳۸۴ او ۱۳۸۷ کلونو په ترڅ کی یې د افغاسنتان د ځیړنې او ارزونې ادارې د طبیعي سرچینو د مدیریت دډلې سره دځیړنو د لوې مدیر په توګه دنده ترسره کړې ده.

## د افغانستان د ځیړنو او ارزونو د یونټ په هکله معلومات

د افغانستان د ځیړنو او ارزونو یونټ (AREU) په کابل کی میشته یوه مستقله ځیړنیزه موسسه ده. د AREU ماموریت د لوړ کیفیت لرونکو ځیړنو په لاره اچولو څخه عبارت ده چی پر کړنلارو او وړځنیو چارو اغیزه او ورسره مرسته وکړی. AREU همدارنګه په افغانستان کی د تحلیلی ظرفیت د لوړولو او د مباحثو د تسهیل له لاری د ځیړنو او زده کړي د فرهنګ لپاره فعالي هڅي کوي.

AREU په ۲۰۰۲ کال کی د مرسته ورکونکو ټولني له خوا جوړه شوه. مدیره هیئت یی د ډونرانو، ملګرو ملتونو او نورو څوارخیزو موسسو، او غیر دولتی موسسو د استازو څخه جوړ شوي دي. AREU په دی وروستیو کی د دغو موسسو څخه بسپني ترلاسه کړي: د اروپا اتحادیه، د ډنمارک حکومت (DANIDA)، برتانیی (DFID)، سویس (SDC)، ناروی او سویډن (SIDA)، د ملګرو ملتونو د کډوالو د چارو کمشنری (UNHCR)، د زراعت، اوبو لګولو او مالداری وزارت، نړیوال بانک، یونیسف، د آغا خان بنسټ، او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پرمختیایی صندق (UNIFEM).

## ستاینه

دغه څیړنېزرپوټ د بیلو څیړونکو لکه ډیوید منزفیلډ، آدم پین، ایون تامسن، ونسنت توماس، مجیب احمد، شرینواس چوکاکولا او کای ویګیرچ په هڅو ترسره شوې ده. همدارنګه خپل د زړه له کومې مننې هغو کسانو ته چې نوموړی رپوټ یې بیاکتلی او په هلکه یې خپل هر اړخیز نظریات او همدا راز د پالیسۍ د ورستنیو پرمختیاوو په هکله یې نوې معلومات وړاندې کړي، ډالۍ کوم.

لورن فلمنګ او الن رو

د ۱۳۸۸ کال کال د غبرګولې میاشت

# د محتویاتو جدول


د څېړنې لنډیز ........ ج
۱. سریزه ........ ۱
۱.۱ د څېړنې موخې ........ ۱
۲,۱ د څېړنې کړندودونه ........ ۲
۱,۲ کرهنه په افغانستان کې ........ ۴
۲. زمینه ........ ۴
۲,۲ د کرهنې او کلیوالي پرمختیا اړوند ستراتیژیک پلان او پالیسي جوړونه ........ ۷
۲.۳ پایلې ........ ۱۹
۱,۳ په کلیو کې د معیشت په هکله عمومي موندنې ........ ۲۰
۳. اصلي موندنې ........ ۲۰
۲,۳ د ځمکې د قبضې په اړه اصلي موندنې ........ ۲۲
۳,۳ د اوبو د مدیریت اړوند مهمې موندنې ........ ۲۳
۴,۳ د مالدارۍ په هکله مهمې موندنې ........ ۲۷
۳,۴ د تریاکو د اقتصاد په هکله مهمې موندنې ........ ۳۰
۳,۲ پایله ........ ۳۲
۴. سپارښتنې ........ ۳۷
۴,۱ عمومي سپارښتنې ........ ۳۷
۲,۴ د ځمکې د اجارې په هکله مهمې سپارښتنې ........ ۳۸
۳,۴ د اوبو د مدیریت په هکله مهمې سپارښتنې ........ ۳۸
۵,۴ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه مهمې سپارښتنې ........ ۴۲
۵. پایلې ........ ۴۵

## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ARDZ | د کرهنی او کلیو د ودې سیمې |
| AGE | دولتي ضد عناصر |
| ANDS | د افغانستان ملی پراختیایي ستراتیژی (۱۳۸۷) |
| ANDS/ARD | د ANDS د کرهنی او کلیو د پراختیا سکتوری ستراتیژي |
| ANDS/CN | د ANDS د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي |
| ANDS/WRM | د ANDS د اوبو د سرچینو د سکتورد مدیریت ستراتیژي |
| AREU | د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره |
| ADB | آسیایی پراختیایی بانک |
| CARD | د کرهنی او کلیو هر اړخیزه وده |
| CDC | سیمه ایزه پراختیایي شورا |
| IIP | د پلی کولو او پانګې اچولو پلان |
| IMF | د پیسو نړیوال صندوق |
| ISAF | د امنیت نړیوال مرستندوی ځواک |
| GAA | جرمن اګرواکشن |
| GIS | جغرافیایی معلوماتی سیستم |
| HE | ښاغلی (جلالتماب) |
| HIPC | ډیر پوروړي او بی وزلې هیوادونه |
| IWRM | د اوبود سرچینو یو ځوټه مدیریت |
| KRBP-TA | د کندز د سیند د ډنډ پروګرام – تخنیکی مرسته |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MAAHF | د کرهنې، مالداری او خوړو وزارت (اوسنی نوم MAIL) |
| MAIL | د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت (پخوانی نوم MAAHF) |

| | |
|---|---|
| MCN | د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزي وزارت |
| MDG | د زريزي پرمختيايي موخې |
| MEW | د اوبو او انرژی وزارت |
| MRRD | د کليو د بيارغونې او پرمختيا وزارت |
| NATO | د شمالی اتلانتيک د تړون سازمان |
| NDCS | د مخدره توکو د کنټرول ملی ستراتيژي (۱۳۸۷) |
| NDF | دملی پراختيا کاري چوکاټ |
| NGO | غير دولتی موسسه |
| NRVA | د ګواښ او زيانمننې ملی ارزونه |
| NSP | د ملی پيوستون پروګرام |
| O&M | ساتنه او عمليات |
| PAG | د کړنلارې کاري ګروپ |
| PDPs | ولايتی پرمختيايي پلانونه |
| PEP | د کوکنارو د له مينځه وړلو پروګرام |
| PIP | د عامه پانګې اچولو پروګرامونه |
| PMIS | د اوبو لګولو د سيستم ګډ مديريت |
| PRSP | د بی وزلی د راټيټولو ستراتيژی پاڼه |
| R&D | څيړنه او پرمختيا |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام |
| UNODC | د نشه يي توکو او جرمونو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر |
| WOL | د اوبو د مديريت، څارويو او د ترياکو د اقتصاد په اړه تر سره شوې څيړنه |
| WUA | د اوبو د کارونکو ټولنه |

## لغتنامه

| | |
|---|---|
| آبی | آبی ځمکه |
| ارباب | د کلی يو مشر چې په ولسوالي او ولايت کی د خپلو خلکو استازې توب کوي |
| چک باشی | د افغانستان په شمالی برخو کی د فرعی کانالونو د اوبو ويش |
| جريب | د ځمکې د اندازه کولو واحد (۱ جريب = ۰،۲ هکتاره) |
| کاريز دی | په افغانستان کی د اوبو لګولو يو بنسټيز ډول چی د څاډوله عمودی برخو څخه جوړ او د ځمکی لاندی |
| کوچي | مهاجر مالداران |
| للمی | د باران په اوبو متکی ځمکه |
| ميرآب | د اوبو د ويش مسوول |
| وطنی | په هيواد اړوند |

## اجراییوي لنډیز

دا څېړنه هغه مهمي موندنې او سپارښتني په لړ کی لري چی د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د "اوبو د مدیریت، څاوریو او کوکنارو د اقتصاد "په برخه کې د دری کلنو موضوعي څېړنو په پای کی لاس ته راغلي. ددی پروژې بسپنه د اروپایی کمیسیون له خوا ورکړل شوې. دا پاڼه د څېړنو د هغو موندنو پر بنسټ ولاړه ده چې د د اوبو مدیریت، څارویو او د تریاکو اقتصاد د لومړې او دوهم کال په ترکیب شوې پاڼه کې وړاندې شوې دي.

ددی څېړنې ستره موخه د افغان کلیوال معیشت دثبات د لوړوالی او په ناقانونه تخمونوباندی د تړاو لړول، پالیسی جوړونکو ته په کرهنیزو سیستمونو کی د طبیعی سرچینو د کارونی، اداری او ونډې په هکله، او همدارنګه پرکرهنییزو پراختیایي فرصتونو د اغیزو د څرنګوالې په اړه د کره او دقیقو معلوماتو وړاندی کول ده. د څېړني موخه دا وه چی پر شواهدو ولاړې سپارښتني وړاندې تر څو د کرهنیزو او کلیوالی کړنلارو اغیزمن توب ډیر کړي. ددې موخې ته د بر لاسه کیدو لپاره، د د اوبو مدیریت، څارویو او د تریاکو اقتصاد د پروژې ډلې د افغانستان په اتو ولایاتو او ګنو کلیوالی سیمو کی یی د څو ډوله څېړنیزو کړندودونوڅخه د کار اخیستی له لارې یوه سیمه ایزه څېړنه په لاره واچوله، او په سیمه کې د کرهنیزو سیستمونو د ازمایښتونوله لارې یې بیلابیل موضوعي څېړنې را غونډې کړې. د دغي څېړنی یوه مهمه برخه کروهنیزو ټولنو ته دا فرصت په لاس ورکړ چی د کرهنی د ودې د پلان شویو فرصتونو او د کړنلارو د اغیزمنی پلی کیدو په وړاندی غبرګون وښیي.

## د څېړنې موندنو ته بیا کتنه

د اوبو مدیریت، څارویو او د تریاکو اقتصاد دڅېړنو موندنو د کرهنیزو محصولاتو او کلیوالی معیشت تر منځ پر پیچلو اړیکو کرهنیزی پرمختیا ته د کرهنیز سیستم له نظره رڼا اچوي. شواهد دا ښیی چې د کرهنیزو محصولاتو او بازارته د وړاندې کولو ، کرهنیزو محصولاتو او کورنی ته د وړاندې کولو او غیر زراعتی( د بل کس ځمکې چې بزګر د یوې اندازې محصول د لاس ته راوړل په بدل کې په کې کار کوي ) اقتصادی فعالیتونو تر منځ ټینګ تړاو موجود دی. که څه هم چی د هرې برخې نسبي اهمیت د هرې کورنۍ د ستراتیژۍ په نسبت توپیر لري ، اوسنی کړنلاره بازارته د محصولاتو پر وړاندې کونه د هغو محصولاتو په پرتله چی د کورنیو د مصرف لپاره دي، او کرهنیز سکټور سره ډیره مرسته کوي. دا حالت په هغو لیرې پرتو سیمو کی چې بازارونو ته منظم لاس رسی نلري، غیر زراعتی عواید یی لږ دي او د ځمکی څخه راغلي پیسي اکثره لږوي، صدق کوي. په داسی حالاتو کی د کورنیو د اړتیا وړ محصولاتو تولید به کرهنیزو فعالیتو سره مرسته او مارکیټ ته زیات تولیدات وړاندی کړي.

د څېړنی موندنې اود پالیسی سپارښتني چی د د اوبو مدیریت، څارویو او د تریاکو اقتصاد د څېړني څخه لاس ته راغلي، په لاندی ډول دي:

## کلیوالی معیشت

د ګواښونو سره مخامخ کیدل اود هغه سره د مقابلې د وسایلو نشتوالی د دایمي بیوزلی او زیانمنې لامل کیدای شي. د ګواښونو مخنیوی ددې لامل کیږي چې ښایي کورنی د بیوزلۍ د جرړو د ویستلو فرصتونه له لاسه ورکړي. کلیوالی کورني د "ګواښ" د ګڼو ډولونو لکه وچ کالي، سخت ژمی، د بیو بی ثباتي ، د آفتونو او نارغیو خپریدل، او د کورنیو د غړو دمړینې سره مخ دي. همدارنګه د حکومتی او غیر حکومتی چارواکو (لکه د نشه یي توکو څښتنان) په خپل سری او ناقانونه کړنې بی وزلو ته زیان رسوي او عدم مساوات نورهم زیاتوي.

معلومات په خړوبو شویو کروندو کې د پایښت لپاره دلیوالتیا ، او د خطر څخه ډک تولیدي چاپیریال کی د خطر څخه د کرکې څرګندونه کوي. کروندګر اکثره غواړي چی د خپلو کورنیو خوراکي اړتیاوی د پوره کولو او د بازار څخه دیو اندازه خپلواکی د تر لاسه کولو په موخه د خوراکي تخمونو کرکیلې ته لومړیتوب ورکوي. سره له دې ډیري لږشمیر کورنی د ځان بسیاینی لپاره اړینو سرچینو ته

لاس رسی لري. ډیري کروندګر د پیسو د لاس ته راوړلو لپاره ګټه وړ تخمونه کري، د څارویو محصولات پلوري، یا غیر کرهنیز کارونه کوي. ډیری افغان کروندګر د بیلو ستراتیژیو څخه کار اخلي.

بازار ته د ځانګړو محصولاتو وړاندې کول د هغو کروندګرو تر منځ چې په دغه څیړنه کې یې ونډه اخیستی، معمول نه دي او دا کار د ډیرو ګواښونو سره مل دی. تجارتی کرهنه ځینی وختونه د شتمنو کروندګرو له خوا چې کافی سرچینې (طبیعی، مالی او ټولنیزې) لري او د حاصلاتو د خرابیدو یا په بازار کی د بیو د لویدو سره مقابله کولای شي، کارول کیږي. یوازې د دغو شرایطو په رڼا کې کروندګر د خپلو عوایدو ډیرولو ته زړه ښه کوي. په پای کې هغه کورنی چې ډیري لږې سرچیني لري ښایی دې ته هغه وخت بازاری تولیدات پیل کړي چې د موجوده سرچینو سره خپلې خوراکی اړتیاوې پوره نشی کړای. په افغانستان کی دا کار اکثره د کوکنارو د کښت په بڼه وي.

څیړنه دا وایي چې د ښوالی د تولیداتو وده به هغو کروندګرو ته ګټه ورسوي چې په امتیازي توګه د اوبولګولو سرچینو ته ښه لاس رسی لري او پدې ډول به اقتصادی وده به په لومړي پړاو کی هغه سیمو کې چې په مقایسوي ډول شتمنې دي مینځ ته راشي. آن که دښوالی محصولات د لومړنیو خړوبو شوو ځمکو څخه دباندی وهڅول شي، د ګټو لویه برخه به د ځمکو خاوندانو او د هغوی پلویانو ته ورشي ځکه په دغو سیمو کی د شریک کښت کچه ډیره لوړه وي. که چیری تجارتی کرهنی سره ملاتړ یوازې د سیند د غاړی پر سیمو متمرکزی وي، په قوی احتمال هغه ټولنې چې په ګوښو او لریو پرتو سیمو کې دي د نویو کاری فرصتونو څخه به ورته ګټه وانه خلي. سربیره پر دې، د کرهنیزې پرمختیا تمرکز په هغو سیمو کی چې له وړاندې اقتصادی فرصتونو او سرچینو ته پراخه لاس رسی لري، د کوکنارو د کښت د راټیټولو سره به په هغو سیمو کی لږه مرسته وکړي چې کروندګر د معیشت ډیر لږ ځای نیونکې لري.

دغه څیړنه په بیلا بیلو ځمکنیو شرایطو کې د څارویو د محصولاتو مقایسوي ګټه څرګندوي. په دغو ژیو کې او د لږو اوبو لرونکو سیمو کی د ګټه ورو څارویو روزونه چیرې چې کروندګر او مالداران د معیشت ډیر لږ بدیلونه لري او د ګواښونو په وړاندې ډیر زیانمنونکې دي، د بیوزلی د ټیټولو یو ریښتینی فرصت برابروي.

د غه څیړنه د هغو شرایطو اهمیت په ډاګه کوي چې تر مخه یې تجارتی کرهنې ته ګذار به د کورنیو د معیشت د ستراتیژی د پیاوړې کیدو سبب شي.

## د ځمکې اجاره

د ځمکو هر اړخیزه ثبت سیستم ته چی د ځمکو د راتلونکې اداري بنسټ جوړوي څرګنده اړتیا لیدل کیږي، مګر د دغه ډول ثبت د سیستم پر وړاندی ګڼ شمیر ننګونې موجودې دي. د قبالو د ثبت لپاره ډیر دلایل موجود دي تر څو د یوه منځګړې ګام په توګه دځمکې د مالکیت حق معلوم کړي. د قبالو د ثبت سیستم به ډیری ګټې ولري(هم د ګټه اخیستونکو لباره اوهم د دولت لپاره)، خلکو ته به د لاس رسی وړ وي او په ډیر لږ لګښت فعالیدای شي.

سربیره پر دې، په داسې حال کې چې د کرهنې د ودې اود بی وزلی د راټیټولو لپاره پلان جوړونه د کروندګرو د مالکیت حقوق تثبیتوی، نومورې څیړنه دا ښیي چې تر ۳۰ په سلو کې خړوبې ځمکې به د فرعي قراردادونو لاندې پاتې وي (عمدتا د شریک کښت قراردادونه). څیړنه دا هم ښیی چې د شریک کښت شرایط د پلورلو لپاره د لوړ ارزښت درلودونکو محصولاتو (هغه چې د کرهنیز سکتور په ستراتیژی کی لومړیتوب لري) د کروندګرو په پرتله د ځمکو د څښتنانو په ګټه وي. ددې موندنو ځانګړې اهمیت دا دی چې د ښوالی په فرعي سکتور کې پلان شوې وده به پراخه کړي. په پایله کې، د کرهنې پراختیایي نوښتونو موخه د ډیرو زیانمنونکو خلکو سره مرسته ده او په هغه صورت کی به یی اغیزمن توب ډیر وي چې هغه اقتصادي فعالیتونه پیاوړې کړی چې پر شریک کښت مشروط نه وي(د بیلګې په توګه غیر زراعتی عوایدو، یا د څارویو د محصولاتو له لاری).

## د اوبو د سرچينو مديريت

د اوبو لګولو د جوړښت د هايدروليکي ځانګړتيا او د اوبو د سرچينو د اداره شوې څرنګوالي له امله د اوبو د سيستم د ښکتنی برخې کروندګرد اوبو د ويش د بيعدالتی سره مخ دي. د کانال په وروستی برخه کی د اوبو کمښت د ګټه ورو محصولاتو او ديپلورلو وړ محصولاتو او د محصولاتو د نورو ډولونو حاصلات هم راټيټوي. په نتيجه کی، کرهنيز فرصتونه او د معيشت خونديتوب د اوبو لګولو د سيستم او د سيند د ډنډونو په اوږدو کې کميږي، او د اوبو د لاندينيو برخو کروندګرو ته د ډيرزيات زيان سره مل وي. په افغانستان کې د اوبو کمښت د اوبو لګولو د سيستمونو د حالت له کبله خورا زيات شوي دی، چې د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری د وزارت د اټکل له مخې د د ساتنې د نشتون او نامناسبې طرحې له امله کابو نيمايی ظرفيت پوري (په منځنی کچه) فعاليت کوي.

څيړنه دا تصديقوي چې د اوبو د پورتنيو برخو د نيمه خړوبه شوو سيمو کروندګر د ټيټو سيمو د کروندګرو په پرتله د اوبو لګولو د بيلو ستونزو سره مخ دي. په داسې حال کې چې په پورتنيو سيمو کی د اوبو شتون يوه لويه ستونزه بلل کيږي، د سيستم وده ښايي د موجوده سرچينو د اغيزمنې اداري زمينه برابره او کرهنيز امکانات او په ليريو پرتو کليوالو سيمو کې به د کروندګرو امنيت برابر کړي. دا به د زيانمنوونکو ټولنوته چې په ځينو سيمو کې په کلکه د کوکنارو په کر کيله متکی دي، ګټه ورسوي او په دې توګه به د بيوزلو په ګټه پاليسيو د موخو سره سمون ولري.

دا څيړنه څرګندوي چې د کافی اوبو شتون چې د ټولو اوبو لګونکو لوړې اړتياوې پوره کړي ( د اوبو د کانال د پورتنيو او کښتنيو سيمو )، د ګټه اخيستونکو تر منځ به د اوبو ويش د ټولنې د اوبو د ويش د سيستمونو له لارې ډير اغيزمن وي. سره له دې د دې احتمال شته چې د اوبو زيات فشار د ټولنې د اوبو د مديريت ظرفيت به د اوبو د کمښت د جبران په برخه کې اغيزمن کړي. د سطحی اوبو خلاف، د ځمکی لاندی اوبو څاګانو او دوديزه کاريزونه د ټولنيز مديريت د سيستم د واک پرته د ښتنانو له خوا د شخصی شتمنی په توګه اداره کيږي. د اوبو څخه غيرمنظمه ګټه اخيستنه د اوبو د نورو ګټه اخيستونکولپاره د اوبو د کچې د کمښت سبب کيږي او په اوږد مهال کی د ځمکی لاندی اوبو زيرمو د ثبات په هکله انديښنې راپاروي.

د اوبو د ټولو ګټه اخيستونکو د مسول پاتې کيدو او د شخړو د حل د ميکانيزمونو د رامينځ ته کيدولپاره د دنډ متناسب پراخ بنسټ چوکاټ رامينځ ته کيدل اړين بريښي. د سيند د ډنډ د ادارو پر وړاندې د مديريت ستړې ستونزې د سيند د ډنډ په کچه د اوبو د ګټه اخيستونکو ترمينځ چې د همکاری دود نه لري د اوبو د مديريت لپاره همغږی رامينځ ته کړي.

## څاروي

د څارويو په اړه د اوبو مديريت، څاروي او د کوکنارو د اقتصاد څيړنې څرګندوي چې د پراخو کرهنيزو سيستمونو لاندې د کوچنيو څارويو محصولات ( يعنی کوچي مالداران يا په للمی کرهنيزو سيستمونو کې ګډ شوي) د خړوبيدونکو کرهنيزو سيستمونو په پرتله بازار ته مساعد دي، چيرې چې څاروي د کرهنيزو عوايدو لويه برخه نه جوړوي. د څارويو د نا خالصو محصولاتو اختلاف دا خبره تصديقوي. په دې توګه، د څارويو زيات محصولات ښايي په خړوبو شوو کرهنيزو سيستمونو کې د د څارويو د ادغام څخه لاس ته راشي، مګر د خوراکی توکو د لوړې بيې له امله ناخالص توليدات ښايي را ټيټ شي. دا سې ښکاري چې د څارويو نا خالصو محصولاتو ګټه هغه سيستم څخه لاس ته راځی چې لږ مواد او لږ حاصل پر بنسټ ولاړ وي او څاروی په لږه توګه خپل جينيتيکي ظرفيت ته رسيږی. سره له دې، د څارويو د محصولاتو دغه پراخ ډولونه، په زياتيدونکې ډول د وديزو څرځايونو ته د نه لاس رسی او د ځمکې د سوليدو له امله د زياتيدونکی ګواښ سره مخ ده.

د څارويو د بازار د راکړې ورکړې پرتله شوې معلومات د څارويو د حالت (اندازې، عمر يا وزن) او بيی تر منځ ډيره لږه اړيکه موجوده ده، له همدی امله مالداران د څارويو د حالت د ښه والی لپاره د پانګه اچونې کومه ځانګړې انګيزه نلري. بيا هم، داسی شواهد موجود دي چی کروندګر د څر ځايونو څخه د شودو څخه پری شوي

وري رانیسي او په لوړه بیه د خرڅولو څخه دمخه یې د کرل شوی نباتاتو او د نباتاتو د پاتې شونو او فرعي محصولاتو په ورکولو یې چاغوي. دا کار کوچنیو کروندګرو ته د یوه بیل فعالیت زمینه برابره او د څارویو د سکتور ارزښت ډیروي.

په داسې حال کې چې د بڼوالي دمحصولاتو د پیاوړې کیدو کړنلاره به هغه کسانو ته چې ځمکې او اوبه لګلولو ته لاس رسی لري ګټوروي، د مالداري غښتلتیا به د بې وزلو او د کرهنیزو محصولاتو هغه تولیدونکې چې ډیره پاملرنه ورته نه کیږي سره به مرسته وکړي. په دې ډله کې د شنو لیری پرتو څر ځایونو کروندګر، په درو کې کم ځمکې کروندګر او شریک کروندګر چې د ګټه ورو محصولاتو د کرلو وس نلري، شامل دي. د داسې ګټه ورو زنځیرونو پراختیا به د بې وزلې په راټیټولو کې مرسته وکړي، او د اقتصادي ودې لپاره ډیره اغیزمنه ستراتیژي بلل کیږي.

## د تریاکو اقتصاد

بې وزلي، کوکنار او نا امنی په افغانستان کې سره تړلي دي. په داسې حال کې چې کوکنار په ډیرو سیمو او د بیلو ټولنیز اقتصادي ډلو له خوا کرل کیږي، زیاتره هغو سیمو ته چې خړوبو شوو ځمکو ته لږ لاس رسي لری ، د لوړ نفوس لرونکې او د نیمه کرهنیزو اوکرهنیزوعایداتو د محدودو فرصتونو درلودونکې دي یا چیرې چې د نا امنی کچه لوړه وي زیاتره متمرکزه وي.

د تریاکو تولید په کلیوالی اقتصاد کې ژوري ریښې لري او ددندو په رامینځ ته کولو او غیر کرهنیزو( هغه ځمکې چې بزګر ته د یو څه برخې په بدل کې ورکول کیږي ) فرصتونه برابروي. د بې احتیاطي په صورت کې، د کوکنارو د کښت چټک او پراخ ټیټوالی به د پام وړ منفی اغیزې را منځ ته کړي . آیا د له منځه وړلو او یا پر بزګرانو د فشار له لارې به ددې کښت ودرول شي. په دې لړ کې د کوکنارو د نه کرلو له امله د کورنی پر عاید باندی منفی اغیزه، په کلیو کې د مزد د کچې را ټیټیدل او په کلیو کې د بیکاری ډیریدل، او کورني پورونه شامل دي. د تریاکو د کښت جاري شوې راټیټونه به پر بې وزلو او زیانمنونکو ژورې اغیزې ولري. که څه هم چې تریاک د لږ شمیر شتمنو د ځمکو لرونکو ته د لوړو ګټو راوړونکی محصول دی،د ډیرو هغه کورنیو لپاره چې د سرچینو د ژور کمښت سره مخامخ دي، د کروندو پر بنسټ ولاړ معیشت د دوام لپاره یوازینۍ سرچینه بلل کیږي.

د تریاکو ونډه په کلیوالی معیشت کې باید په پراخ ډول مطالعه شي. ځینی محصولات–کله چې د ګډو کرهنیز سیستمونو د یوې برخې په توګه د غیر کرهنیزو عایداتی فرصتونو سره یو ځای شوې دي-د مالی پلوه کوکنارو سره هغه وخت سیالي کولای شي چې د کوکنارو بیه ټیټه وي. مګر هیڅ یو محصول ورته کیفی ځانګړتیاوې نلري: د وچ کالی په وړاندی نسبی مقاومت، نه له مینځه تلونکی، د یوه کابو تضمین شوې مارکیټ شتون، د راتلونکی حاصل یا د اړتیا وړ کرهنیزو محصولاتو لپاره د سوداګرولة خوا د پیشکي پیسو ورکړه، د ځمکې د سر پیرودونکو شتون، او د ځمکی خاوندان چې د شریکي کښت یا اجارې له لارې ځمکی ته ترجیحی لاس رسی ورکوي.

د کوکنارو دا بیلګې او د خوراکی توکو د خوندیتوب د زیاتیدو له پلوه په کلیوالیاقتصاد کې د هغه ونډه (د پیشکی پیسو د ورکړې او د کورنی د دیروشویو عوایدو له لارې)، اقتصادی فرصتونه (ځمکی، پور، مارکیټ او نورو مهمو محصولاتو ته لاس رسی) او کم شوی ګوابښ وړاندیز کوي چې د کوکنارو او د کوکنارو د کر کیلې د راټیټولو سره اړوندو منفی اغیزو سره د سیالی په خاطر مداخلات او پراختیا یې پایلې اړینې دي.

د غه ځیړنه دا وړاندیز کوي چې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې او سنی پالیسي د کوکنارو د کرکیلې د پراخیدو د اساسي لاملونود له مینځه وړلو پر ځای د تریاکو د اقتصاد ننبې ننباني تر هدف لاندې راوړي او ممکنه نه بریښي چې ددې محصول څخه د خلاصیدو لارې چارې ومومندي. آیا کروندګرو به وکړای شي چې ددولت هغو هڅونو او ګواښونو ته به د کوکنارو د کر کیلې په کمولو کې ځواب ووایي چې دا به تر ډیره حده ددوی پر توان پورې اړه ولري چې د کوکنارو د اقتصاد نه پرته یو بل معیشت رامینځ ته کړي. د تریاکو څخه خلاص کلیوالی اقتصاد بنایی کلونه وخت ونیسي، او پالیسی جوړونکې باید دا ومنی چې ټول ولایتونه، ولسوالی یا ټولنیز اقتصادی ډلې

به د دغی موخي د پلې کیدو لپاره یوشان پرمختګ ونکړي. سر بېره پر دې کیږي د کوکنارو پر شتمنو کروندګرو، ګومارل شویو، معامله کوونکو او د هغوی پر پلویانو (د مفسدو دولتی مامورینو په ګډون) فشار اچونې څرګنده پیښه لیدل شوې چې د د دغه توکې د تجارت څخه لاس واخلي.

## عمومي وړاندیزونه

### طبیعي سرچینو ته د نا برابره لاس رسی په نښه کول

داسي نوښتونو ته اړتیا ده چې د محلي ادارو او میکانیزمونو د منځګړیتوب ظرفیت او اداره د افغانستان د طبیعي سرچینو په اړه غښتلی کړي. دا کار ښایي ځینو قانوني اصلاحاتو او بهرنی څارنې ته اړتیا ولري، مګر د ګډو پریکړو او ګډون د ترویجولو له لارې د پام وړ پرمختګ ترلاسه کیدای شي. د طبیعي سرچینو په هکله د پریکړو او د پړیکړو د نویو جوړښتونو لکه د ټولنې پرمختیایي شورا تر منځ تړاو په ځینو حالتونو کی د میراثي ځواک دخراب اندول جبران کې مرسته کولای شي.

اوسنۍ او پخوانۍ مشارکتی تشخیص او موضوعګانې باید د کانال په کچه د اوبو د مدیریت ددود د پیاوړي کیدو د هڅو بیل ټکی و اوسي. ددی تر څنګ باید د اوبو د ویش او د کانال د هایدرولیکو ملکیتونو په اړه باید معلومات راټول تر څو د تشخیص او پریکړي لپاره شواهد برابر کړي. د اوبو د کارونکو ټولنو د جوړولو لپاره طرحې باید ونه کارول شي او پر ځای یی باید خلکو ته وخت ورکړل شي چې ستونزې حل او په قواعدو کی بدلونونه راولي.

### د بی وزلو په ګټه  او د اقتصادي ودې د اجندا ګانو انډول کول

د افغانستان کلیواله ټولنه په کرهنیز فرعي سکتور کی د ګډون بیل ظرفیتونه لري. څرنګه چی د بنوالۍ د سکتور وده  د اوسني ټولنیز اقتصادي وضعیت پیاوړتیا ته لیوالتیا لري، د مالداری د ګټه ورو زنځیرونو د پیاوړی کیدو پر لو رې هدفمند ګامونه به د لیری پرتو او حاشیوی سیمو کروندو او کوچنیو کروندګرو ته د بیوزلو په ګټه فرصتونه برابر او د مالداری دفرعي سکتور د پرمختیا ډیره معقوله لاره ده. باید هڅې وشي چی ټول کرهنیز نوښتونه، خدمتونه او آسانتیاووي د سیند د شاوخوا سیمو ته چې ډیرې وګړې لري متمرکزې نشي، ځکه په دغو سیمو کې د پخوا نه پرمختیایي فعالیتونه په دودیزه توګه متمرکز دي.

په کرهنیز سکتور کی د اقتصادي ودې لاس ته راوړل په ټولو واردو کی د کلیوالی ثبات د پراخ سیاسی هدف سره سمون نلري. پالیسی جوړونکی باید د یوه سیال کلیوالی اقتصاد او باثباته کلیوالی ټولنی د جوړولو تر منځ مسائل مطالعه او ترمنځ یی انډول راولي او دا باید ومني چې د کلیو ثبات د کلیواله اقتصاد د دوامداره پرمختګ لومړنی شرط دی.

### د مارکیټ د سیستم تر څنګ د کرهنیز سیستم پیاوړتیا

د بازار لپاره د کرهنیزو محصولاتو هڅونه د هغو کرهنیزو ټولنو د معیشت څخه چی په کرهنیز سکټور کی کار کوي، ملاتړ اړین بولي. اوس مهال ، پرمختیایی ستراتیژی یواځې د کرهنیزو محصولاتو لپاره  د مارکیټ زنځیر ( ټول هغه وسایل او لارې چارې چې د یو کرهنیز محصول د خرڅلاو لپاره د کروندو څخه تر مارکیټ پورې اړینې دي) رامنځ ته کولو ته ډیره لړه پاملرنه لري ، مګر د کرهنیز معیشت خوندیتوب د غیر  کرهنیزو عوایدو یا کورنی مصرف ته د کرهنیزو محصولاتو سره د مرستې له لارې  زیاتیدای شي. پرمختیایی پلان جوړونکي باید د کرهنیز معیشت د جوړولو په وخت کی پراخ لید لوری ولري.

### دغیر مارکیټي کرهنیزو محصولاتو د ارزښت پیژندنه

پرمارکیټي کرهنیزو محصولاتو د پالیسی زیات ټینګار د د غیرپولي محصولاتو اهمیت د نه په پام کې نیولوګواښ را مینځ ته کوي. په ځانګړی ډول هغو لیرې پرتو سیمو کی چې بازارونو او خدماتو ته سمه لاس رسي نلري، کرهنیز محصولات په اوږد  مهال او کړکیچنو حالاتو او د ځانګړو اړتیاوو په حالت کی د کورنی په سوکالی کی جوته ونډه لرلای شی. په دغو فعالیتونو کی د نقدو

پیسو د کمښت پوره کول، ټولنیزو شبکوو ته د غیر پولی خدماتو انتقال، او د ارزښتنناکې ذخیرې په توګه د څارویو ساتل شامل دي.

د کرهنیزو، نیمه کرهنیزو، او غیر کرهنیزو فرصتونو پراخول

د کلیوالی معیشت د خوندیتوب لپاره د د کاري توان د سمو مارکیټونو او د بسیا معاش لرونکو کاری فرصتونو شتون اړین بریښي. او سني ستراتیژۍ د کرهنیزو، نیمه کرهنیزو او غیر کدهنیزو دندو ترمینځ د لوړو توپیرونو څخه ګټه اخیستلای شي. چې ټول د تنوع او عوایدو په منځ ته راوړو کی مهمه ونډه لرلای شي. سربیره پر دې، باید جوته شي چې وړاندیز شوې لارې چارې څرنګه په مستقیم او غیر مستقیم ډول کاری فرصتونو باندی اغیزه کوي تر څو د کرهنیزو محصولاتو لوړول د کارونو د له منځه تلو لامل ونه ګرځي.

## مشروع کرهنیز معیشت ته د اوښتون سره ملاتړ

یوې مناسبې او مشروع کرهنې ته د دوامداره اوښتون ملاتړ کونکې چاپیریال جوړول چې د افغانستان په کلیو کی د بی وزلی او زیانونو اساسی لاملونه په نښه کړي او پر مهالو هڅو ته اړتیا لري. په دی لړ کی داسی لارو چارو ته اړتیا شته چې د ټولنې اړتیاووې په سمه توګه په نښه کړي (د بیلګې په توګه لیری پرتو سیمو ته د اقتصادی فرصتونو غځول، د معیشتی خوندیتوب ترویج او سرچینو ته د نا انډوله لاس رسی مخنیوی). د کوکنارو د کښت منع کول باید هغه سیمې په نښه کړي چې کروندګر یی پخپله خوښه دا وټاکي چې ایا کوکنارو کري که نه.

## د شواهدو پر بنسټ ولاړو پریکړو هڅول


د دې څیړنې د لومړی کال ترکیبي ریپوټونه څرګندوي چې په افغانستان کی باید د معلوماتو د راټولو معیارونه منځ ته راشي تر څو د بیلابیلو سرچینو معلومات سره راټول او پرتله شي، او همدارنګه راټول شوې معلومات یوه ډیټابیز کی د راتلونکی لاس رسی لپاره زیرمه شي. په دی اړه ځینې پرمختګونه په ۱۳۸۲ کال کی د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری په وزارت کی د ملی کرهنیز معلوماتی سیستم د جوړولو سره وشول. د راتلونکی ګام په توګه، دهغه لاملونو ښودلو ته چې د کلیوالی معیشت فرصتونه او ګواښونه په نښه کوي په لومړیتوب کی راوستل شي، تر څو اړوندې لارې چارې پلان، همغږې او په نښه شي. په دی لړ کی د مارکیټونو لارو، د اوبو لګولو بنسټ او خدمتونو؛ د لر لید بیلګي؛ د طبیعی سرچینو څانګړتیاوې؛ اقلیمی معلومات؛ د مزدوری کچه؛ د کورنی عواید او نور ټولنیز اقتصادی معلومات؛ امنیتی شاخصونه؛ د بازار بیې؛ د محصولاتو او څارویو د ناروغیو پیښې؛ ته لاس رسي او نور مهم فکتورونه شامل دي. د معیشتی فرصتونو د زمینی پیژندنه او د کروندګرو غوښتني به د هغو هڅو سره مرسته وکړي چې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې نوښتونه په ستراتیژیکو سیمو کی په نښه کړي او پر بی وزلو او زیانمنوونکو باندی د دی کار منفی اغیزې را ټیټې کړي. همدارنګه به د هغو هڅو سره مرسته وکړي چې د کرهنې او کلیو د پرمختګ یوه داسې پراخه او انډوله ستراتیژی پلې شي چې د اقتصادي ودې او بی وزلی په کمولو کې مرسته وکړي.

دا چارت د کندز د سیند تر څنګ کانالونه ښیی

(آین مک الستر اندرسن)

د بغلان ولایت د سیند یوه خړوبه شوې دره

(الن روی)




چارټ د کندز د سيند په اوږدو کې د کانالونو
ښکارندوی دی (ايان مکاليستر اندرسن)



په بغلان کې د يوه سيند د غاړې اوبه شوې برخه (الن روی)

# ۱. سریزه

دغه رپوټ د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د د درې کلنو څیړنو پایلې چې بسپنه یې د اروپا د کمیسیون له خوا د اوبو د مدیریت، د تریاکو اقتصاد او مالداری (WOL) په نوم څیړنې لپاره ورکول شوي، ترکیبوي.

دا رپوټ د دریو برخو څخه جوړ دی. لومړۍ برخه د اوبو د دمدیریت، د تریاکو اقتصاد او مالداری دڅیړنې موخې او کړندود ، د کرهنی او طبیعی سرچینود برخې لنډه تاریخچه، او هغو کړنلارو چې د نوموړې څیړنی اجندا جوړوي او د اوسنۍ پالیسۍ شرایط چې ددې څیړنې سپارښتنې ورته متوجه دي، تشریح کوي. دوهمه برخه د ځمکی، اوبو ، څارویو او تریاکو د کرلو په اړه اساسي موندنې پایلې په ترتیب سره وړاندې کوي. وروستی فصل د پالیسی جوړونکو لپاره سپارښتني وړاندې کوي.

## ۱.۱ د څیړنې موخې

د څیړنې موخې د کرهنیزې پالیسۍ د اغیزمنتیا ښه‌والی او کلیوالي پروګرام جوړولو لپاره د شواهدو پر بنسټ ولاړو سپارښتنوو وړاندې کول او پالیسي جوړونکو ته په کلیوالي معیشتونو کې د طبیعي سرچینو د کارولو، مدیریت په هکله دکره او روښانو معلوماتو وړاندې کول دي چې زیاتره پاملرنه به یې پر ځمکې، اوبو، مالداری او د تریاکو پر کر کیلې به وي ددغو برخو د په پام کې نیولو سره ، لاندینی ډیبر څرګندې لاربښوونې په څیړنه کی راغلې دي:

د ځمکې اجاره: د ځمکو د اوسنیو پالیسیو د کاري چوکاټ د اغیزمنتوب د په پام کې نیولو سره او د ښه‌والی لپاره یې د سپارښتنو برابرول، د ځمکو د اجاره دارو کروندګرو او نورو مستفیدینو د ډولونو په اړه پلټنه، او د ځمکو د اجاري د اوسنیو سیستمونو د ګټو او ستونزو او په کرهنه او د طبیعی زیرمو په اداره باندی د هغوي د اغیزې د څرنګوالی څیړل.

د اوبو مدیریت: په افغانستان کی د اوبو لګولو د اوبو د اداري څرنګوالی، د اوسنیو سیستمونو د فعالیت څرنګوالی، د دغو سیستمونو د اداري ډول او د هغوي د عملیاتو اغیزمنتوب، د شخړو د اغیزو د په ډاګه کولو، وچ کالی او پرمختیایي فعالیتونو اغیزه د اوبو لګولو د اوبو پر زیرمو؛ په هکله پلټنې او د اوبو د عادلانه او اغیزمن مدیریت لپاره سپارښتني.

څاروي: د کلیو په معیشتی کرهنیزسیستم کی د څارویو د بیلابیلو ډولونو د ونډو څیړل، د تولیدی ستونزو او فرصتونو او موسمی بعدونو په ګډون؛ د څارویو د مدیریت، څرځایونو ته لاس رسی او د څرځایونو دوامداره کارونه؛ د بازارونو په چارو کی د څارویو او د څارویو د محصولاتو څیړل او پر تولیداتو باندی د شخړو، وچ کالی او پرمختیایی فعالیتونو د اغیزو ارزونه؛ او د څارویو د محصولاتو د ښه‌والی او دوام لپاره سپارښتني.

تریاک: د کوکنارو د کرکیلې لپاره د کروندګرو د پریکړو دلائل او د هغه تولنیز- اقتصادی پایلو تحلیل؛ او د شخړو د اغیزو، وچ کالی، دکوکنارو په کرکیلې د پرمختیایی پروګرامونو او حکومتی پالیسیو اغیزو پلټنه ؛ او په افغانستان کی د کوکنارو د کنټ د دومداره راټیټولو په ملاتړ سپارښتني.

د نوموړې څیړنې د لومړی کال څیړنه(۱۳۸۴-۱۳۸۵) پر ښه‌والی او د څارویو پرفرعي سکټور متمرکزه وه تر څو د کلیوالی اقتصاد وده وهڅوي. ددغې څیړنې موندنې څرګندوي چې د کروندګرو کورنیو یوه غټه برخه په دې موقف کی نه دي چې د افغانستان د موقتې ملي پراختیایي ستراتیژۍ( ANDS ) د اقتصادی ودې د پلان شوې ماډل څخه چې د جوړیدو په درشل کی وه، ګټه واخلي. په دوهم کال کی، دغه څیړنه د توضیحی ډول نه تحلیلی ډول ته واوښته. څرنګه چې د لومړي کال څیړنه د کروندګرو کورنیو حالت بیانوي، د دوهم کال څیړنه(۱۳۸۵-۱۳۸۶) د کرهنیزو سیستمونو د فعالیت په څرنګوالي ( سرچینو ته د لاس رسی، محصولاتو، مصرف، او بازار ته لاس رسی) او د کلیوالی معیشت سره د دغو بهیرونو

تقاطع باندی متمرکزه وه. د دی کار عمومي موخه، په کرهنیزو او کلیوالی ستراتیژیو کی د کروندګرو د ګټون د فرصتونو او ستونزو معلومول، او د هغوي د ښه والی او پلی کیدو تر ټولو ښو لارو چارو موندل وو. د څیړنو داسی یوه لاره وموندل شوه چی د کوکنارو د کرلو لپاره د کروندګرو اساسی دلائل او پر کلیوالي معیشت باندی د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژۍ اغیزې څرګندوي. د دې څیړنې دریم کال (۱۳۸۲–۱۳۸۷) د څارویو پر محصولاتو او د سیمه ایزو بازارونو پر بیو، د اوبو د مدیریت د دودیزو سیستمونو پر دندو، او د اوبو د سکتور پر ستراتیژۍ متمرکزه وه.

## ۱.۲ د څیړنې کړندودونه

د څیړنې ډلې د خپلې څیړنې د جوړښت لپاره یې د کرهنیز سیستم د یوه یو ټوټه کړندود څخه کار واخیست، چی تر مخه یې دواحدو سرچینیو د کارونې او کرهنیزو ستراتیژیو پریکړې چې د نورو سرچینیو د مدیریت او شتون سره کلک تړاو لري، را برخیره کوي. ډلې همدارنګه وموندله چې کرهنیز سیستمونه (او کلیوالي معیشت) د پیچلو او ډاینامیکو بیوفزیکی، سیاسی او اقتصادی شرایطو سره تړاو لري. ددی پیچلو معلوماتو د راټولو لپاره د معلوماتو د راټولو د دریو کړندودونو څخه کار واخیستل شو: موضوعي څیړنې، د کورنیو څارنیزې سروې ګانې، او فزیکی اندازه کول.[1]

موضوعي څیړنه هغه مهم مسائل په غور سره را سپړي چې په افغانستان کی د کلیوالي معیشت د یوې مهمې سرچینې سره تړاو لري: څاروي، اوبه، ځمکه او د تریاک- کوکنار. دغه څیړنه د نړیوالو او کارپوهو څیړنکو له خوا ترسره او په لړ کی یې د ډیرو څیړنیزو کړندودونو څخه کار اخیستل شوی، که څه هم چی اکثره د سرچینو د کارونی او لاس رسی د پریکړو په اړوند د کروندګرو د کوچنیو ډلو سره مرکې تر سره شوې.

ژوره موضوعي څیړنه د کورنیو د نمونوي سروې له لارې بشپړه شوې تر څو د کورنیو د کرهنیزو سیستمونو د اوږد مهالې څارنې سره د څیړنې په دوران کې مرسته وکړي. د پراخ معیشتی سیستم په چوکاټ کی د کرهنیزو سیستمونو د دندو او د بزګرانو د مدیریت د غوښتنو په هکله د معلوماتو د راغونډولو لپاره یوه اوږد مهاله څیړنه طرح شوه. کورنۍ په دغه څیړنه کی د تولید، مصرف او پریکړو د اساسی واحد په توګه مهم ځای لري. د هر اړخیزو معلوماتو راغونډول د دریو کلونو په موده کی په اتو ولایتونو کې تر سره شوې دي؛ د څیړنې د ځایونو په اړه د معلوماتو لپاره ۱ جدول او ضمیمه شوي نخشې ته مراجعه وکړئ. څیړنیزې ساحي سیمې ټاکل شوي وي څو د ځمکه- دانسان اړیکه د طبیعي چاپیریال سره (agro-ecological) لکه خړوبو شویو، نیمه خړوبه شوې او للمی سیمو په ګډون تنوع رامینځ ته کړي، او تمه کیده چی په دغو سیمو کی طبیعی سرچینو ته لاس رسی، دهغوي کارونه او معیشتی پایلې به بیلابیل ډولونه ولري. دا څیړنې بیلابیلي کورنۍ او ټولنې د غیر مهاجرو کروندګرو، کروندګرو مالدارانو، کوچي مالداران، شریک کروندګرو او کرهنیز مزدورانو په ګډون د پوښښ لاندی نیولي وې.

د څیړنې لاندی کورنیو ځمکي اندازه شوې تر څو د څارویو د ودې کچه او د شیدو اندازه معلومه شي. د اوبو لګولو د سیستمونو فزیکي ځانګړتیاوې په څلورو سیمو کی نقشه شوې. څیړنیزې ډلې د کورنیو د څارنیزې سروې او فزیکی محاسبو لپاره د غیر دولتي سازمانونو (NGO)، د افغانو کډوالو سره دډنمارک د مرستې کمیټه (DACAAR)، او د جرمني د کرهینیزو چارو اداري (GAA) سره په ګډه کار کړی. څیړنیزې ډلې همدارنګه د مهمو افغانی ښکیلو اړخونو لکه د کرهنی، اوبو لګولو او مالداری، د کلیو د بیارغوني او پرمختیا، د انرژۍ او اوبو، د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې له وزارتونو او د کابل پوهنتون د څیړنو د مرکز سره په ګډه کار کړی. د موضوعي څیړنو وړاندیزونه او موندنې د کورنیو د څارنو د تحلیل پایلې په دوو ترکیبي رسالو کی چې د لومړي او دوهم کال څیړنې په لړ کی لري، د لازمو تفصیلاتو سره خلاصه شوي دي. دغه ترکیبي رساله درې کلونه په لړ کی لري او د ددې څیړنې (د اوبو مدیریت، څارویو او د تریاکو اقتصاد) مهمې پایلي او سپارښتني په ګوته کوي.

---

[1] د دی څیړنی د میتودونو په اړه د تفصیلی معلوماتو لپاره، او په خاصه توګه د کورنیو د څارنیزو سروی ګانو په هکله، د الن رو رسالي ته، د اوبو اداره، څاروي او د تریاکو اقتصاد: د طبیعی سرچینو اداره، کرهنیز سیستمونه، او کلیوالی معیشت (کابل: د افغانستان د څیړنی او ارزونی یونت، ۷۸۳۱).

۱ جدول: د ښارنې په ډلو کی د کورنیو ویش

| ولایت | د ښېرني سیمه | د کورنیو شمیر | تولیدی سیستم |
|---|---|---|---|
| غزنی | ځلا کلا | ۷ | نیمه اوبه لرونکي |
| | پیاده راه | ۲ | نیمه اوبه لرونکي |
| | قلعه نو | ۲۷ | اوبه لرونکي |
| | تورمای | ۱۱ | اوبه لرونکي |
| | چیچل گنبد | ۲ | اوبه لرونکي |
| هرات | خلیفه رحمت | ۱۲ | للمی |
| | تونیان | ۱۳ | اوبه لرونکي |
| | گاوشک | ۱۰ | اوبه لرونکي |
| | غورک | ۷ | نیمه اوبه لرونکي |
| | سیبرزر | ۱۲ | للمی |
| کندز | عبدل نظر | ۵ | للمی |
| | علم بای | ۴ | للمی |
| | دانا حاجی | ۵ | اوبه لرونکي |
| | وکیل جنگل | ۱۹ | اوبه لرونکي |
| | افغان مزار | ۱۷ | اوبه لرونکي |
| ننگرهار | معروف چینه | ۱۱ | نیمه اوبه لرونکي |
| | سره کلا | ۱۱ | نیمه اوبه لرونکي |
| | خواجی | ۷ | نیمه اوبه لرونکي |
| | اوتار خیل | ۱۰ | نیمه اوبه لرونکي |
| | جانی خیل | ۱۸ | اوبه لرونکی |
| کوچیان | خماری خیل | ۱۲ | څرځای |
| | کتب خیل | ۱۰ | څرځای |
| مجموع | | ۲۳۶ | |

# ۲. زمینه

## ۱.۲ کرهنه په افغانستان کې

افغانستان یو غرني هیواد او **۲۵** میلیون هکټاره ځمکه لري، چې یوائې ۱۲ په سلو کې يې (۸ میلیونه هکټاره) د کښت لاندې ده. د کرهنیزو ځمکو نږدې نیمايي يې اوبه لرونکي او پاتې يې للمی ده، که څه هم چې دا تناسبات هر کال بدلون مومي. سره له دې د اوبه نه لرونکو ځمکو ټیټو حاصلاتو ته په پام سره، دا اوبه لرونکي ځمکې دي چې د کلیو ډیری خلک یې مصروف ساتلي او د حاصلاتو ۸۰ په سلو کې برخه تولیدوي[۱]. له همدې امله ګن میشته او کرهنیزې سیمې په هواره او رسوبي سیمو او د سیند په درو کې موقعیت لري. د دغو سیمو اوبه په موسمي ډول د غرونو د واورې د ویلې کیدو سره اړیکه لري[۲]. د سمو شرائطو لاندې (په تودو او اوبو لرونکو سیمو کې د بسیا اوبو سره) دوه حاصله په یوه کال کې ممکن دي. د نباتاتو پراخ ډولونه په افغانستان کې د بازار او کورني مصرف لپاره کرل کیږي.

د غرنیو ځنګلونو کوچنۍ سیمې د افغانستان په لوړو پرتو ختیزو او جنوب ختیزو سیمو کې پاتې دي او د هیواد د ځمکو **۴۵** په سلو کې د څرځایونو[۳] په نامه یادیږي او د میشته خلکو او کوچیانو لپاره د پراخو حیواني محصولاتو د تولید زمینه برابروي. په تاریخي ډول، کوچي مالدارن د کوچنیو څارویو[۴] او د هغوي د محصولاتو اصلي تولیدونکي بلل کیږي.

په دودیزه توګه، کرهنه د افغانستان د اقتصاد یوه ستره برخه جوړوي او **۱۳۷۰** کلونو په وروستیو کې د وچو میوو او بادامو او پستو د خرڅلاو سره د صادراتي عوایدو **۴۰** په سلو کې جوړوي. څاوري او د هغوي محصولات د ملي عوایدو مهمه برخه جوړوي[۵]. په **۱۳۵۷** کال کې افغانستان د خوراکي توکو له پلوه نه یوائې په ځان متکي بلکه د کرهنیزو محصولاتو یو مهم صادرونکي هیواد هم وو[۶].

هماغسې چې افغانستان په ۱۳۸۱ کال کې د انتقالي حکومت له لارې د اوږدې بې ثباتی څخه راووت، سختې وچ کالي د هیواد سویلي او ختیځې کلیوالي سیمې وځپلې او د چینو او څاګانو د وچیدو، د فصلونو د ویجاړیدو او د کرهنیزو ځمکو د کمیدو لامل شو[۷]. دغو شرایطو د څارویو پر سکتور سخته اغیزه کړې ځکه دا سکټور د څارویو د پراخو محصولاتو لپاره پر څرځایونو او طبیعی څرځایونو ډیر متکي ده.

که څه هم چې رپوټونه او ارزوني د شخړو او وچ کالي ګډې اغیزې د افغانستان پر کلیو "ناورین" ګڼي، مګر اوسني معلومات دا وضعیت لا هم خراب ښيي[۸]. ټول کرهنیز فرعي سکټورونه یوشان اغیزمن شوي نه وو، او ځینو یې د نورو په پرتله د ناخوالا په وړاندې ډیر مقاومت کړی.

معلومات څرګندوي چې د کرهنیزو اوبو لرونکو ځمکو کچه د دري میلیونو هکټارو چې د ۱۹۷۰ (۱۳۴۹) کلونو په نیمایی کې وه دوو میلیونو هکټارو ته د **۱۳۲۹** کلونو په نیمایی کې رسیدلې ده. د شورویانو د یرغل په مهال د کلیو څخه د ګڼ شمیر کروندګرو مهاجرت د دې حالت لامل وو[۹]. په **۱۳۸۲** کال کې، سره له دې چې وچ کالي په ځینو سیمو کې خپره وه، د اوبو لرونکو ځمکو د کښت کچه

---

۱ د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنې اداره، "د افغانستان د کرهنی ستراتیژی" (روم: **OAF**، ۳۸۳۱).

۲ رافی ففر او غلام کمال، "د افغانستان د اوبو اطلس" (کابل: **SMIA**، ۳۸۳۱).

۳ آسیایی پرمختیایی بانک، "طبیعی سرچینې د بیارغیدو په حال کې" (مانیلا: آسیایی پرمختیایی بانک، ۳۸۳۱).

۴ نشخواری څاروي پسونه او اوزې په دغه څیړنه کې.

۵ **BDA**، "طبیعی منابع"

۶ **OAF**، "د افغانستان کرهنیزه ستراتیژی"

۷ د اوبولګولو، د اوبو د زیرمو او چاپیریال وزارت، " په دوولسو زیانمنوونکو سویلي ولایتونو کې د وچ کالي بیړني ارزونه " (کابل: د اوبو لګولو، د اوبو د زیرمو او چاپیریال وزارت، ۴۰۰۲).

۸ د ۰۸۹۱ او ۰۹۹۱ کلونو په لړ کې د کرهنې، مالداری یا انسانانو په اړه ډیر لږ موثق معلومات موجود دی. د مرکزی احصائیې د دفتر معلوماتو ته باید یوازې د یوې منبع په توګه وکتل شي.

۹ **OAF**، "د افغانستان کرهنیزه ستراتیژی"

د ۱۹۷۰ کلونو په پرتله اوچته وه. مګر وروسته د دغو ځمکو د کښت کچه د شخړو دمخه دوران درې په څلورمې برخې ته راټیټه شوه.

که چیرې حبوبات (غنم، وریجې، اوربشې او جوار) د خوراکي توکو د شاخص په ډول وګڼو، معلومات ښیي چې په ملي کچه د حبوباتو تولید د شخړو په دوران کې نسبي ارتجاعیت درلود او کلني تولیدات د ۱۹۹۰ (۱۳۶۹) کلونو تر پایه په ټولیز ډول د ۳ میلیونو ټنو په حدود کې وه (د ۱۹۷۰ کلونو د کابو ۷۵ په سلو کې تولیدات). مګر د اسې ښکاري چې د حبوباتو تولید د وچ کالی (۱۳۷۷ – ۱۳۸۱) د اغیزو په وړاندې حساس او حاصلات یې تر ۵۰ په سلو کې ټیټ وه.

د پسونو او اوزو شمیره د بدلون په حال کې وه. د ۱۹۷۰ د پای کلونو او ۱۹۸۰ (۱۳۵۸) کلونو په پیل کې، د کوچنیو ځارویو د ریمه برخه له منځه ولاړه. د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته، په ځینو سیمو کې د شخړو د دوام سره سره، د دوی شمیره د شخړو وړاندې دوران ته پورته شوه. مګر د وچ کالی په کلونو کې، د پسونو او اوزو شمیره په چټکه توګه بیرته راټیټه شوه. په دې وروستیو وختونو کې د دوی شمیره په افغانستان کې د لوړیدو په حال کې ده مګر لا تر اوسه د دوی شمیره د جګړو دمخه دوران شمیرې ته نه ده رسیدلې. همدارنګه، کم ارزښته اوزې (د کورنی مصرف لپاره) د پخوا په پرتله د هیواد د رمو ډیره برخه جوړوي[10]. برعکس، معلومات ښیي چې د شخړو په لومړیو کلونو کې د غواګانو د شمیرې د لویدو سره سره، په ۱۹۹۰ کلونو کې د هغوی شمیره په تدریجی ډول پورته شوه. د بیارغیدو دا بهیر د کوچنیو ځارویو او حبوباتو په پرتله د وچ کالی د اثراتو په وړاندې ډیر لږ حساسیت ښیي.

په ټولیز ډول دا معلومات، که څه هم چې د اعتماد وړ نه دي، ښیي چې څرنګه د کرهنیز اقتصاد بیلي برخي د شخړو، وچ کالي او انسانی بې ځایه کیدو په وړاندې بیل غبرګونونه وښودل. که څه هم چې د حبوباتو د تولید کچه همدا اوس اوس د شخړو دمخه دوران ته رسیدلې، د حاصلاتو ښه والی پدی معنی ده چې د حبوباتو عمومی تولیدات د شخړو دمخه دوران څخه ډیریدای شي. مګر نه د اوبه لرونکو ځمکو ټوله سیمه او نه د کوچنیو ځارویو حاصلاتو کچه د شخړو دمخه دوران ته رسیدلی ده. ورته حالت په ځینو قیمتی میوو لکه بادام، غوزانو، زردآلو او انځرو کی هم لیدل شوي[11]. په نتیجه کې یې، د مهمو صادراتی توکو او د مارکیټ زنځیر هم کمزوری شوی[12].

د طبیعی سرچینو او زراعتی محصولاتو کارونې ته وروستی لیوالتیا باید د هغو خلکو لپاره وي چې دا سرچیني چلووي. د اټکلونو پر بنسټ د ۱۹۷۰ کلونو له وروستیو راهیسې، په ۱۳۸۲ کال کی د افغانستان د وګړو شمیره د ۱۳ میلیونو څخه ۲۹.۵ ۲۴.۵ میلیونو ته لوړه شوې[13]. د ۱۳۸۲ کال د پسرلی یوي څیړني د موسمی بی وزلي کچه ۴۲ په سلو کی ښودلې[14]. د وګړو د شمیر وده او د بی وزلی اټکل شوې لوړه کچه د ځمکی پر مالکیت، غلو دانو باندی ځان بسیاینه، او وارداتی تړاو اغیزې درلودلی شي.

تر هرڅه لومړی، زیاتیدونکي شواهد ښیي چې کلیوالي معیشت پر خالصو کرهنیزو تولیداتو د اتکا څخه راووځي او بی وزلو ته د توافق د ستراتیژۍ یا د شتمنو د شتو د زیاتیدو په بڼه راڅرګندیږي. د ۱۳۸۲ ۱۳۸۳ د کلیوالي معیشت څیړنه دا ښیي چې د کلیوالي کورنیو د تر نیمایي ډیر د غلو له پلوه پر ځان بسیا نه دي، او د دغه ډلوه غټه برخه د اساسی عوایدو لپاره پر غیر کرهنیزو کارونو متکی دي[15]. افغانستان په زیاتیدونکی ډول د خوراکي توکو د کموالي سره مخ

۱۰ د مرکزی احصائیی د دفتر معلومات، "د افغانستان د احصائیو کلنی کتاب" (کابل: د مرکزی احصائیی دفتر، ۵۸۳۱).

۱۱ د احصائیی مرکزی دفتر، "د افغانستان د احصائیو کلنی کتاب."

۱۲ بیا هم، د وچو میوو او خستو صادرات په ډیره کچه د ۰۸۳۱ کال څخه راپدی خوا ډیر شوي او د عمومی صادراتو ۵.۲۲ په سلو کی جوړوی (د احصائیی مرکزی دفتر، "د افغانستان د احصائی کلنی کتاب").

۱۳ دا وړاند ویني د **OAF**، "افغانستان: د ساتونکی ستراتیژی سره مرسته" (روم: **OAF**، ۹۵۳۱). د احصائیی مرکزی دفتر، "د افغانستان تخمینی نفوس ۷۸۳۱ د افغانستان د احصائیی کلنی کتاب" (کابل: د احصائیی مرکزی دفتر)، د ۵۲ میلیونو یو ټیټ رقم ښیي، پداسی حال کی چی د AIC د حقایقو کتاب ۹۰۰۲، **http://www.cia.gov/cia/pbulications/factbook/print/af.html** (د ۸۸۳۱ د چنګابښ ارزونه)، دا رقم ۳۳ میلیونه ښیي.

۱۴ **FMI**، "د افغانستان اسلامی دولت: د بی وزلی د راټیټولو ستراتیژی ګډ مشورتی نوټ،" د ریپورټ شمیره. ۸۰/ ۳۹۱، (واشنګټن: **FMI**، ۷۸۳۱)، ۱.

۱۵ جو ګریس او آدم پین، " د افغانستان د کلیوالی معیشت لپاره نوی سوچ" (کابل: **UERA**، ۳۸۳۱). دغې څیړنې د ۷ ولایاتو د ۱۲ کلیو ۰۹۳ کورنې مطالعه کړې دي. همدارنګه رفی ففر، "کرهنه په افغانستان کی: په افغانستان کی د کلیوالی اقتصاد او د اساسی خوراکی توکو د تولید اساسی جنبي" (کابل: **OAF**، ۲۰۰۲).

دي. حتي په ښه کرهنيز کال لکه ۱۳۸۴، هيواد د حبوباتو د لس په سلو کموالي سره مخ وو[۱۶]. څرنگه چي د سيمه ايز توليداتو کچه د مستهلکينو د غوښتني څخه ټيټه شوه، نو د گڼ شمير توکو توريد ته چې په هيواد کی توليد يدل ليوالتيا مخ پر زياتيدو ده.

د ۱۳۸۴ کال کي د د اوبو مديريت،څارويو او د ترياکو اقتصاد د پروژې د پيل سره سم، گڼ شمير خلک د کلونو شخړو او وچ کالي څخه وروسته خپلو ټاټوبو ته راستانه او په محدودو کرهنيزو سرچينو باندي فشار ډير او بيعدالتي زياته شوه. د ځمکو دوديزو حقوقو له منځه تلل او د ځمکو د دولتي اداري د ميکانيزمونو ويجاړيدل په دي معنی ده چي د ځمکو د اجارې نه خونديتوب په ځينو کليوالي ټولنو کی په يوې ويشونکې موضوع بدله شوې ده[۱۷]. په يوځايي ډول، دغه ستونزي د کليوالي زيانمننې، د ځمکو د استثماري اړيکو، او لږ حاصل سره تړلې دي. معلومات ښيي چې په ديرو سيمو کي کرهنيزې ځمکي کورنيو ته د ډيرعايد د جوړولو لپاره ښايي بسيا نه وي[۱۸].

سره له دې، کله چې د خوراکی توکو کموالی او د سياسی کړکيچ کلونه، اداري کمزورتيا، او د بازار د زنځيرونو ويجاړيدل په ځينو مهمو کرهنيزو حاصلاتو (د مثال په توگه د سبزيجاتو کښت) باندی منفي اغيزه کړې او د دغو شرايطو لاندې د کوکنارو ناقانونه کښت او خرڅلاو ډير شو.

د ملگرو ملتو د مخدره توکو او جرايمو پر وړاندې د مبارزی د دفتر(UNODC) د ۱۳۸۷ کال د افغانستان د کوکنارو د سروې له مخې، افغانستان ۷،۷۰۰ متريک ټنه کوکنار د ۱۵۷۰۰۰ هکتارو ځمکو څخه توليد کړي، چې د نړي د ناقانونه کوکنارو د کښت ۹۰ په سلو کې جوړوي[۱۹]. دغه شميره د ۱۳۸۲ کال د تاريخی ۸۲۰۰ متريک ټنو څخه چې په ۱۹۳۰۰۰ هکتاره ځمکو کی کرل شوي وه، لږدي. سربيره پر دې، د کوکنارو د کښت څخه آزادو ولايتونو شميره په ۱۳۸۲ کال کی د ۱۳ څخه ۱۸ ته لوړه شوې. د هيواد ۹۸ په سلو کی توليدات په ۱۳۸۷ کال کی په اوو سويل لويديزو ولايتونو کی توليد شوي وو. په داسې حال کی چې د کوکنارو کښت په افغانستان کی د کرهنيزو ځمکو يوا ځې دوه په سلو کی برخې لپاره حساب شوې ، چې اقتصادي اغيزې يې ډيرې لوړې دي. گاونډيو هيوادونو ته د کوکنارو د صادراتو کچه د ۱۳۸۴ کال د قانونی خالصو توليداتو د ۳۲ په سلو کې اټکل شوې ده[۲۰]. د اټکلونو پر بنسټ ۲.۴ ميليونه افغان کروندگر د کوکنارو په کښت کی ښکيل او د وگړو د عمومي شميرې لس په سلو کی جوړوي. د افغانانو يوه نامالومه شميره د ترياکو د سوداگری په نورو برخو کې بوخت دي.

د اوبو لرونکو ځمکو د کچي وروستنی موجودي چې په ۱۳۴۲ کال کی ترسره شوي وه، او د د اوبو مديريت،څارويو او د ترياکو اقتصاد پروژې په دې اړه ډير لږ واضح معلومات راټول کړې دي. که څه هم چې د جگړو دمخه دوران د اوبو لگولو د بيخبناوو ډيره برخه (دوديز او مډرن) ژغورل شوي ده، ډيرو سره بی پروايی او پريښودل شوي چې له امله يی د فعاليت کچه يې ډيره خرابه شوې ده. دا شواهد موجود دي چې ښايي د کليو د قدرت په اړيکو کي بدلون د اوبو د دوديز مديريت اداري او د اوبو د ويش په څرنگوالې يې اثر اچولی وي. شواهد ښيي چې په ۱۳۸۴ کال کی، د بيارغونې په برخه کی د ځينو پرمختگونو سره سره، د اوبو لگولو اغيزمنتوب د خپل ظرفيت په نيمايي کچه کی وه[۲۱]. په همدې ډول، د ۱۳۸۲ کال د ملي سروی پر بنسټ، د کرهنې د اوبو نشتون د کرهنې په وړاندې تر ټولو غټه ستونزه جوړوي[۲۲].

۱۶ OAF، "د راتلونکي کال لپاره د افغانستان کرهنيز لرليد " (کابل: د کرهنې اوبو لگولو او مالداری وزارت، ۵۸۳۱)

۱۷ ليز الدين ويلي، د ځمکو حقوق په بحرانی حالت کی: په افغانستان کي د ځمکو د اجاري د امنيت بيا راوستل (کابل: UERA، ۲۸۳۱).

۱۸ آسيايي پرمختيايي بانک، "د افغانستان دولت ته د ځمکو د کړنلاړو او اداري لپاره تخنيکي مرسته" (کابل: آسيايي پرمختيايي بانک، ۳۸۳۱).

۱۹ د د نشه يی توکو او جرمونو په چارو کې د ملگرو ملتونو اداره "د افغانستان د کوکنارو سروی ۷۸۳۱" (کابل: د نشه يی توکو او جرمونو په چارو کې د ملگرو ملتونو اداره ۷۸۳۱).

۲۰ ويليم برد او دوريس بودنبرگ، "افغانستان: د مخدره موادو صنايع او د مخدره موادو پر ضد د مبارزي کړنلاره" (واشتنگتن: نړيوال بانک، ۷۸۳۱، لومړی ځپرکی).

۲۱ د اوبو لگولو، د اوبو د زيرمو او چاپيريال وزارت، "د اوبو لگولو پاليسی" (کابل: د افغانستان اسلامی انتقالی دولت، ۳۸۳۱).

۲۲ د کروندگرو کابو دريمه برخه(۱۳ په سلو کی) د کرهنی د اوبو نشتون د توليداتو په وړاندی

د طبيعي سرچينو د مديريت، کرهنيزو توليداتو او کليوالی معيشت د ۱۳۸۰ کال راپدی خوا د معلوماتو بيا کتنه ښيي چې ستونزې ښايي پخپله معلوماتو کی وي او په ملی سطح د شرايطو دقيقه ارزونه د ستونزو سره مخامخ کوي. که څه هم چې د بدلون اساسی حدود ښايي نا څرګند پاتې وي، اکثره شواهد ښيي چې د افغانستان جګړو، وچ کالی او اداري کمزوری پر کرهنيزو توليداتو ګډې اغيزې لرلي. په همدي دوران کی د وګړو د شمير ډيريدل او د کرهنيز سکتور نسبي کمزورې کيدل د خوراکی موادو خونديتوب، د مزدوري د بازار او اقتصادی بيا رغوني موضوع منځ ته راوړي. د ۱۳۸۰ کال نه وروسته نوښتونو، بيا جوړولو او پرمختيايی کارونو سره د کرهنې تړاو جوت کړ چې وروستی بيلګه يې د افغانستان په ملی پراختيايي ستراتيژی (۱۳۸۷) او د کرهني په ملی پراختيايي کاری چوکاټ په مسوده (۱۳۸۸) کی د کليوالی سکتور د پرمختيايی ستراتيژي شاملول دي. راتلونکي برخه به د پاليسی هغه هڅې چې د د اوبو مديريت، څارويو او د ترياکو اقتصاد د ځيرنې موندنو او د پاليسی وړانديزونو ته به يو کاری چوکاټ برابروي بيا کتنه وکړي.

## ۲.۲ د کرهني او کليوالي پرمختيا اړوند ستراتيژيک پلان او پاليسي جوړونه

### د ۱۳۸۰ کال څخه را وروسته مهم نوښتونه

په ۱۳۸۰ کال کی د طالبانو د را پرځيدو راهيسې، په افغانستان کې ګڼ شمير ملی ستراتيژيک پلانونه په لاره اچول شوي دي. ټولو يې د اقتصادی ودې، د فقر د ټيټولو او ملی امنيت لپاره د کرهنې د سکتور پر اهميت ټينګار کړی. د ملی ستراتيژيو د هغو برخو سربيره چې پر کرهنه متمرکزې دي، د ۱۳۸۴ کال څخه راپدی خوا د کرهنې وزارت د کرهنې ماستر پلان څو ځلې جوړ کړی دی. د کرهنی د مهمو ستراتيژيکو اسنادو لست په دوهم جدول کی د اړوندو نوټونو د لنډيز سره راغلی دی. د اوسنی پاليسی د شرايطو د پوهيدو لپاره، دا رپوټ د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژی د ۱۳۸۷ کال او د کرهنې د پرمختيا ملی کاري چوکاټ (NADF) سکتوری ستراتيژي تر ځيړنې لاندې نيولي دي. د افغانستان ملی پراختيايي ستراتيژي د کرهنې او کليوالی پرمختيا سکتوري ستراتيژي، د اوبو د سرچينو سکتوري ستراتيژي او د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي د د اوبو مديريت، څارويو او د ترياکو اقتصاد د ځيړنې د اجنډا سره ځانګړی تړاو لري ( تر دې وروسته د د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د کرهنې او کليو د پراختيا سکتوري ستراتيژي، د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی د اوبو د سرچينو د سکتور دمديريتستراتيژي او د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي تر نامه به راځي). د افغانستان ملی پراختيايي ستراتيژي د لر ليد او موخو لنډه تشريح دا زمينه برابروي چې د ۱۳۸۵ کال څخه راپدې خوا په افغانستان کی په هغو شرايطو د پوهيدو زمينه برابروي په کوم کې چې ستراتيژيکو پلانونو او کړنلارو وده کړې. دوه مهمو ټکو ته بايد لنډه اشاره وشي: لومړی دا چې د بياجوړولو او پرمختيايی چارو ته په پام سره کړنلاړي په چټکه وده مومي. د پيسو نړيوال صندوق(IMF) او نړيوال بانک د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژی لپاره يې دراتلونکو ګامونو وړانديز کړی دی، او زياته پاملرنه يې د لومړيتوبونو اغيزمن کيدو او د بی وزلی د راټيټولو سره د هغوی د اړيکو په برخه کی ده[۲۳]. د ۱۳۸۷ کال د تلې په مياشت کی د کرهنې وزارت د مشر په توګه د ښاغلی آصف رحيمی (دکليو د پراختيا او بيا رغونې (MRRD) پخوانی معين) د ټاکل کيدو سمدستی وروسته، د کرهنې د پرمختيا ملی کاری چوکاټ مسوده د د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د کرهنې او کليو د پراختيا سکتوري ستراتيژي او د کرهنی مالداری او اوبو لګولو د وزارت د ماسټر پلان له مخی او د ډيرو توپيرونو سره جوړ کړ. د ۱۳۸۸ د زمري د مياشتې د ولسمشری ټاکنې دا امکان برابروي چې نوې لومړيتوبونه او لارې پرانيزي څو د ستراتيژيکو پلان جوړونې اود پاليسی روانو خبرو اترو ته بڼه ورکړي. چې له همدې امله د پاليسی د شرايطو هغه لنډيز چې په دې رپوټ کی وړاندې شوی لنډيز يو سمدستي انځور وړاندې کوي. د پاليسی نوې اسناد به بی له شکه بدلونونه په ګوته کړي.

اساسی خنډ ګڼي. د PFW د نقشه کښلو او ارزونو څانګه او د DRRM د زيانمنيدو او ارزونو څانګه، د افغانستان اسلامي دولت. "د زيانمنيدو د خطر ملی ارزونه، "(کابل: PFW، ۲۸۳۱).

۲۳ **FMI**، " د بی وزلی د راټيټولو ستراتيژی ګډ مشورتی نوټ." د FMI او BW د څيړنو پايلي او سپارښتني ددی برخی په پای کي په تفصيلی توګه وړاندی شوي دي.

دوهم داچې په پای کې ستراتیژي د منظورو شویو سندونو له مخې نه بلکه د هغو پروګرامونو له مخې چې بسپنه اخلي او پلې کیږي، تعیینیږي. په افغانستان کې دا کار د بسپنه ورکونکو له خوا تعیینیږي، په ځانګړې ډول د کرهنې په برخه کې چیرې چې د باندنیو بسپنو کچه د کرهنې اوبو لګولو او مالداری له لارې مصرفیدونکو بسپنو څخه ډیرې دي. نړیوال بانک وایي چې د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي د پلي کیدو متوقعه لګښت به د هغو بسپنو په پرتله چې حکومت هیله لري چې د بسپنه ورکونکو څخه یې تر لاسه کړي[24] دو برابره ډیر وي. له همدې امله د وړاندیز شویو پروګرامونو د لا ډیرو لومړیتوب ورکولو لپاره هڅې روانې دي. دغه دوه ټکې د ستراتیژی د اسنادومحدودیتونه څرګندوي مګر همدارنګه هغه فرصتونه هم په ګوته کوي چې د پالیسی روانې خبرې اترې او د پانګې اچونې د پریکړو سره مرسته کوي. د لومړیتوبو د ټاکلو سخته دنده د راکړې ورکړې زیاتو خبرو اترو او د وړاندیز شویو فعالیتونو د احتمالي اثراتو وړاندیز کوي. د ددې ځیړنې څخه لاس

[24] د پنځو کلونو په موده کې د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی مجموعی بودیجه ۵۰ بلیونه ډالره اټکل شوي، چې ۳۴ بلیونه یې د ډونرانو له خوا ورکول کیږي. نړیوال بانک دا تشویش څرګندوی چې دا د تمه کیدونکو مبلغونو دو برابره ده. همدارنګه لیدل کیږی چې د حکومت لړه ونډه د دغه پروګرام په وړاندی ستره ستونزه ده. ډونرانو د ۷۸۳۱ کال د پاریس په کنفرانس کې د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی لپاره د ۰۲ بلیونو ډالرو ژمنه وکړه. که څه هم چې نوري ژمنې به هم وشي، د نړیوال اقتصاد د ۷۸۳۱ کال د وروستي ربعی کمزوري به په بسپنو خرابه اغیزه وکړي. (سرچینه: FMI او BW، "د بی وزلي د راټیټولو په اړه د ګډ مشورتي بورډ لیکنه، "؛ FMI، "د دری کلن قرارداد لاندی د بی وزلي د راټیټولو او ودی د آسانولو او د کړنو د معیار د لیری کولو غوښتنی څلرمه ارزونه" (واشنګټن: د ختیز او مرکزی آسیا دیپارټمنټ، ۷۸۳۱).

دوهم جدول: د ۲۰۰۲ کال څخه راپدی خوا د کرهنی د ستراتیژی مهم اسناد

| نوم | نیټه | کتني |
|---|---|---|
| د افغانستان د کرهنې او څارویو د پرمختیا ستراتیژي | ۱۳۸۱ | د ملی پرمختیایي کاري چوکاټ د دریمي ستني لاندې: فزیکی بیا رغونه او طبیعی سرچینې. د طالبانو د را پرځیدو څخه وروسته سمدستی لیکل شوی. |
| د افغانستان د کرهنې او طبیعی زیرمو د سکتور د بیارغونې د پالیسی او ستراتیژي کاری چوکاټ | د ۱۳۸۲ کال د مرغومې میاشت | د "د افغانستان د راتلونکې خوندي کول" یوه برخه، بسپنه د آسیایی پرمختیایی بانک. د ۱۳۸۳ کال د غبرګولې د میاشتې منظوري. |
| د کرهنې، مالداری او خوړو د وزارت(MAAHF)ماسټر پلان | د ۱۳۸۴ کال د کب میاشت | د څو ډونرانو په غوښتنه چې په دغه سکتور کې د پانګو اچونو لارښوونه وکړي. د ۱۳۸۳ کال د ستراتیژی پر بنسټ چې په پورته کې یې لیست موجود دی جوړ شوی. د وزارت کارکونکې یې په جوړولو کی پراخه ونډه درلوده. |
| د افغانستان ملي پراختیایی ستراتیژي: د کرهنې ستراتیژی | د ۱۳۸۲ کال د کب میاشت | د د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری د وزارت له خوا جوړه شوی. په پای کی یی ځای د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی د ۱۳۸۷ کال د کرهنې او کلیو د پراختیا ستراتیژی ونیو. |
| د د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری ماسټر پلان: د اوو پروګرامونو د پلي کیدو او پانګه اچوني پلان | د ۱۳۸۲ کال د وری میاشت | د ۱۳۸۴ کال د ماسټر پلان له مخې جوړ او د ۱۰ پاڼو لرونکی سند او سرلیک یې "د افغانستان د کرهنې د اقتصاد بیارغونه: د بریالیتوب لپاره اوه پروګرامونه، "دی، چی د ۱۳۸۵ کال په تله کی جوړ شوی. ځای یی په ۱۳۸۸ کال کې د کرهنې د پراختیا ملی کاری چوکاټ ونیو. |
| د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي د کرهنی او کلیو د پرمختیا سکتوری ستراتیژی -۱۳۸۷ ۱۳۹۱ (-۲۰۰۸ ۲۰۱۳) | د ۱۳۸۲ کال د سلواغې میاشت | د د کرهنې، اوبو لګولو ، مالداری او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا د وزارتونو له خوا په ګډه جوړ شوی. د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی د ولسمشر حامد کرزي او د هغه د کابینې له خوا د ۱۳۸۷ کال د غویي په دوهمه نیټه منظور او د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک ته د افغانستان د بی وزلی د راټیټولو د ستراتیژی په توګه وړاندی شوه. |
| د کرهنې د پراختیا کاری چوکاټ | د ۱۳۸۸ کال د وري (مسوده) | د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری د وزارت له خوا جوړ شوی. "اوه پروګرامونه" په څلورو برخو کې سره یوځای کوي او د بی وزلی د راټیټولو د موخو تر منځ اړیکې غښتلې کوي. |

ته راغلې شواهد  په اوسني پړاو کې د افغانستان د بیاجوړونې او پرمختیا د مرحلې هڅو پورې اړوندې دي ، او د بې وزلو په ګټه د ستراتیژۍ د سکتور د عناصرو د پیاوړې کولو لپاره روانې هڅې ، د لومړیتوبونو د پیژندلو او پلې کېدو تفصیلي لارې چارې ګړندې کوي.

## د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي

### د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي لرلید

د **۱۳۸۵** کال په پیل کې، د افغانستان د حکومت، ملګرو ملتونو او نړیوالی ټولنې استازې د لندن په کنفرانس کی راغونډ او افغانستان لپاره د نړیوالی همکاری یو پنځه کلن کاری چوکاټ جوړ کړ. ددې کنفرانس پایله چې د افغانستان تړون  وو،  چې د مهال ویش پر بنسټ د افغانستان د زریزې پراختیایي  موخو د پلې کېدو لپاره د ګډون والو یوه سیاسي ژمنه وه. دغه موخې د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ او د هغه د څارنیز او ارزونکې کاری چوکاټ سره یوځای شوې وو.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام(UNDP) پر بنسټ، د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ  د بهیر اساسی موخه د " د بې وزلو په ګټه د داسي یوې ستراتیژۍ جوړول او پلی کول وو چې لګښت لرونکی، لومړیتوب ورکړل شوې وي، تسلسل اود بودیجې درلودونکې وي او د بې وزلۍ په وړاندې د مبارزې لومړیتوبونه په ملی او ولایتی کچه او په پراخ ټولیز اتفاق منعکسې کړي. "[۲۵]. د افغانستان د حکومت لپاره دوهمه موخه دا وه چې د پیسو د نړیوال صندوق د ډیرو بې وزلو او پوروړو هیوادو د پور د بښلو د نوښت لپاره چمتو شي او د بې وزلۍ د کچې د راټیټولو د ستراتیژۍ (PRSP ) لپاره د پیسو د نړیوال صندوق شرایط پوره کړي. د پیسو د نړیوال صندوق پر بنسټ: د بې وزلی د راټیټولو ستراتیژۍ باید: هیوادنۍ وي ، د مدنی ټولنی د پراخ ګډون له لارې د ملی  مالکیت وده؛ پر هغو پایلو تمرکزولري چې بې وزلو خلکو ته ګټه ورسوي، د بې وزلی

د طبیعت او څو ګونو اړخونو  هر اړخیزه پېژندنه، د ګډون پر بنسټ، د پرمختیایي شریکانو همغږی شوی ګډون(دولت، کورنۍ اړوندې اداري ، او بهرنیبسپنه ورکونکې )، او د بې وزلي د راټیټولو اوږد مهاله لرلید[۲۶].

وروسته تر دې چې د **۱۳۸۷** کال په وري کی کابینې د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ سند منظورکړ، د افغانستان دولت هغه نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق ته د بیا کتنې لپاره وړاندې کړه. دې سره جوغت، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ته دنده وسپارل شوه چې په سیمه ایزه کچه د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي تشریح کړي.

لاندې د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ د سکتوری ستراتیژیو او مهمو کرهنیزو ستراتیژو  د اسنادومهمې برخې چې د دغې څیړنې د پایلو او سپارښتنو اساس جوړوي، وړاندې شوي.

### د کرهنې او کلیو  د پراختیا اړوندې ستراتیژۍ مهم ټکې

د کرهنې او کلیو د پرمختیا لپاره د دولت اساسی ستراتیژیک سندونه د **۱۳۸۲** کال د سلواغې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي چې د کرهنې، اوبو لګولومالداری او د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارتونو  له خوا په ګډه جوړ، او د **۱۳۸۸** کال د وری د میاشتې د کرهنې د پراختیا د ملی کاری چوکاټ مسوده  چې د کرهنې اوبو لګولو او مالداری د وزارت له خوا جوړ شوې، دي.

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي دري اساسی ځانګړتیاوی لري: د لوبې سوداګریزې کرهنې له لارې د بازار لپاره پر تولید ټینګار، د لومړنیو خوراکي توکو بې ارزښته ښودل؛ د کرهنې او کلیو د پراختیا د لوړ ظرفیت لرونکو زونونو سره د جغرافیایي موخو له لارې مرسته؛ او د کرهنې او د کلیود پراختیا د هر اړخیزو نوښتونو د همغږۍ له لارې. دا پنځه برخې لري: سیمه ایزه اداره، کرهنیز تولیدات، کلیوالی او

---

۲۵ دملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، "د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پروژې لنډیز"، ویب سایټ د ۸۰۰۲ کال په ډسمبر کی تجدید شوی، www.undp.org.af/WhoWeAre/UNDPinAfghanistan/Projects (د ۸۸۳۱ کال۹ د غویي د میاشتې په ۲ د لاس رسي وړ شوه).

۲۶ FMI، "PSRP د حقایقو پاڼه" www.imf.org/external/NP/prsp/prsp.asp (ویب سایټ د ۸۸۳۱ کال په وري میاشت کی نوی شو).

کرهنیزه زیربنا، اقتصادي بیارغونه او د ناورینونو او بیړنیو حالاتو په وړاندې چمتوالی.

د ستراتیژۍ د کرهنیزو تولیداتو او اقتصادي بیا رغونې عناصر پر بازار ډېر متمرکزه دي، او موخه یې دا ده چې کروندګر د لومړنیو خوراکي توکو د کښت څخه د ډیرونکې تخصصي کرهنیزو سیستمونو خوا ته وکاږي او پراخې ځمکې په تجارتي ځمکو واړوي او وروسته د متوسطو او غټو کرهنیزو تولیدونکو او وړاندې کونکو پانګه جلب کړي. دا ستراتیژۍ وایي:

د پراخې سودا ګریزې کرهنې د هڅونې ګټې دا دي چې د پانګه اچوونکو او معامله کونکو سوداګرو( هغه سوداګر چې داحتمالي ګواښونو په منلو سره خپله پانګه په کار اچوي) په لاربښوونه چې مهمې سرچینې راوړي چې د ډېرې سرچینو او بازار سره اړیکې لري او پدې موقف کې دي چې: (۱) ګټه ور فرصتونه وپیژني، (۲) کیفیت لرونکو موادو، ټکنالوژۍ او بازارونو ته لاس رسی پراخوي، (۳) د زیاتو موادود پیرودو له امله ټیټ لګښت ، (۴) د تولیدی قراردادونو له لارې د ګواښ ټیټه کچه ، (۵) د اعتبارپراخوالی او پراخ خدمتونه ، (۶) د متحدو سیمه ایزوصنایعو د ودې لپاره د آسانتیاوو برابرول، (۷) د دکیفیت د کنترول د خدمتونو وړاندې کول. سربیره پر دې، د پراخې سوداګریزې کرهنې وده د دندو د پیدا کیدو او د کوچنیو او منځنیو کلیوالومولدینو، وړاندې کونکو، سوداګرو او نورو پانګه اچونکو د عوایدو د لوړیدو لامل کیږي. د پراخې کرهنې پانګه اچونه د ښودلو غښتلې اغیزې لري او نور هڅوی چې لاهم بریالی لارې چارې ومومي. تجربو ښودلې ده چې د سمیېزو بازارونو او کروندګرو د توان وده د تولیداتو په لوړولو او بازار ته د هغوی په لیږدولو په تولیدي بهیر او تولیداتو کې د پانګو د جلبولو او د عوایدو د اوچتیدو مهم عناصر بلل کیږي، دا به ځیني کوچني په خپله د معیشت جوړونکې کروندګرو توانوي چې نیم تشدیدی/ نیم تخصصي کرهنیز سیستمونو ته مخه کړي اوتکیه یې د تریاکو پر کښت لږ شي.[۲۷]

د تجارتي کرهنې او بې وزلو د ودې تر منځ اړیکه په وروستیو جملو او همدا راز په هغه تمو کې ځرګنده شوې چې تجارتي کرهنه یې کولای شي او ډېرو کلیوالو ته به ګټور پریوځي. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي غواړي چې عادي تولیدات کم اهمیته او د بې وزلۍ او زیانمنیدو په سترګه ورته وګوري: "عادي یا نیمه عادي کرهنه کابو هیڅ عاید نه جوړوي، د کلیوالې بېوزلۍ دوران تل پاتې کوي او کلیوالې کورنۍ د ناوورینونو پر وړاندې د پراخې زیانمنې سره مخامخ کوي."[۲۸]

د اصلي بازارونو کرهنې او کلیو پنځه پرمختیایي زونونه پیژندل شوي چې په هغو بازارونو کې موقعیت لري چې د ودې لپاره ډېر مساعد دي (مزار شریف، کندز، کابل، کندهار، او هرات). د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي نیت دا دی چې په دغو زونونو کې پر عامه او خصوصي سکتور پرپانګو تمرکز وکړي او د دغو زونونو د ودې لپاره مهمې زیربناوې لکه بریښنا، اوبه، ترانسپورټ، مخابرات، مالي خدمتونه، او مسلکي روزنیز پروګرامونه برابر شي او په دې توګه تولیداتو کې به ډیروالی راشي. سربیره پر دې، ارزښت لرونکې سیالي کونکې زنځیرونه په نښه او هغو نښلوونکو له لارې کار وشي چې دا زنځیرونه چلوي. دا ستراتیژۍ سبزیجات، میووي او مغزیات، ځاروي او د ځارویو لپاره واښه د ډیرو ګټه ورو تولیداتو په توګه وپیژني. د دغو لارو تر مینځ اړیکې چې د کرهنې د زونونو پر لومړیتوبونو ټول اقدامات متمرکزوي او د بې وزلو په ګټه ودې ته ژمن وي څو "داسې پلانونه جوړ شي چې کرهنیز زونونه لیرې پرتو کلیوالي سیمو ته ورسیږي"، همدا راز دا هم وړاندیز کوي چې دا سیمې باید خپل وار ته سترګې په لار اوسي. د لیرې پرتو کلیوالي سیمو د ډیروالي له امله، دا ډول لومړیتوب ورکول کیدای شي ستونزمن ثابت شي، د کرهنې ملي پرمختیایي کاري چوکاټ دا بهیر بیرته معکوسوي اوموخه یې دا ده چې د لوړې ودې د ظرفیت درلودونکې سیمې اوهغه سیمې چې د لاس رسې لپاره د ننګونو

[۲۷] د افغانستان جمهوریت، "د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ د کرهنې او کلیو د پرمختیا سکتوری ستراتیژۍ، "(کابل: د افغانستان حکومت، ۷۸۳۱)، ۹۲.

[۲۸] د افغانستان جمهوریت، "د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ د کرهنې او کلیو د پرمختیا سکتوری ستراتیژۍ، "۹۲.

سره مخامخ دي پکې شاملې کړي.

CARD د وزارتونو تر منځ د همغږۍ د یو میکانیزم په توګه تشریح شوی چې په ملی، ولایتی او د ولسوالیو په کچه به فعاله وي څو د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي پلی کړي. همدارنګه دا هم تشریح شوي چې " د کلیوالو ټولنود ډیرو بیوزلو اوزیانمنونکوبرخوسره د مرستې لپاره یو لړ پروګرامونه طرح شوې دي ". د پنځه لسو پروګرامونو یو لست او د اوو څخه د شپږو پروګرامونو لست د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ په ماسټر پلان او د کلیو دبیا رغونې او پراختیا د وزارت په مهمو پروګرامونو کې راځي.[۲۹] د ملي پیوستون د پروګرام ( NSP ) د CARD د اساسی پروګرام په توګه په لیست کې شامل دی، ځکه د ملي پیوستون د پروګرام لاندی ۲۱۷۶۷[۳۰] ټولنیز پرمختیایي شوراګاني جوړې شوي او تمه کیږي چې د ټولنې په کچه د پراختیا یي مرستو لپاره د اړوندو وزارتونو او بسپنه ورکړل شویو پروژو له خوا به د اړیکو مهم ټکی وي. د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي د تسوید څخه وروسته د CARD مفهوم لاهم پراخ شوی دی. د ډیرو کرهنیزو پالیسیو د اسنادو معمولي برخې دا دي: د کروندګرو د موسسو لپاره ملاتړ او د نویو، ارزانه ټکنالوجیو پیژندل چې د وړو کروندګرو سره د حاصلاتو په تنوع او د څارویو په تولیداتو کې مرسته وکړي، د خوراکی توکو خوندیتوب، او د غوښتنې سره سم د نیمه تشدیدي تولیداتو لو رته په هغو سیمو کې چې هلته ښه تعریف شوي مارکیټونه شته مخه وکړي. په باالقوه فعالیتونو کی د سبزیجاتو باغونه، د میوو کوچني باغونه، د څارویو د حالت ښه والی، د کورونو تر شا د چرګانو تولید، په پراخ ډول د پسو او اوزو روزنه، د وړیو تولید د کشمیرۍ راټولول او پروسس، او د خصوصي

۲۹ د د کرهنې اوبو لګولو او مالداری وزارت پروګرامونه: خوراکی امنیت، بهوالي، څارويې، د اوبو لګولو زیربنا، د طبیعی سرچینو اداره، او د ظرفیتونو لوړول. د DRRM پروګرامونه: د ملی یووالي پروګرام، ملی پرمختګ، کلیو ته ملی لاس رسي، کلیو ته د اوبو رسول او حفظ الصحه، ملی څارنیز سیستم، د کلیو د تشبثاتو پرمختیا، د کلیو بریښنا، او د بیړنیو حالاتو په وړاندی غبرګون.

۳۰ د PSN پایلي: د ۷۸۳۱ کال د جدی د ۰۳ شاخصونه او لاس ته راوړني (د ۸۸۳۱ کال د مرغومي ۰۳). http://www.nspafghanistan.org/reports_and_publications (د ۸۸۳۱ کال په غبرګولې کی د لاس رسي وړ شو).

وترنري خدمتونو د سیمه ایزو واحدونو پراختیا شامل دي.

چیرې چې نیمه تشدیدي یا نیمه تخصصي کرهنه شونی وي، د مرستي موخه به د څارویو د محصولاتو تولید او اغیزمنتوب ته پراختیا ورکول او د بهوالی صادراتو وده ورکول وي. په لوړ ظرفیت لرونکو فرعي سکتورونو کی د لبنیاتو پر شاملولو تمرکز (د نسل اخیستلو د پروګرامونو، د خوراکي توکو ژرندي، د شیدو د راټولو پروژي)، د چرګانو د سوداګریزې روزنی شرکت چې د کورنی مرغانو د روزنی سره تړاو ولری (د مورني نسل د کیفیت د کنټرول او خوراکی توکو د ژرندو، د چورګوړو د روزلو، او layer او broiler واحدونه)، د وړیو او کشمیرۍ ریښکی (د نسل نیولو د پروګرامونو، ژمنی تغذیه، د تغذیوی ځایونو جوړول، مسلخونه، د څرځایونو نقشه کول، او د څرځایونو مدیریت، او میووي (د باغونو د جوړولو، پروسس او بسته بندی له لاري). د ۱۳۸۷ کال د تلې په میاشت کی د کرهنې د نوې وزیر په راتګ سره د وروستیو ستراتیژیو بیا کتنه یې و هڅوله او د کرهنې د پراختیا ملي کاري چوکاټ د جوړولو کار پیل شو تر څو د کرهنې اوبو لګولو مالداری او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې، د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي او لومړني ماسټرپلان برخې اصلاح او ساده کړي. په د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي کی وړاندیز شوي ډیري لاری چاري په نوې کاري چوکاټ کی ځای پر ځاي شوې. مګر د ۱۳۸۸ کال د وري د میاشتې د کرهنې د پراختیا ملي کاري چوکاټ مسودې څخه دا سې څرګندیږي چې د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي په پرتله بی وزلو ته ډیرې ځانګړې مرستې وړاندې کوي. په پاي کی څرنګه چې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژی په عمومي اسنادو کی په وضاحت سره څرګنده ده چې د بیوزلو سره پرته له کوم ځانګړې ژمنې نه مرسته کوي.[۳۱]

**نوی کاري چوکاټ د لاندې څخه پورته، پراخه، او سکټوري لارې ته ژمن دی.**

۳۱ پاولا کانتور، آدم پین، د بی وزلی راټیټول: د بی وزلو لپاره د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی د پلي کیدو پایلي، (کابل: UERA، ۸۸۳۱).

دا پروګرام به د یو ډېر شمیر اړخونو سره چې د کرهنیز ګټه ورزنځیر د بیلابیلو پړاوونو کې ښکیل دي، کار وکړي او پکښې د بیلو اندازو لرونکی تولیدی موسسات (کوچني پانګه وال، SMEs او لوي شرکتونه)، او همدارنګه پانګه اچوونکي، تولیدونکي، سوداګر، او پیرودونکي شامل دي.[۳۲]

منځني کروندګر (هغوي چې د یوه نه تر ۵۰ هکتاره اوبه لرونکې ځمکې لري) د کرهنی د دوامداره ودې د ملا تیر جوړوي چې د شواهدو پر پنسټ او س مهال د هیواد د کرهنیزو محصولاتو ۸۰ تر ۹۰ په سلو کې تولیدوي او په افغانستان کی د جغرافیایی ستونزو له امله په ډېرو ولایتونو کی پراخه سوداګریزه کرهنه محدوده ده.[۳۳]

داسې ښکاري چې د عدالت یا حد اقل د لاس ته راغلو ګټود پراخه ویش لپاره ستړې اندیښنې شته دي. حکومت ډېر ځله په دې ژمن دی چی ګوښه شوي، زیانمنوونکي او بی وزله خلک، د کوچیانو[۳۴]، ښځو، او د لیری پرتو، کم سرچینو او للمي سیمو د کورنیو په ګډون، د کلیو د پرمختیایي نوښتونو ځخه ګټه واخلي. همدا راز دا کاري چوکاټ دا هم په نښه کوي چې په کلیو کی د بی وزلی د راټیټولو لپاره د کارونو منځ ته راوړل، په ځانګړی ډول بی ځمکو او کوچنیو کروندګرو ته، د ډېر اهمیت وړ دي.

مساعدو سیمو ته پر مرستو تمرکز (محلی مارکیټونو ته نږدی) له مینځه تللی. داسې ژبه به ونه موندل شي چې لیرې پرتي سیمي به د ټیټ لومړیتوب لرونکو سیمو په توګه وپیژني. د هغه پر ځای، نوی کاري چوکاټ په افغانستان کی د اوو کرهنیزو ایکولوژیکو زونونو جوړول غواړي، تر څو فرصتونه او ستونزې په ګوته او د کلیوالی

۳۲ د افغانستان جمهوریت، "د کرهنی ملی پرمختیایي پلان: د اقتصادی بیا رغوني پروګرام "(کابل: د افغانستان حکومت، ۷۸۳۱)، ۲.

۳۳ د افغانستان جمهوریت، "د اقتصادی بیا رغوني پروګرام، " ۹.

۳۴ د د کرهنې ملي پراختیایي کاري چوکاټ د کوچیانو د ملاتړ پروګرام دا وایي چی لږ مهاجرت او نیمه میشته کیدو خواته د افغانستان د ختیزو، لویدېزو او شمالی سیمو د کوچینانو بهیر ته په کتو سره د کوچیانو بیلابیلو معیشتی سیستمونو لپاره بیلابیلي ستراتیژي باید جوړې شي. له همدی امله د هغو کوچیانو تر منځ چی مهاجرتی ژوند ته دوام ورکوي، او هغوي چی نیمه میشته او بیلابیل معیشتی سیستمونه غواړی، باید توپیر وشي. د مهاجرو کوچیانو تر منځ، د هغو ت منځ چی د ولایتونو تر منځ ډیر واټن او لږ واټن وهي، هم باید توپیر وشي.

معیشت سره مرسته وشي او په پای کی سمولاروچارو ته وده ورکړل شي. لکه چې پخوا هم وویل شو، په سیمو کې د فعالیتونو د لومړیتوبونو لپاره ایکولوژیک، فزیکی زیربنا او ټولنیز فکتورونه باید په پام کی ونیول شي.

د پروګرامونو او فرعي پروګرامونو په کچه، د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتوري ستراتیژي د ستراتیژۍ، د کرهنې اوبو لګولو او مالداری د ماسټر پلان، او د کرهنې د پراختیا ملي کاري چوکاټ تر منځ ځینې د پام وړ توپیرونه شته دي او دیو کلک ټینګار سره پر: د طبیعی سرچینو د مدیریت، کرهنیزو محصولاتو او اقتصادی ودې تر منځ د اړیکو منځ ته راوړل، تر څو خوراکی خوندیتوب او اقتصادی وده تامین، د خوراکی کړکیچونو په وخت کی د حبوباتو حاصلات، په ځانګړی ډول غنم(د افغانستان اساسی خوراکی توکی) لوړ، د غوړو لرونکو تخمونو او نور صنعتی محصولاتو ته وده ورکړل شي، په ځانګړې توګه هغه چې د څارویو د خوراک لپاره کارول کیږي، د څارویو د سکټور ځخه ملاتړ، د طبیعی سرچینو ښه اداره، د تنوع آسانتیاوې او د کروندګرو پر وړاندې د ګواښونو د کمولونورې ستراتیژۍ، او کرهنیزو پورونو ته لاس رسي پراخه شي. سربیره پر دې، د کرهنې اوبو لګولو او مالداری د وزارت کاري ظرفیت په مرکزی او ولایتی کچه د لوړولو بهیر د عامه سکتور وندې ته په پام سره، چټک شي.

## د ځمکو د ثبت د ستراتیژۍ مهمې برخې

حکومت دی ته ژمن دی چې هغه ګامونه پلې کړي څو د مالکیت د حقوقو د جوتولو، د مالکیت د انتقال د پړاوونو د آسانه کولو، او اوږد مهاله اجاري له لاری لاس رسي آسانه کړي. په ۱۳۸۲ کال کی، د ځمکو د ملی کړنلارې مسوده د منظوری لپاره عدلیی وزارت ته وړاندې شوه او ځمکو د راجستریشن او د ځمکو ځخه راپورته شویو شخړو د حل او فصل د ښه والی لپاره هڅې روانې دي، چې د ځمکو د ټولنې پر پنسټ د ځمکې د اداري سیستمونو جوړیدل یو له دغو کارونو ځخه دی.[۳۵] د اوبو د سرچینو د مدیریت د ستراتیژۍ مهم

۳۵ د ځمکو د راجستریشن مسله د "د سالمي اداري، عامه اداری، او بشری حقوقو ستراتیژی" چی د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی د " ښه اداري" برخه ده، مطرح شوي ده.

ټکي حکومت د پنځو مهمو سيندونو د ډنډونو پر بنسټ، د اوبو د سرچينو د يو ټوته مديريت د جوړولو تکل لري. دا به يو تشکيلاتي لوی بدلون وي. له تاريخي پلوه، د اوبو مديريت مات مات (د بيلابيلو غوښتنو لرونکو وزارتونو تر منځ) او د اداري سرحداتو پر ځای پر طبيعي سرحداتو ولاړه ده.

په پای کی به د سيندونو د ډنډ اداري به جوړي او د هر سيند د اوبو د سرچينو مديريت مسووليت به د هغه سره سم وسپارل شي، احتمالاً فرعي ډنډ ته. يوه آزمايښتي پروژه اوس مهال دا کار د آمو د سيند په ډنډ کې پلې کوي. د اوبو د کارونکو ټولنی ته به هم پراخ مسووليتونه ورکړل شي. په عين وخت کی، پلانونه او د پلی کيدو چاري به په کابل کی متمرکزې وي. د وزارتونو تر منځ او د بسپنه ورکونکو سره د همغږی لپاره به د اوبو د چارو د مديريت عالی شورا (SCWAM) او ګډ تخنيکی سکرټريت جوړ شي.

د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د اوبو د سرچينو د سکتور د مديريت ستراتيژي د ۱۳۸۵ کال د "اوبو د سکټور لپاره د ستراتيژيکې کړنلارې کاري چوکاټ" چی د اوبو د چارو د مديريت عالي شورا له خوا منظور شوی، د حکومت د اوبو اساسی پاليسي بولي.[۳۶] دا کاري چوکاټ تفصيلی پلليسی نلري مګر د کړنلاړو او مقرراتو د لا پرمختيا زمينه برابروي. د اوبو اصلاح شوی قانون[۳۷] د ۱۳۸۷ کال په غبرګولي کی بيا کتنې ته وړاندې شو او څلور مقرري د سيندونو د ډنډ د ادارو(شورا ګانې او موسسي)، د اوبو د کارونکو ټولنې، او اجازه نامي او جوازونه – په کې موجود دي. راتلونکي پاليسۍ او مقررات به پر اوبو لګولو، د ځمکی لاندی اوبو، د اوبو ځخه لاس ته راغلي بريښنا پر ودې، او د ښاری او کليوالی اوبو پر زيرمو او حفظ الصحی متمرکزې وي. د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د اوبو د سرچينو د سکتور د مديريت ستراتيژي داسې يادونه کوي چې د اوبو د کارونکو ټولنې به د هيواد په ډيرو برخو کی دوديز ميکانېزمونه چې له ډيره وخته کار تری نه دی اخيستل شوی، بدل کړي. دلته هدف ميرآب يا داوبو مشر دی، هغه کس چې د کروندګرو له خوا (د اوبو د ټيټو سيمو) د کانالونو د پاکولو، د اوبو د ويش د څارنې او د حکومتی چارواکو سره د اړيکو د ساتلو لپاره ټاکل کيده. وروسته دا جوتوي چې هغه دوديز سيستمونه چې په سمه فعاليت کوي، پياوړې به شي او په قانونی ډول به وپيژندل شي. د اړتيا په صورت کی، به د اوبو د کارونکو نوي ټولنې جوړې شي.

دَ افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د اوبو د سرچينو د سکتور د مديريت ستراتيژي د کليوالی معيشت اړوندې د اوبو څو مهمې پاليسۍ راپيژني. د بيلګې په توګه د اوبو د سرچينو په مديريت او پلان جوړولو کی د اړوندو خواوو فعال ګډون لپاره د اغيزمنو ميکانيزمونو جوړول، د اوبو په سر سياليو کې انډول راوستل (د خوراکی او صنعتی توکو لپاره اوبه، د کورني اړتيا لپاره، حفظ الصحه، صنايع، د سيلابونو کنټرول، د اوبو ځخه لاس ته راغلی بريښنا او چاپيريال)، د اوبو د مستفدينو تر منځ د عادلانه ويش زمينه (په ځانګړی ډول د لوړو او ټيټو سيمو د اوبو کارونکو تر منځ او اوبو ته د ښځو ښه لاس رسي) او د شخړو د حل او فصل د ميکانيزمونو جوړول. د دغو ملاتړ کونکو پاليسيو او پلی کوونکي لاري چاري بايد تر اوسه جوړي يا نهايي شوې وې.

دا ستراتيژي غواړي چې پر معيشت ولاړ د د اوبو د سرچينو يو ټوټه مديريت يوه داسي لارې ته وده ورکړي چې د بی وزلی په راټيټولو ټينګار وکړي. که څه هم چی روښانه نه ده، دا ستراتيژي د اوبو د لګښت او د اوبو د رسولو د خدماتو د لګښت تر منځ توپير را مينځ ته کړي تر څو د زيربنا د جوړلو يا بيا رغوني او عملياتو او ساتنی لګښتونه پوره کړي. دا تفسير د اوبو د قانون د مسودې سره سمون لري، چې وايي: "اوبه وړيا دي، مګر د پانګي اچولو او د اوبو رسولو خدمتونه، زيرمه کولو، د اوبو انتقال، د اوبو منحرفول، او ساتنی د خدماتو لګښتونه به د خدمتونو د رسوونکې له خوا اخيستل کيږي (۷ ماده). د ستراتيژی په پخوانيو مسودو کی راغلی قيمتونه ټول ايستل شوي، مګر اوږد مهاله موخه "د اوبو د خدمتونو ټول لګښت به د اوبو د کارونکو په غاړه وي" هماغسې

۳۶ د افغانستان د انرژی او اوبو وزارت، "د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژی: د اوبو د مديريت سکټوری ستراټيژی" (کابل: د انرژی او اوبو وزارت، ۷۸۳۱).

۳۷ په دی رساله کی د اوبو د تسويد شوی قانون ماخذ د OAF د ۸۸۳۱ کال د مرغومې د نارسمي ژباړي له مخی اخيستل شوي.

پر ځای ده. وروستي احکام د اوبو لګولو په پروژو او ساتنیزو خدماتو کې د خصوصي سکتور ګډون ته لاره پرانیزي. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د اوبو د سرچینو د سکتور د مدیریت ستراتیژي او د اوبو تسوید شوی قانون (۲ ماده) دا وایي چې اوبه په ترتیب سره یو "عامه توکی" او "عامه شتمني" ده. که څه هم چې دا ماده "خصوصي مالکیت" نه مني، خو د اوبو خصوصي حقوق د اجازه نامو او جوازونو له لارې د ځمکې لاندې او سطحي اوبو کارونې ته لاره پرانیزي (۲۱ ماده). د اوبو کارونکو نه به غوښتنه کیږي چې د راویستل شویو اوبو او فضله اوبو د اندازې د ټاکلو لپاره یوه د اندازه کولو دستګاه ځای پر ځای کړي (۲۲ ماده). د اوبو اوسنۍ دودیز حق به په تدریجي ډول د جوازونو سره به و پیژندل شي (۲۰ ماده). د جوړیدو په صورت کې، د اوبو کارونکې ټولنې به په خپلو کانالونو کې د اوبو د ویش د سر پرستی مسوولیت ولري. د غوښتنې په صورت کې به دا مسوولیت میرآب ته و سپارل شي. د اوبو د کارونکو ټولنې قواعد، مسوولیتونه او صلاحیتونه به د کارونکو د ټولنې د اساسنامې له مخی تنظیمیږي. دا روښانه نه ده چې آیا ټولو د اوبو کارونکو ټولنو لپاره به یوه اساسنامه جوړه شي، یا پخپله د اوبو کارونکو ټولنې به د خپلو اساسنامو د جوړولو صلاحیت ولري (۱۸ ماده).

د شخړو د حل او فصل مسوولیت د لاندې څخه پورته سیستم له لارې به مخ ته ځي، څرنګه چې سیمه ایزې شخړې به په لومړي سر کې د اوبو د کارونکو ټولنې ته او د اړتیا په صورت کې لوړ پوړو مراجعو ته ورځي. په دغو مراجعو کې د فرعي ډنډونو شورا، د سیند د ډنډ شورا، د اوبو او انرژۍ وزارت (MEW)، او د محکمو سیستم شامل دي. په هغو سیمو کې چې د اوبو د کارونکو ټولنې او شورا ګانې لا تر اوسه شتون ونلري، شخړې به د سیند د ډنډ د سازمانونو یا د اوبو د مدیریت د دفتر له خوا حل او فصل کیږي (چې منظور یې د اوبو او انرژۍ د وزارت ولایتي دفترونه دي) (۳۴ ماده).

سر بیره پر دې د اوبو د پالیسۍ د اسنادو تر څنګ چې دمخه پرې بحث شوی، د ۱۳۸۸ کال د کرهنې د پراختیا ملي کاري چوکاټ د اوبو لګولو یو فرعي پروګرام لري. د اوبو د تسوید شوې قانون د ۱۱ مادې سره په سمون کې، د کرهنې مالدارۍ او اوبو لګولو وزارت به د اوبو د ویش او هغو زیربنا وو لکه لومړني، ثانوي او ثالثو کانالونو، د مدخلونو، د اوبو د کنټرول جوړښتونو او بندونو د بیارغونې د همغږۍ مسوولیت به په غاړه ولري. د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت به همدارنګه د اوبو د کارونکو د ټولنې د جوړیدو او د اوبو لګولو د زیربنا په پلان جوړونه کې د هغوی د ګډون د څارنې مسوولیت ولري. د اوبو او انرژۍ وزارت به د اوبو د کارونکو د ټولنو د ثپتولو او د هغوی د ظرفیت لوړولو د چارو همغږۍ په غاړه واخلي. (۱۸ماده)

په ملي کچه د اوبو لګولو د اوسنی زیربنا د نقشو ایستلو، او د بیارغونې د لومړیتوبونو د پیژندنې د موخې سره، وړاندیز شوې دی. سربیره پر دې، د کرهنې مالدارۍ او اوبو لګولو په وزارت کې دننه د یوه همغږۍ کونکې واحد د جوړولو وړاندیز کړی چې د اړوندو وزارتونو، بسپنه ورکونکو او پلې کوونکو خواوو د همغږۍ کونکې پلاوې استازیتوب سره به مرسته وکړي.

## د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژۍ مهم ټکې

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي په پراخ ډول د ۱۳۸۵ کال د مخدره موادو د کنټرول ملي ستراتیژي[۳۸] منعکسوي، چې څلور لومړیتوبونه لري: ۱) د نا قانونه موادو او د هغوی د اړینو مخکینیو موادو د سوداګرۍ مخنیوی، ۲) د قانوني کلیوالي معیشت غښتلي او متنوع کول، ۳) نا قانونه مخدره موادو د غوښتنې د کچې راټیټول، او ۴) د مرکزي او ولایتي دولتي ادارو پیاوړې کول. د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي څرګندوي: موخه دا ده چې د ناقانونه مخدره موادو کښت، تولید، لیږدونه او مصرف دې په چټکه او دوامداره توګه راټیټ او د یوه ګټور چاپیریال او د فرصتونو د رامینځ ته کیدو سره دمخدره موادو په بشپړه او دوامداره توګه له مینځه وړلو

۳۸ د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت، د افغانستان جمهوریت، " د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي: د ناقانونه مخدره موادو د ستونزې د حل یوه نوې پنځه کلنه ستراتیژۍ" (کابل: د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت، ۲۰۰۲).

پر مهال د اړینو ګامونو رته کول.[39] د مخدره موادو د سوداګرۍ مخنیوی به د مخدره مواد سوداګران، د هغوی پلویان (په ځانګړې ډول طالبان او مفسد چارواکې) او د کوکنارو ستر کروندګر په نښه کړي. د مخدره توکو د کنټرول ملي ستراتیژي دا سې یادونه کوي چې د حکومت د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې پالیسي د "د بیخې له منځه وړلو په هدف نه ده". بیا هم، د کوکنارو بیخې له منځه وړلو ګوا ښونه څرګند او (د کوکنارو تخریب) د لاندینیو شرایطو لاندې به ترسره شي: په هغو سیمو کی د قانوني معیشت بسیا فرصتونه شتون ولري، د کوکنارو د ګل خخه د مخه نه دا چې کوکنار په نښترو وهل شوې وي ، او د ځمکنیو لارو چارو په واسطه سربیره پر دې، هغو کسانو ته چې د کوکنارو کښت یې ویجاړیږي، هیڅ ډول تاوان به نه ورکول کیږي. د هر ولایت د تخریب وړ مهمې سیمې به هر کال د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د وزارت له خوا تثبیت او د منظورۍ لپاره د وزیرانو جرګګې ته وړاندې کیږي. په عمل کی، د تخریب ډیره کچه د په نښه شویو زونونو څخه بهر سیمو کی ترسره شوې (په ځانګړې توګه په هلمند او کندهار کې، ۱۳۸۷).[40] د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې وزارت د کوکنارو د تخریب پروګرام یو شمیر ډلې به واستوي چې د غه دندې ولري: د یوه معلوماتي کمپاین په لاره اچول تر څو کروندګر د کوکنارو د کښت پریښودو ته وهڅوي، خلکو ته ووایي چې د کوکنارو د تخریب راپورونه ریښتیا دي، او دا هم ووایي چې دا کار په هغو سیمو کی چې د مشروع معیشت فرصتونه موجود وه، ترسره شوي. د قانوني معیشت د ارزولو او څارنې لپاره به میکانیزمونه جوړشي څو د نوموړې پالیسي څخه ملاتړ وکړي.

د مخدره موادو د سوداګری د له مینځه وړلو نورې هڅې د فساد په ټیټولو او په استخباراتي، تحقیقي، او د سرحد څخه وتلي همکاری او مخنیوی (د مخدره موادو د نړیوالو معامله ګرانو او قاچاقبرانو او مکفسدو مامورینو نیونه او محاکمه، د تریاکو په تولید کی د اړینو کیمیاوي توکو د تورید مخنیوی او د نا قانونه مالي سرچینو په نښه کول ) د ۱۳۸۷کال د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي د ۱۳۸۵کال د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي په پرتله د کوکنارو پر ویجاړولو ډیر ټینګار کوي، او وایي چې دولت به خپل د ویجاړولو هڅې پیاوړې کړي. د پالیسی د عمل ګروپ (PAG) په ۱۳۸۷ کال کی د **۵۰۰۰۰** هکتاړو ځمکو د تخریب پلان په پام کی درلوده (د ۱۳۸۲ کال د ټول ټال کښت شویو ځمکو **۲۵** په سلو کي). دا موخه به تر ممکنه کچې په راتلونکو کلونو کی دوام وموي.[41] ستراتیژی د چټک او پراویز تخریب تر منځ لارو چارو باندې هم رڼا اچوي او وایي چې دواړه لارې خپل پلویان لري، مګر د کلنی هدف او څرګندونو پرته کومه ځانګړې لارښوونه نه کوي، "مسله دا نه ده چې د کوکنارو تخریب دې پراویز یا چټک وي، بلکه چې کومه لاره تر ټولو دوامداره وي او لږ ټولنیز اثرات ولري.

دهغه پلان په رڼاکې چې د **۱۳۸۲** کال په وروستیو کې اعلان شو او له مخه به یې نړیوال سوله ساتې ځواکونه په سویل کې د کوکنارو د سوداګری په له مینځه وړلو کې د مرستې په موخه زیات شي او د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژی په پلان بیا کتنه وشي( د ۱۳۸۲ کال لپاره په پام کې وه مګر داسې ښکاری چې ځنډیدلې ده)، او داسې ښکاری چې د کوکنارو د له مینځه وړلو پالیسی به په **۱۳۸۷** کال کې بیا وکتل شي.

د تریاکو له کروندګرو سره د قانوني معیشت د موندلو په موخه د مرستو په ملاتړ کې چټکې اغیزې او منځمهاله او اوږدمهاله مداخلې شاملې دي. په دغو اقداماتو کې د کار په وړاندې د خوړو پروګرام او د ټولنیزخوندیتوب نور پروګرامونه راځي چې دادي: د

---

۳۹ د افغانستان جمهوریت، "د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژی: د امنیت، سالمې اداري، اقتصادی ودی او بی وزلی د راټیټولو ستراتیژی ۹۸۳۱ – ۱۹۳۱ (۲۰۰۸ ۲۰۱۳)" (واشتنګتن: د پیسو نړیوال صندق، ۲۰۰۸)، ۲۴۱.

۴۰ د د نشه یی توکو او جرمونو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري د ۲۰۰۸ کال د افغانستان د کوکنارو سروی ښیي چې د کندهار **۲۹** په سلو کی تخریب شوي ځمکي (د ۱۲۲۲ څخه **۵۲۱۱** هکتاره) او د هلمند **۵۴** فیصده تخریب شوي ځمکي (د ۱۴۱۲ څخه **۲۳۲۶** هکتاره) د تخریبی زون څخه بهر وي.

۴۱ د د نشه یی توکو او جرمونو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري د ۷۸۳۱ کال د افغانستان د کوکنارو سروی ښیي چې په ۷۸۳۱ کال کی **۵۴۸۰** هکتاره ځمکه تخریب شوی، چی د پلان شوی هدف ۱۱ په سلو کی او د ۶۸۳۱ کال د تخریب شویو ځمکو یو په څلرمه جوړوي. ددی کار ممکنه لاملونه دا دي: ۱) د کوکنار د کښت راټیټیدل د نورو لاملونو لکه د کوکنارو نه کرل، د سخت ژمی له امله د کوکنارو خرابیدل، او پخپله د کروندګرو له خوا د کوکنارو اجباري یا دواطلبانه تخریب (۳۰۰۰ ۴۰۰۰ هکتاره چی تصدیق شوي نه دي). او ۲) د سویل کی د کوکنارو د کښت تمرکز چی د حکومت ضد عناصرو د ډیریدونکو حملو او منظمو جنایي کړیو د ډیریدو له امله د تخریب چاري د زیاتیدونکو ستونزو سره مخ دي.

سړکونو او د اوبو د ښېخبناوو بیارغونه، مالي اعتبار ته د لاسرسی، د کچې زیاتوالی تر څو د ترياکو د پورونو کړی، وشلول شي او د قانوني محصولاتو د تولید او بازار موندلود کچې لوړول.

د دولت د (( ښو ترسره کوونکو د نوښت )) د پروګرام له مخې هغه ولایتونه چې کوکنار پکې نه کرل کېږي یا هم د کوکنارو کر پکې هېڅ ته نږدې دی ( د کوکنارو کروندې له ۱۰۰۰ هکتاره کمې دي) یا یې هم د کوکنارو کرل په سلو کې لس کم کړی دی، د لازیاتو پراختیایي مرستو د ترلاسه کولو مستحق دي[۴۲]. د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي همدارنګه څرګندوي چې د مرستو زیاته برخه به د کروندو د خرابولو څخه وروسته ورکړل شي.

داسې ښکاري چې د نشه یي توکو سره د مبارزې د هڅو په برخه کې د نظر پراخ یووالی شته، لدې چې دا له پراختیایي نوښتونو څخه ګوښی پاتې شي.

د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتېژۍ د مشترکو مسائلو د یوې برخې په توګه په پام کې نیول شوې( نور مشترک مسایل دادي: د ظرفیت لوړول، جنسیتي برابري، سیمه ییزه همکاري، د فساد پر وړاندې مبارزه او د ژوند چاپېریال) ، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې یوه پراخه پالیسي چمتو کړېده چې د رپوټ ورکونې او د وزارتونو تر منځ د همکاریو لپاره میکانیزمونه یې په پام کې نیولي دي.

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي همدارنګه په یوه ولایتي کړندود هم ټینګار کوي، والیان د ولایتونو په کچه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د یوې ستراتېژۍ په چمتو کولو کې همکاري کوي. دغه سټراټېژي به د ولایتونو د چارواکو په سلا او د ځایي شرایطو سره سمه جوړېږي. دغه اقدامات به د ولایتونو په پراختیایي پلانونو (PDPs) او د د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي په کلنیو تطبیقي پلانونو کې ځاي په ځاي کړل شي. د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي ستراتېژي وړاندیز کوي چې بسپنه ورکوونکي باید خپلي پروژې په منظمه توګه بیاوځېږي او تنظیم یې کړي تر څو د ولایتونو پراختیایي پلانونو د لومړیتوبونو څرګندونه وکړي. همدارنګه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې دولتي وجهي صندوق پدې وروستیو کې خپل پلان د وړاندیزونو د لنډمهاله تمویل څخه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ولایتي پلان ته اړولی دی. والیان او د دولت مرکزي کارکوونکي د ټاکلو موخو د بریالیتوب دنده لري او پدې موخه به د مجازاتو او مکافاتو یو روڼ سیستم رامنځته شي. د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي سند یو حیرانونکی عبارت لري چې وایي (( د عامه باور په خلاف د ملګرو ملتونود نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر پایله راایستې چې بېوزلي د نشه یي توکو د تولید لپاره لویه انګېزه نده ))[۴۳].

دغه پایله د ملګرو ملتونود نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر د موندنو په بنسټ ده چې څرګندوي چې د افغانستان په شمال کې بیوزله ولایتونه په عمده توګه یا خپل کښت کم کړی یا دا چې په هر اړخیزه توګه یې درولی دی، پداسې حال کې چې د سویل شتمنو ولایتونو په پراخه کچه د کوکنارو کښت زیات کړی دی. دا مسئله په ضمني توګه دې ته اشاره کوي چې بېوزلي باید د اقدام د نه کولو لپاره د عذر په توګه ونه پېژندل شي. که څه هم چې د د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي کړنلاره کې دې مسئلې ته ګوتنیونه شوېده چې (( د بېوزلی او د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې تر منځ اړیکه کومه ساده چاره نده((. په لنډمهال کې د کوکنارو د کروندو خرابول کېداي شي د بېوزلۍ د زیاتوالي لامل شي چې ټول هغه کروندګر،

۴۲ د کښت څخه خلاص ولایتونه د ۱ میلیون ډالرو مستحق دي، او هغه ولایتونه چې د کوکنارو خپل کښت یې په سلو کې له لسو زیات کم کړی دي، د هر هکتار ځمکې په مقابل کې د ۱۰۰۰ ډالرو د اخیستو مستحق دي. هغه ولایتونه چې کښت پکې کابو صفر دی د ۵۰۰۰۰ ډالرو مستحق دي. په ۲۸۳۱ کال کې متحده ایالات د دغه پروګرام تمویلوونکی ؤ. سرچینه: د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، (( د افغانستان د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه پروژه شوي دولتي خپروني))، واشنګټن ډي، سي، ۸۲، ۲۸۳۱) www.america.gov (وروستی کتنه، د ۷۸۳۱ د زمري ۳۱)

۴۳ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراټېژۍ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې کړنلاره، ۲

کارکوونکي او کورنۍ يې چې د کوکنارو په کښت او کار کې لګیا دي، اغېزمن کوي. له همدې(( بېوزلي او زیانمننه)) کبله ، اړتیا ده چې په هره کړنلاره کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتېژۍ تر غور لاندې ونيول شي[44]. دغه عبارتونه د بېوزلۍ د کمښت او د ترياکو د توليد تر منځ د اړيکو د مشخص کېدو اړتيا څرګندوي.

د څارنو په پام کې نیولو سره، د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي څرګندوي چې د کرل شوې ځمکې د هکتارونو په شمېره کې د کلني کموالي تعقیب د پرمختګ د ارزښتناکو لاملونو څخه يو ده، مګر د کمزورتيا څو ټکي لري.

د کرهنې پر کچه تمرکز د کښت په کموالي کې د ثبات په اړه ډېر کم څه څرګندوي، او په ولايتونو کې او د هغوي تر منځ د کښت د مختلفو بېلګو د پيچلي کولو ليوالتيا لري، لدې کبله نشي کېداي چې د کښت د کموالي اړوند ستونزې په چټکه او توپير لرونکې توګه د شخصي منعې يا د تخريب له لارې وپېژندل شي. برسېره پردې، دې ته په پام چې د نشه يي توکو د زېرمه کولو شونتيا لا اوس هم شته، په ۱۳۸۴ کال کې د حاصلاتو زياتوالی او دا واقعيت چې د توليد د کچې راټيټول کېداي شي د بيو د لوړېدو سبب وګرځي نو په لنډمهال کې د کښت کمول نشي کولاي د هغو کسانو په فعاليتونو اغېزه واچوي چې د نشه يي توکو په قاچاق کې بوخت دي[45].

که څه هم چې دغه عبارت د پرمختګ په اړوند د اندازو په اړه د ننګونو پر ارزښت د ټينګار په موخه وړاندې شوی دی، مګر د نشه يي توکو د مداخلاتو لپاره څو ارزښتناکو پوښتنو ته اشاره کوي چې د کښت د باثباته کموالي لامل کېږي. د د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتيژي په کړنلاره کې دولت پدې لټه کې دی چې د (( د ترياکو د کر د سيمې )) د کموالي معيار د هغو معيارونو له لارې چې ((د قانوني خالصو کورنيو توليداتو په وړاندې د ترياکو د اقتصاد د ارزښت نسبي کمښت اندازه کوي، د ناقانونه نشه يي توکو او د هغو د لوړېيو کيمياوي توکو قاچاق راکم کړي او د نشه يي توکو د کاروونکو د ستونزو او په افغانستان کې د هغه څخه د راپيدا کېدونکو زيانونو د کمښت لامل شي.)) د د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي ستراتېژي همدارنګه د معيارونو ځينې نورې پايلې وړانديز کوي او بيانوي چې معيارونه وروسته په ورکشاپونو کې ټاکل کېږي. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د برياليتوب په اړه پوښتنې په همدې ترتيب د نشه يي توکو د کښت او د بېوزلۍ تر منځ اړيکې د ترياکو د اقتصاد په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د څېړنو مرکزي برخه ده، او د موندنو او سپارښتنو په برخه کې به بيا وڅېړل شي.

## د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ په اړه د نړيوال بانک او نړيوال وجهي صندوق ځمنې

لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه، دولت د د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژۍ سند د بېوزلۍ د کښت د ستراتېژۍ په توګه د پور د بښلو لپاره او د بياکتنې لپاره د ۱۳۸۷ د غوايي په مياشت کې د نړيوال بانک او نړيوال وجهي صندوق ته وروړاندې کړ. د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي په مياشت کې نړيوال بانک او نړيوال وجهي صندوق د د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژۍ په اړه د سلاکارو کارکوونکو يو ګډ يادښت جوړ کړ او خپلې موندنې يې د دغو دواړو سازمانونو اجرايي پلاوې ته وليږلې[46] ټاکلې موندنې او سپارښتنې دلته په خلاصه ډول ذکر شوي دي، لدې کبله په افغانستان کې ستراتېژيک پلان جوړونې اجنډا اغېزمنه کوي.

د بياکتنې ډله دې پايلې ته رسېدلي چې د د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژۍ سند بايد هر اړخيز وي او د بېوزلۍ د کيفيت د شننې څخه خبر اوسي او بايد د سلا مشورو د پروسو په بنسټ وي. که څه هم دا سند لاندې عمومي ښېګڼې وړاندې کوي. د بېوزلۍ د پيوستون او د زيامننې تر منځ پياوړې اړيکه او په افغانستان کې

[44] د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتېژۍ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې کړنلاره، ۱، ۲

[45] افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتېژي، ۲۲

[46] (نړيوال وجهي صندوق د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د بېوزلۍ د کمولو ستراتېژي، د سلاکارو کارکوونکو ګډ يادداښت)

د وړاندې شوې ستراتېژۍ تر منځ لوی لومړیتوبونه، د ستراتېژیو او پروژو تر منځ اقدامات ( د معاملاتو د سپکولو او درندولو په اړه د بحث په ګډون) د موخو د لاسته راوړلو لپاره کره او جدي ترسیم د زیاتو څارنو او ارزونو د چوکاټونو شاملول. د نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندوق د بیاکتنې ټیم په (( تولیز لیدلوري او د کرنې او د کلیو د پرمختیا ستراتېژي، په تولیدي یا په سوداګرۍ باندې څرخېدونکې بڼه د کرنې بدلون ) ) هوکړه کړې او ۵ سپارښتنې کوي. د بېوزلۍ د کمښت د موخو او د وړاندیز شوي پروګرام تر منځ د اړیکې پیاوړتیا، د منځمهاله موخو او د مالي تمویل د خنډونو په رڼا کې د CARD د ۱۵ پروګرامونو ته لومړیتوب وبښنه، د CDCs لپاره د راتلونکي ملاتړ تعیینول او د هغه ونډه د CARD د پروګرام په پلي کولو کې. د سیمه ییزې پراختیا د کړندود پلي کول په آزماینښتي بڼه په یوه یا دوو سیمو کې او په نړۍ کې د خوړو د بیو چټک لوړوالي ته په پام پر خوراکي خوندیتوب لازیات ټینګار.

د اوبو د سکټور او د اوبو لګولو د ستراتېژۍ د څېړنې ډلې د هغه څو اړخونه غوره ګڼلې دي چې پکې د سیند د ډنډ هراړخیزه کړنلاره او په لنډمهال کې د اوبو لګولو د بیارغونې د پروګرام پر پراختیا ټینګار راځي. او برسېره پردې د ظرفیت لوړوالی او د اوبو د پراخه اداري لپاره د معلوماتو د راغونډولو ښه کول هم پکې راځي. دغه ډله سپارښتنه کوي چې د اوبو د برښنا او د اوبو لګولو پروژې باید په دقت سره تر څېړنې لاندې ونیول شي تر څو د اوبو د سرچینو څخه پوره ګټه واخیستل شي.

د بیاکتنې ډلې موندلې ده چې ددولت د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتېژي (د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتېژي) یو څو اړخیز متعادل کړندود معرفي کوي، که څه هم دغې ډلې د فشار او بېوزلۍ د برعکس بالقوه اغېزو په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړېده او ټینګار یې کړئ چې په افغانستان کې د تریاکو له منځه وړل اوږدمهالو هڅو ته اړتیا لري. دا ډله سپارښتنه کوي چې لاندې موضوعات باید په کره توګه تر پاملرنې لاندې ونیول شي او په تطبیقي کړندودونو کې ځاي په ځاي شي.

۱. په دولت جوړنه او همدارنګه د سالمې اداري په جوړولو د نشه یي توکو له کبله د شته فساد اغېزي( چې د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ په سند کې پرې بحث شوی) د نشه یي توکو په صنعت کې د ښکیلو اړخونو او په دولت کې د ننه او بهر د هغو په ملاتړ د قانون د پلي کولو په اړه د هڅو د تمرکز اړتیا

۲. د نشه یي توکو سره د مبارزې د اقداماتو د اغېزو ارزونه چې د تریاکو د کروندو د کړنلارې د څرګندوالي غوښتونکې ده.

۳. د کلیو د پراختیا د ګټورو پروګرامونو د کچې د زیاتوالي اړتیا تر څو په کلیو کې د تریاکو د فعالیتونو څخه قانوني اقتصادي چارو ته د استوګنو د راګرځولو په چاره کې مرسته وکړي[۴۷].

## ۲.۳ پایلې

پدې برخه کې د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته د کرنې د پراختیا د ستراتېژۍ اساسي اسناد تر څېړنې لاندې نیول شوي دي، پدې برخه کې په ټاکلې توګه د د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ په سند او په سکټور پورې اړوند ستراتېژۍ باندې تمرکز شویدی. په همدې ډول د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د وزارت ماسټر پلان او د کرهنې ملي پراختیایي کاري چوکاټ د وروستنۍ پالیسۍ څېړنه شوېده، پدې څېړنه کې هڅه شوې چې د پالیسۍ د موجوده موقعیت او پاتې شوي واټن په همغږۍ باندې ټینګار وشي. د کرنې د پالیسۍ اساسي ځانګړتیاوې لاندې دي: د خصوصي سکټورمشري، په بازار باندې راڅرخېدونکې روښ چې کولای شي د اعاشې د تولید د ارزښت اغېزه کمه کړي. له بازار څخه د لیرې والي او نه لاسرسي له کبله د کمې وړتیا لرونکو سیمو ته د باغدارۍ او مالدارۍ په ارزښتي ځنځیر او د صادارتو په محور تمرکز ځایي جوړښتونو ته په ځانګړې توه د اوبو او ځمکې د مدیریت په اړه، ددې په رسمیت پېژندل چې اوبه یو عامه شتمني ده مګر د اوبو رسولو خدمتونو کېدیا شي د هغه د ګټه اخیستونکي لپاره لګښت ولري، پدې اړه متضاد موقعیتونه چې څرنګه بېوزلي او د کوکنارو کښت له یو بل

۴۷ ( نړیوال وجهي صندوق د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د بېوزلۍ د کمولو ستراتېژي، د سلاکارو کارکوونکو ګډ یاددښت)، ۰۱

سره اړيکې لري او په پايله کې دا چې ګټې د نشه يي توکو د مبارزې د بريا لپاره تر ټولو ښه اقدام دی.

وروستی برخې د اوبو د مديريت، مالداری او د کوکنارو د اقتصاد د څېړنو د موندنو لنډيز دی چې د کليوالي کار ځرنګوالي انځوروي او ددې په کتو سره د بېوزلو خلکو د ملاتړ د بر شمېر مداخلې راپېژني، موخه يې داده چې لاد بر ښېلتون ښکاره شي او په ټاکلي ډول د کليو د پراختيا او کرنې د شته پاليسيو د بحث لفظونه مشخص شي.



په ننګرهار کې د کوکنارو له بوټي څخه د ترياکو د شېرې رااېستل
ديويد منسفيلد

# ۳. اصلي موندنې

پدې برخه کې د کليو د معيشت، د ځمکې د مالکيت، د اوبو د مديريت، مالدارۍ او د ترياکو د اقتصاد په اړه په اړه د د اوبو د مديريت، څاروبو او دترياکو د اقتصاد د څېړنو موندنې په ترتيب او لنډيز سره وړاندې شوې دي. پدې برخه کې د پاليسۍ لپاره د ساحې څخه پر شواهدو ټينګار شوی، او څرګندوي چې آيا هغه پاليسۍ چې په مخکينۍ ستراتېژۍ کې څېړل شوي په شواهدو ولاړ دي او که دا چې د پاليسۍ هر ډول بالقوه وانن زياتې پاملرنې ته اړتيا لري.

د کرنې د انډول او هر اړخيزه ستراتېژۍ د پلي کولو او د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو په وزارت کې د پاليسۍ د اړونده جزياتو، د پايلو د معيارونو او د تطبيقي کړندونو په اړه د مخته تلونکو هڅو په اړه د دولت ژمنو ته په پام د کليو د معيشت په اړه د دغو څېړنو موندنې په غوره وخت کې لاسته راغلې دي.

## ۱،۳ په کليو کې د معيشت په هکله عمومي موندنې

د د اوبو د مديريت، څاروبو او دترياکو د اقتصاد د څېړنو موندنې په کليو کې د معيشت او کرنيز توليد د څېړنې لپاره د ((کرنيز سيستم)) يوه هر اړخيزه کړنلاره معتبره بولي. دا ټوليزه کړنلاره په مهمو اړيکو او طبيعي سرچينو او کرنيزو ستراتېژيو کې د کروندګرو د لاسرسي او معيشت په منځ کې په اړيکه تمرکز کوي. دغه څېړنه پربکړه کول له فرصتونو، بنسټونو او ګواښونو څخه په يوه پراخ چاپېريال کې ګڼي. دا کړنه د کرنيزو ستراتېژيو تر منځ په معامله ټينګار کوي د بېلګې په توګه د ځمکې نه بهر د کروندګرو په کار اچول تر څو پولي عايدات توليد کړي او يا مهمې ټولنيزې اقتصادي اړيکې وساتي او د کرنيز سيستم د مختلفو عناصرو په مينځ کې د طبيعي سرچينو بيا تخصيص.د دکرهنې ملي پراختيايي کاري چوکاټ نوې کړنلاره دا ډول متقابلې اړيکې د طبيعي سرچينو تر منځ اړيکې ته د پاملرنې، کرنيز توليد او اقتصادي پرمختګ له لارې په رسميت پېژني. له ګواښ سره مخ کېدل او د هغه سره د مقابلې د وسايلو کمښت د بېوزلۍ او زيان منښې باعث ګرځي. د کورنيو د ګواښونو د عواملو څخه ډېره د هغو ممکنه فرصتونو په له لاسه ورکولو سره چې ښايي د بېوزلۍ څخه د وتلو لارې چارې وړاندې کوي. د کليو د معيشت لپاره ګواښ زيات ډولونه لري. له هغې ډلې کېداي شي وچکالي، ساړه ژمي، د بيو بې ثباتي، په کورنيو کې د آفتونو، ناروغيو او مرګ خپرېدلو ته اشاره وکړو. دا مسئله همدا ډول د دولت او يا نورو نادولتي لوبوونکو (لکه د نشه يي توکو خاوندان) له ځواک څخه په خپل سرې ګټه اخيستو شامله ده چې په مستقيم ډول بېوزلو ته د زيان رسولو او بې عدالتۍ د تشديد سبب ګرځي.

د کليو معيشت او د بزګرانو کړنې نوې او خوځنده دي، کورنۍ د معيشت د ګواښونو د کمښت او د شته فرصتونو څخه د ګټې اخيستنې لپاره په دوامداره توګه د نويو لارو او د فعاليتونو د ښه ترکيب په لټه کې دي. دا څېړنه داسې شواهد وړاندې کوي چې بزګران محصولات او د توليد ستراتېژي کال په کال بدلوي او يا داچې په پوره ډول د کرنې له دندې څخه بهر وځي. دا څېړنه همدا ډول په کرنيزو ټولنو کې او د کورنيو په داخلي کچه داسې نوښتونه انځوروي چې پيداسې ښه چې غړي خپل ځانونه په مختلفو وختونو کې په بېلابېلو طريقو تنظيموي. راپورونه ښيي چې په ابي ځمکو کې يوه پياوړې اعاشه يي رويه حاکمه ده، چې په لوړ خطر لرونکي توليدي چاپېريال کې د خطر د توپير څرګندونه کوي.

بزګران په عمومي توګه غذايي محصولات د لومړيتوب بندۍ په بنسټ کري تر څو د خپلې کورنۍ اړتياوې پوره او د خوراکي توکو د اخيستلو کچه راټيټه کړي. که څه هم ډېرې کمې کورنۍ په خپلو پېښو د دربېدلو لپاره کمو سرچينو ته لاسرسی لري. ډېرې کورنۍ اړې دي تر څو د ګرانو محصولاتو په کرلو د احشام د توليداتو په خرڅلاو يا د کرنې له کاره پرته کړنو په وسيله داسې عايدات توليد کړي چې هغوي د اخيستلو جوګه کړي. ډېر افغان بزګر د تنوع له ستراتېژۍ ګټه اخلي. بازار ته د وړاندې کولو لپاره تخصصي توليدات (Specialized Production) د هغو افغان بزګرو ترمنځ چې د د اوبو د مديريت، څاروبو او دترياکو د اقتصاد په څېړنو کې شامل

دي، عموميت نه درلود او په عمومي توګه د لوړ ګواښ سره مخ دي.

سوداګريزه کرنه کله هم د بازار د بيې د ماتېدو او يا د کمښت څخه د ځغورلو په موخه د شتمنو بزګرانو لخوا اجرا کېږي، يوازې تر اوسنيو شرايطو لاندې ده چې کروندګر په نفس اعتماد لري تر څو له ځانه د (عايداتو زياتوالى) وښيي. له بل لوري کورنۍ د کمښت تر شديدو شرايطو لاندې پداسې حال کې چې د خپلو اړتياوو لپاره کافي خوراکي توکې توليد کړي، اړې دي چې د شته سرچينو سره بازار ته توليد وړاندې کړي، چې په افغانستان کې غالباً دا عمل د ترياکو د کرنې په بڼه وي.

د د اوبو د مديريت، څارويو او د ترياکو د اقتصاد څېړنې دې ته اشاره کوي چې پداسې حال کې چې د کرنې په ټولو بڼو کې د زيانمننې او د معيشت ساتنې مختلف طيفونه شته، مګر هغه چې د للميو په کرنه پورې اړه لري، د کرنې له ټولو ايکولوجيکي ګروپونو څخه ډېر زيان منونکي دي. هغه ټول عوامل چې د معيشت د امنيت د نشتوالي د زياتېدو باعث ګرځي په لاندې ډول دي: لږ پرتې سيمې، کمه تنوع او له خطرونو ډک زراعت او محصولات. لدې سره سره موندنې دې ته اشاره کوي چې کابو ټولې هغه کورنۍ چې په کليو کې ښېړل شوې دي، د خوراکي توکو د کمښت له ګواښ سره مخ دي.

د کورنيو د څارنې معلومات ښيي چې پداسې حال کې چې نږدې د ورځني کارمزد فرصتونو ته ټوليزه لاسرسي شته، تر ټولو لوړ عايدات او ښه فرصتونو د هغو کورنيو په برخه دي چې د رود ابي ګذرګاه په ښکتنۍ برخه کې واقع دي، هغه کورنۍ چې د سيند په اوبه کېدونکو درو کې دي د هغو کورنيو په پرتله چې للمې ځمکې لري ډېر تر ډېره ۳۰ په سلو کې زيات استخدامي عايدات لري. په هغو سيمو کې چې ډېرې ليرې پرتې دي، عايداتي فرصتونه غالباً نامنظمه، له لږ پرداخت او نامسلکي کرنيزو کارونو سره په ضمني توګه د کورنيو په امنيت پورې اړوند دي. ډېرې ليرې پرتې کروندګرې کورنۍ د ځمکې نه بهر له ډېرو درندو کارونو سره مخ کېږي، او د کار د اشتغال د ځايناستي کولو له کمو وړتياوو څخه برخمن دي، دا بې عدالتي ټولو ته څرګنده ده او په يو ډول له فزيکي موقعيت او لاسرسۍ سره اړه لري همدارنګه شونې ده چې په ښوونه او يا اقتصادي او سياسي اړيکو کې د نااندولتيا راوړونکې وي.

يو له بنسټيزو موندنو څخه چې لدې څېړنې څخه په لاس راځي د افغانستان په کليو کې معيشتي فرصتونو او سرچينو ته په لاسرسي کې سيستماتيکه بې عدالتي ده. ددې بې عدالتۍ علتونه پېچلې دي. هغه کورنۍ او ټولنې چې زيانمنې شوې دي ښايي د فزيکي موقعيت او يا کرنيز ايکولوجيک ترون له کبله وي يا دا چې د نژادي، سياسي يا اقتصادي ټولنيز تړاو له کبله ګوښه کړاى شوي وي. يو د عرفي او نارسمي بنسټونو له ځانګړتياوو څخه داده چې مهمو طبيعي سرچينو ته لاسرسي وټاکي. دا بنسټونه د ځايي شتمنيزو او قدرتي جوړښتونو غبرګون ته متمايل او په فرصتونو کې په بې عدالتيو مرتکب شوي او يا حتي هغه زياتوي. دا مسئله اوبو ته د لاسرسي او د ځمکې په دوديزو ميکانيزمونو کې په ډېره ښه توګه انځور شوېده. دا بې عدالتي ښيي چې څرنګه کلي د مختلفو ټولنو د کرنيز پرمختګ د فرصتونو په وړاندې غبرګون څرګندوي او دا چې څرنګه د پرمختيا ګټې ښايي وويشل شي. د اوبو لګولو او ځمکې موردې مطالعې ښيي چې هرکله چې سرچينې محدودې وي، يا په شدت د شخړو وړ وګرځي او يا دا چې د مهمو ګټو لرونکې وي، د سرچينو د عامه مديريت نظامونه د لږ ګټورتيا لرونکي وي. دا مسئله ددې سبب شوېده چې ايا کېداى شي عامه مديريت په ټوليز ډول پيل شي، او آيا دا سيستم د ټاکلو مديريتونو په موقعيت پورې اړه لري؟ يا دا چې کوم لومړني شرايط د هغو لپاره اړين دي.

د د اوبو د مديريت، څارويو او د ترياکو د اقتصاد موندنې وړاندېز کوي چې د طبيعي سرچينو د عامه مديريت د بنسټونو ځواکمنتوب او سمون بايد د ناعادلانه جوړښتونو د پلټنې لپاره يوه کليدي ستراتېژي وي چې په کليو کې د ناامنۍ او بېوزلتوب لامل کېږي. که څه هم د طبيعي سرچينو په مديريت کې د غير رسمي ادارو کړنو ته په کتو سره دا پوره څرګنده ده چې د سرچينو د مديريت د دندو پرېښودنه بايد د اداري پياوړتيا د حساب ورکونې او څارنې په چوکاټ کې اجرا شي.

د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ/ د کرهنې او کليو دپراختيا سکتوري ستراتيژي په پراخ کرهنيز سيستم يا تخصصي نيمه سوداګريزې ښوالۍ او پراخه سوداګريزه کرهنه ټينګار کوي. دا ستراتېژي په همدې توګه د سيمه ييزو بازارونو مرکز ته نږدې د ودې په سيمو کې د کرنې په پرمختګ باندې د ملاتړ د تمرکز وړانديز کوي. د دکرهنې ملي پراختيايي کاري چوکاټ د ١٣٨٧ کال کړنلاره په سوداګريزه کرنه ټينګار راکموي او په ښوالۍ، مالدارۍ او د غلو په زياتوالي تمرکز کوي. دا کړنلاره د ودې په سيمو ( Growth Zone ) استناد راکموي تر څو يوه هر اړخيزه او متعادله ستراتېژي لاسته راشي. ددې بدلونونو ملاتړ پداسې شواهدو کېږي چې په څرنګه ددې کرنيزې ودې ګټې ووېشي.

د WOL څېړنې دې ټکي ته اشاره کوي چې د باغدارۍ په توليداتو کې په لومړي ځل د يوې ځواکمنې صادراتې کړنې سره چې د کرنې اوبو ته ښه لاسرسی لري. او پدې ډول به په پيل کې کرنيز پرمختګ پداسې سيمو چې اوسمهال په نسبي توګه سوکاله دي، تمرکز وکړي. حتي پداسې ځايونو کې چې د ښوالي د لومړۍ درجې آبي ځمکو څخه بهر هڅول کېږي، د ګټو لويه برخه د ځمکو همپشنيو خاوندانو ته پاتې کېږي. او که کرنيز ملاتړ يوازې په پر نفوسه درو متمرکز شي، ښايي هغه خلک چې په ګوښو کې ژوند کوي ونشي کولای د ګمارل کېدو نويو فرصتونو ته لاسرسي ومومي. که څه هم د ځمکې څخه د ګوښې توب فرصتونو ته د لاسرسی په پايله کې د کار ځواک خوځنده دي مګر ښايي له لاسه د وتلو فرصتونو له لګښت سره مخ شي. برسېره پردې په هغو سيمو کې چې اوسمهال اقتصادي سرچينو او فرصتونو ته زياته لاسرسي لري، د کرنې د پراختيا تمرکز په هغو ځايونو کې چې کروندګر کم بديل معيشت لري د ترياکو د کښت په کموالي کې کمه اغېزه لري، او د ورځنۍ بې ثباتۍ سره مخ دي. د سند افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتېژۍ په پرتله په اعاشه اي کرهنه زيات ټينګار کوي، لکه د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتېژي دغه کړنلاره هم د دې په لټه کې ده چې د اعاشه يي بزګرانو سره مرسته وکړي تر څو د نيمه تخصصي او نيمه سوداګريزې کرنې په لور وخوځي چې وکولای شي خپل عايدات لوړ کړي، که څه هم دا مسئله مني چې دا چاره د زيات شمېر بزګرانو لپاره د منلو وړ نده. دغه کړنلاره همدارنګه په بازار راڅرخېدونکې کرنې په لور د اوښت په مهال د خطر په اداره کې د تنوع ارزښت مني. د د اوبو د مديريت، څارويو او د ترياکو د اقتصاد څېړنې د دغه پاليسۍ ملاتړ کوي او د هغه شرايطو د درک په ازښت چې تر هغه لاندې زيات سوداګريز کولو بدلون، د کورنيو د معيشت امنتيت پياوړی کوي، ټينګار کوي، نه دا چې کمزوري شي. پر غذايي محصولاتو د اعاشه يي کرنې تمرکز چې د کورنيو وېش ښيي په ځانګړي ډول هغه وخت چې د کورنيو د سپما کچه د هغه کچې څخه لوړه وي چې کولای شي د سوداګريزو محصولاتو يا د معيشت د نورو انتخابونو څخه يې تر لاسه کړي. دا مسئله هغه وخت پېښېږي چې د هغو عواملو په وسيله چې مخکې ياد شول د معاش د لاسته راوړولو د فرصتونو خنډ وګرځي، لکه لېرې والي، د ځمکې د درلودلو کچه او بازار ته نه لاسرسی. برسېره پر دې په لېرې سيمو کې د خوړو له نظره په خپلو پښو درېدل د طبيعي سرچينو د کارولو په مانا ده چې د هغه څخه پر ته ګټه اخيستنه ناشونې پاتې کېږي. په ټوليز ډول داسې ښکاري چې د افغانستان د ملي ستراتېژۍ په پرتله د دکرهنې ملي پراختيايي کاري چوکاټ ستراتېژي د کم ځمکې بزګرانو ، زيانمنو ډلو ، د خوړو د توکو ، سوداګريزو توکو کرنه او د خوړو خونديتوب په ملاتړ زيات ټينګار کوي. د کرنې په رسمي پاليسۍ کې دغه بدلونونه کرنې ته د يوه هر اړخيز ليد د اړتيا په اړه له سيمې څخه د شواهدو په بنسټ دي چې هم يکې د معيشت ښه او د هم د توليد وسايل راځي.

## ۲,۳ د ځمکې د قبضې په اړه اصلي موندنې

په افغانستان کې ډېر کم شمېر خلک د هغو ځمکو رسمي اسناد لري چې تري ګټه اخلي. کابو ټول معاملات او قضاوتونه په يوه دوديز/ عرفي سيستم تر سره کېږي چې په ظاهر کې د ټولنو تر منځ بشپړ ګټور سيستم دي، په ځانګړي ډول د خصوصي مالکيت په پام کې نيولو سره. د دغه سيستم له مخې ځمکې ته د بزګرانو لاسرسي په ګڼ شمېر ډولونو او د ګوابښ له توپير لرونکو کچو سره تړلې ده. په افغانستان کې د ځمکې د مالکيت د ثبت او راجستر په مخکې لوېې ننګونې پرتې دي. د هغه د را غونډولو لپاره ډېر کم معلومات او ظرفيت شته. د ځمکې د مالکيت په اړه ګڼ شمېر ناڅرګند تياوې شته

چې د وروستي مالک په پېژندلو کې د ستونزو د زیږولو لامل کېږي. که څه هم افغانستان کولای شوای له نورو هغو هېوادونو څخه زیات شیان زده کړي چې د جګړې څخه وروسته د ځمکې د ثبت او راجستر په برخه کې د ستونزو سره مخ شوي وو.

د خصوصي مالکیت وېشل کېدل او د ځمکې په سرچینو ورځ تر ورځ زیاتېدونکي فشارونه په هر ځای کې د تولید د لویو خنډونو څخه دي. د هغو بزګرانو تر منځ چې د کورنۍ د څېړنو د پروګرام د اوبو د مدیریت، څارویو او د تریاکو د اقتصاد په وسیله تر څېړنې لاندې نیول شوي دي، د ځمکې د مالکیت په اړه لوي توپیرونه شته. په ځینو ځایونو کې د (د اوبو د مدیریت، څارویو او د تریاکو د اقتصاد ) څېړنې ټاکي چې د څېړنې لاندې سیمو کې د ¼ څخه تر ۳/۱ پورې ټولې سیمې کرل شوي ځمکې د ګټه اخیستنې د لنډمهالو تړونونو تر یوه ځانګړي ډول لاندې اداره کېږي. د ځمکې د تصدي دا ډول ( په ځانګړې توګه د مضارعې تړونونه) په داسې سیمو کې متمرکز شوی چې د لوړو با ارزښته مالي محصولاتو د کرنې وړتیا لري. پداسې حال کې چې د مضارعې شرایط داسې ښکارېږي چې په کم ارزښته ځمکو کې د بزګرانو په ګټه وي، مګر په ارزښتناکو ځمکو کې د عایداتو ډېره برخه نیږ په نیږه د ځمکې د خاوندانو جیبونو ته لوېږي. دا موندنې لدې پلوه چې څوک د باغدارۍ د فرعي سکټور د ودې څخه ګټه اخلي، د ارزښت وړ دي. د ځمکو د ګډو سرچینو مالکیت د هغو کسانو لپاره چې د سرچینو له پلوه خوار دي، باارزښته دي. پداسې حال کې چې ددې موضوع اړوند جنجالونه د خصوصي ځمکو په پرتله لږ دی. مګر پدې ډول ځمکو کې د دودیزو مدیریتي سیستمونو څخه بهر زیاته ونډه لري او ورپسې په لږه کچه د غیر رسمي بنسټونو لخوا د پاملرنې وړ ګرځي.

## ۳٫۳ د اوبو د مدیریت اړوند مهمې موندنې:

د د اوبو د مدیریت، څارویو او د تریاکو د اقتصاد څېړنې د اوبو د سرچینو په هکله د کرنیزو اوبو د او بو د بېخبناوو د مدیریت لپاره په پراخه کچه په عامه سیستمونو تمرکز کوي. د کرنیزو اوبو عرضه په ځمکه کې د کښت په ډول ډول والي، خوارکي خوندیتوب، کرنیزو بازارونو ته د ورود او په قانوني پایدار معیشت باندې اغېزه لري.

## د اوبولګولو لپاره اوبو ته د لاسرسي اړوند موندنې:

د د اوبو د مدیریت، څارویو او د تریاکو د اقتصاد(WOL)څېړنې ښیي چې بزګران د بند په لر او بر کې اوبو ته د لاسرسي لپاره له ډول ډول ستونزو سره مخ کېږي، او د هغوي سره د مقابلې په موخه له مختلفو لارو کار اخلي. د بند د برنۍ برخې ځانګړنه داده چې د اوبو د جریان له پلوخ ډېر توپیر لري. په پایله کې د بند د برې برخې بزګران په فرصت غوښتونکي ډول د اوبو له مختلفو سرچینو څخه د نیمه ابي ځمکو د اوبولو لپاره ګټه اخلي لکه اوږده او لنډ کاریزونه، څاه ګان، پسرلنۍ سطحي اوبه، ثالثي کانالونه، او په ګوډالونو کې د واورو راټولې شوې اوبه. او حتې پداسې شرایطو کې چې د بند څخه کښته وي. او حتي پداسې شرایطو کې ډېر کم شمېر دو دوبي محصولاتو ته لاسرسي لري. ددې په خلاف هغه بزګران چې د بند څخه کښته دي، د اوبو لپاره د اوبو په سرچینه ډېر زیات متکي دي. دریمه درجه کانالونه او په تصادفي ډول امکان لري ټولو سرچینو ته لاسرسی ولري. دا کېدای شي چې د سیندونو/ رودونو په درو کې د کانالونو د جریان د نسبي او اعتماد وړ کړنو غبرګون وي. دا متفاوته ستراتېژي د اوبو لګولو د مدیریت د ټاکلو ستونزو باعث شوېده چې د د اوبو د مدیریت، څارویو او د تریاکو د اقتصاد د څېړنو په لومړي کال پېژندل شوي دي. د اوبولګولو هغه هایدرولیک جوړښت او هغه کړندود چې اوبه پرې اداره کېږي، په اشارې سره هغه بزګران چې د اوبو د بند په لاندې برخه کې دي، اوبو ته د لاسرسي له سیستماټیکو بې عدالتیو سره مخامخ کېږي. د کانالونو په پای کې د اوبو کموالې د کښت ډېره تنوع او نقدي محصولات ( دا محصولات  د غنمو، جوارو، وریجو، پنبې، تنباکو او اوربشو په ګډون دي، ژباړن) محدود دي او د ټولو ډولونو د حاصل د کمېدو سبب کېږي. د کانال د وروستۍ برخې بزګران په پراخه توګه د غلودانو د کرلو څخه پوره نشي برخمن کېدای. په پایله کې کرنیز فرصتونه او معیشتي سلامتیا په عمومي توګه د اوبولګولو د سیستمونو او د سیند د حوزو د کچې په ملګرتیا سره کمښت مومي، پداسې توګه چې هغه بزګران چې په وروستیو برخو کې دي، زیان مومي. د اوبو کموالی د افغانستان د اوبو لګولو د بېخبناوو سره لا نور هم ستونزمن کېږي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له اټکل سره سم، د ساتنې

د نشتوالي او ناقصې طراحۍ په دلیل په منځنۍ توګه په ستونزمن ډول د اوبو لګولو د بېخبناوو د بالقوې کچورتیا له نیمې څخه ګټه اخیستل کېږي.

برسېره پدې هغه بزګران چې د سیستم په وروستۍ برخه کې د هغو په پرتله چې د سیستم په لومړۍ برخه کې دي، په عمومي توګه د اوبو لګولو د بېخبناوو په ساتنه کې ډېره ونډه لري، د ساتنې فعالیتونه په مکرره توګه د کانال په پای کې پیل کېږي. د خلکو ټولنې د کانال په پای کې ښایي د کانال د پورتنۍ برخې د ټولو ځایونو د ساتنې لپاره د کار ځواک د ورکولو لپاره اړتیا ولري مګر د بند پورتني خلک دې ته ژمن ندي (یا اړ ندي) چې د کانال د ښکتنۍ برخې د ساتلو لپاره مرسته وکړي ځکه چې دوی پدې ځای کې هېڅ ګټه نلري.

اوبو ته د لاسرسي کچه د ریوټ په بڼه د کرنیزو ځمکو په مالیاتو او د ځمکې په بیه کې انعکاس مومي. د د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د یوې ځانګړې څېړنې په اړه د یوه خبر په وینا د درۍ ډوله ځمکې چې د سیستم په لومړۍ، منځنۍ او وروستۍ برخه کې پرتې دي، درۍ ډوله مالیات ورکوي پدې برسېره چې په هغه ځای کې چې د اوبو حق او د ځمکې مالکیت له یو بل سره اړه لري، د ځمکې بیه د اوبو د حق انعکاس کوونکې ده[1]. دواړې چارې د اوبو د تخصیص د شته حقونو د سمون متضمنې دي، تر څو د مساویانه تخصیص د اوبو د ګټه اخیستونکو تر منځ دود شي.

## د اوبو د عامه مدیریت د سیستم په اړه موندنې

د اوبو د مدیریت عمومي اصول په ټول افغانستان کې یو بل ته ورته دي. که څه هم په فرعي چارو کې د پاملرنې وړ بدلونونه شته، چې د ځایي کلتور او د اوبو د سرچینو د ځانګړنو د توپیر ښودونکي دي. دا څېړنه ښیي چې د بند د ښکتنۍ برخې د اوبو لګولو پېچلي او لوی سیستمونه په ظاهره توګه د اوبو د سهم د تخصیص په اړه د ټولنیزو او جوړښتي بې عدالتیو تر څټ له ډېر حساسیت څخه برخمن دي. د میراب دودیز سیستم چې په ښکتنۍ برخه کې په پراخه کچه شتون لري، د بې عدالتیو د شرایطو د له منځه وړلو ځواک او وړتیا نلري. په حقیقت کې د مشرۍ ځواک ته په کتو، د شخړو د خلکو همغږي کول، او دفاعي/ وکالت مهارتونه په عمومي توګه توپیر لري. د میراب شهرت د یوې ژمنې او رښتینې واسطې په توګه د خلکو د باور د لاسته راوړلو لپاره یوه لوړه ځانګړنه ده، که څه هم هېڅ میراب د بهرني ځواکمن له مداخلې خوندي ندي[2].

هغه لیدنې چې ددې څېړنې په دوره کې وشوې، وړاندیز کوي چې پداسې حال کې چې د اوبو د دودیز مدیریت سیستم کولای شي چې د اوبو څخه د ګټې اخیستلو په تنظیم کې د معمولو شرایطو په شتون کې اغېزمن وي، مګر د اوبو د زښته زیات کموالي په پام کې نیولو لپاره کمه وړتیا لري. په پای کې د خلکو وړتیاوې د بزګرانو د اړتیا د پوره کولو لپاره د اوبو په هغه جریان پورې اړه لري چې ثانوي کانالونو ته داخلېږي. د اوبو د سهمونو بیاتخصیص او کمبدل چې ښایي د اوبو د توزیع د ناغو د تنظیم لپاره اغېزمن وي، د اوبو د معمولي جریان په شرایطو کې په ډېره ښه توګه کېدای شي د کموالي اغېزه وویشي او یا دا چې هغه ببرته ښکتنۍ برخې ته ولېږدوي. تر اوسنیو شرایطو لاندې د اوبو د تخصیص د تړونونو په وړاندې د ژمنې سرته نه رسول، د سیستم د لومړۍ برخې د ټولنو لپاره کمې اغېزې لري. په تېر وخت کې د سیالو ټولنو فشار د اوبو د اسراف د مخنیوي په برخه کې د سیستم د لومړۍ برخې د ټولنې لخوا وارد بدونکی فشار کافي ؤ، مګر په اوسنیو څو لاسي سیاسي شرایطو او د نوي ځواک په ځای په ځای کېدو سره دا مسئله نوره زیاته پاتې نشوه. اوس د سیندونو په حوضو کې د یوه پراخه صلاحیت لپاره د اړتیا احساس کېږي، تر څو وکولای شي د اوبو د ګټه اخیستونکو د سیستم د لومړۍ او وروستۍ برخې د انډول د رامنځته کولو لاره اواره کړي. ځینې لویې ستونزې د سیند حوزو په کچه پیدا کېږي، د کانالونو په کچه کې د اوبو د جریان په خلاف د سیندونو د حوزو په کچه کې د اوبو د دودیز مدیریت لپاره ټولیزه پرېکړه هېڅ سابقه نلري، نو وړاندیز شوي سازمان د ځانګړو تنونو لویه برخه ده. د عملیاتي

1 کاي ویګریچ، د اوبو ستراتېژي ځایي واقعیتونو ته ځواب وایي، (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۷۸۳۱ کال)، ۹۴

2 سرینیواس چوکا کولا، (( په اوبو لګولو کې د بې عدالتۍ استنطاق: د انجیل په ولسوالۍ کې د اولګولو د کانال سیستم، )) ، ( کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۷۸۳۱)

جوړښتونو بنسټونه یا د برخې او مسئولیت انډولتیا (چې په ښکاره د ګټه اخیستونکو د پلان جوړونې اساسي مرکز دي) هغه بنسټیزه ستونزه نده چې د اوبو د دودیز سیسټم د کمزورتیا لامل ګرځي، بلکه واقعي ستونزه د سهمیو د استحقاق او مسئولیتونو پلي کول دي. مګر دا چې د اوبو څخه د ګټه اخیستونکو ټولنې او د سیند د ډنډ شورا ګټور میکانیزمونه د یوه ټولیز توافق لپاره رامنځته کړي، نوي بنسټونه د دودیزو ادارو په پرتله په ښه توګه کولای شي لګښتونه چارج کړي.

هغه ټولنې چې د د اوبو د مدیریت، څارویو او د تریاکو د اقتصاد د څېړنیز ټیم په پوښښ کې وې، مشخصه کړې یې ده چې دولت د لومړیتوب بندۍ اړتیا لري او باید د اوبو د سهامو د تخصیص د جنجالونو د حل لپاره لا ډېر ملاتړ وشي.

د سیند د ډنډ شورا کېدای شي بالقوه د بې تناسبو ځواکونو د تعادل د مینځته راوړلو لپاره ګټورې ټولنې وي، او دا په هغه صورت کې دی چې هغوي د اوبو څخه ګټه اخیستونکیي د ټولنې په نظر کې مشروع دي. دا مسئله کله کله د سیند د ډنډ شورا له تاسیس څخه مخکې وي. تر اوسه دا څرګنده نده چې کوم لنډمهال اقدامات باید تعقیب شي، پدې اړه لاډېرو پاملرنو ته اړتیا شته.

د بغلان په ولایت کې د جنګروګ د کانال د میراب د سیسټم د تاریخچې په اړه یوه موردې مطالعه د کانال په کچه د اوبو د مدیریت د مهمو زاویو د کشف سبب شوه، میراب ته د معاش د ورکولو، د کارګو ټولیز سازمان او د اوبو د غوښتنې تنظیم په شان مسایل.

دا مسایل د کانال د سیسټم د تاریخچې په بهیر کې د بدلون په حال کې ده. دا بدلونونه تل د ځایي حکومت او یا قوماندانانو له خوا پلې شوېده، (میراب ونډه نه درلوده). که څه هم میرابان وروسته له جګړې نه د کانالونو په بیارغولو کې د بریالیو نوښتونو لامل شوي دي. دغه موندنې د هغو مفاهیمو په اړه د شک لامل کېږي چې ګواکې میرابان ((د عرفي حقوقو په بنسټ پخوانیو او دودیزو قواعدو)) ته وفادار دي او هغه کانالونه په پراخه کچه د ټولو ټولنو لخوا او د دوی د ټاکل شویو میرابانو لخوا اداره کېږي.

## د اوبو د پالیسۍ په اړه پایلې او وړاندیز شوی حقوقي چوکاټ

د اوبو د سرچینو د هر اړخیزه مدیریت موخه په دوو برخو کې ده اول دا چې د ګټه اخیستونکو لپاره د اوبو ټولیزه کچه زیاته شي (د بېخبنایي چارو له لاري) او دوهم دا چې د اوبو وېش په عادلانه ډول وي، د اوبو په برخه کې په ټولو لویو سکټورونو کې چې د دغه چوکاټ لاندې فعالیت کوي[۳]، د اداري سمون له لارې. د اوبو د اداره کولو په برخه کې مساوات کېداې شي د هغو محصولاتو وردو بازار ته زیات کړي چې اوس د کانال د لومړیو ځمکو تر واک لاندې دي. حتي هغه کسان چې د کانال په وروستۍ برخه کې اوبو ته نیمګړې لاسرسي هم لري، وکولای شي د خپلو غلو دانو محصولات زیات کړي او په ۱۳۸۲ کال کې د غلو د بیو د لوړوالي څخه وروسته دا د کرنې وزارت د پالیسۍ یوه مهمه موخه ده.

د اوبو د سرچینو د مدیریت ستراتېژي چې د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتېژۍ پورې اړونده ده او د اوبو د قانون مسوده د هغې غوښتونکې ده، تر څو د اوبو د سرچینو عام مدیریت او د اوبو لګولو بېخبناوې رواج ومومي. ددې ټکي په یادولو سره چې د اوبو د دودیزو رئیسانو (میرابانو) د کار ظرفیت په مختلفو برخو کې توپیرلري. دوي وړاندوینه کوي چې د اوبو د کاروونکو نوې ټولنې به د دوي د زیاتې برخې ځای ونیسي. د دودیزو سیسټمونو یا د کاروونکو د نویو ټولنو لپاره د دغو/یا د کلمو استعمالول ښایي لارورکوونکي وي. دا سې ښکاري چې د خلکو ټولنې د کانالونو تر څنګ د میرابانو انتصاب ته ادامه ورکوي او وروسته باید میرابانو د حساب ورکولو لپاره ټولنې رامنځته کوي تر څو په لاندې چارو غور وکړي:

۱. د ستونزو په حل کې آساني تر څو د لومړیتوب لرونکو موضوعاتو لپاره اتفاق وکړي

۲. د پرمختیایي مرستو لپاره د اړیکو د ټکو رامنځته کول

---

۳ د پلان شویو پروګرامونو لنډیز **B. TUOR** ته ورکړل شوي، د اوبو بهیر څرنګه دی: په افغانستان کې د اوبو لګولو د سیسټمونو ډولونه (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ۲۸۳۱)

### ۳. د حقوقي رسميت تر لاسه کول او د اړونده دولتي ادارو سره د اړيکو رامنځته کول

د اوبو د ګټه اخيستونکو د ټولنې د اساسنامې مسودې کم ترکمه‌دوه پروژې د افغانستان لپاره چمتو کړېدي[۴] دا مسئله د هغو اندېښنو د زياتوالي سبب شوي چې د اوبود کاروونکو ټولنو د رامنځته کولو ازمايښتي کړنلارو په افراطي توګه د اوبو د ګټه اخيستونکو د کړندودونو او جوړښتونو سپارښتنه کوي چې د ځاي ځانګړتياوو سره د ورته والي د کمېدو سبب کېږي. ډېر شمېر پلان جوړوونکي د اروپايي ټولنې لخوا د تمويل شويو د اوبو د ادارې د ازمايښتي اشتراکي سيستم پروژې د ځاي شواهدو ته په پام ګوري. دغه پروژه د عامه کړنې قوي ملاتړې مګر په انعطاف منونکې بڼه ده. دا پروژه د يوې ځېړنې په يوه مرحله کې پيل شوېده، تر څو د موجوده اندېښنو او کړونو د پوهېدو سبب شي، او د اوبو د توزيع اود کانالونو د هايدروليک سيستمونو مشخصات او معلومات را ټول کړي دا پروژه په څرګنده د نوي بنسټيزو جوړښتونو د جوړښت د ازمايښتي عرحې تعقيب خنډ ده او دهغوي په ځاي په هغو موضوعاتو تمرکز کوي چې د کانالونو د شاوخوا ټولنو له خوا ارزښتناک پېژندل شوي دي. په پايله کې د کانالونو په منځ کې د اوبو اداره توپير لري. د اوبو لګولو د کړنو سره سم توافق شوې حل لارې تل مطلوب نه وي مګر عموماً اړين بربښي د ځېړنې مرحله. که څه هم د اوبو د کاروونکو د ټولنې د منځته راتګ لاپره پر ازمايښتي کړنه د د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د اوبو د سرچينو د سکتور د مديريت ستراتيژي په سند کې وړانديز شوی مګر د اوبو قانون دا ټاکي چې د اوبو د کاروونکو ټولنو ډولونه، صلاحيتونه، مسئوليتونه د دغه ټولنې د اساسنامې په واسطه په تنظيم شي( ۱۸ ماده) مګر دا مشخصه نده چې د ټولو ټولنو لپاره يوه اساسنامه کافي ده او که دا چې د لږ انعطاف سره د اوبو د ګټه اخيستونکو ټولنې د خپلې اساسنامې په جوړولو کې خپلواکه ده.

څاه ګانو او کاريزونو څخه تر ځمکه لاندې اوبه په مشترک ډول د يوه خصوصي ملک په توګه د خاوندانو په وسيله او د عامه ادارې د سيستمونو په وسيله اداره کېږي.

د تر ځمکې لاندې اوبو نامنظم رااېستل د نورو ګټه اخيستونکو لپاره د کښت سبب کېږي او د اوبو د عرضې د دوام په اړه د اندېښنو د زياتوالي سبب کېږي. د اوبو د قانون سره سم د نويو څاه ګانو کيندنه او د ژورو څاګانو جوړښت د سوداګريزو، صنعتي، کرنيزو په ښاري سيمو کې د څښاک د اوبو چمتو کولو لپاره يوې جوازنامې ته اړتيا لري (۲۱ ماده) که څه هم دغه ماده د شته بېخبناوو د لپاره د جوازنامې د ورکړې اړتيا ته اشاره نه کوي. ظاهراً دا قانون يوازې د عامه مديريت په سيستمونو کې پلي کېږي. ځکه د څاه ګانو او کاريزونو شته وګړو او خاوندانو ته پکې هېڅ اشاره نده شوې. ليدل کېږي چې دا يو با ارزښته واټن دی.

د غنمو او وريجو د ژرندو او د مايکرو هايدوپاور د فابريکو د شمېر د زياتوالي د کانال په پاي کې د اوبو ګټه اخيستونکو ته ګواښ رامنځته کوي مګر هايدروپاور فابريکې او ژرندې د اوبو ګټه اخيستونکو په توګه نه ګڼل کېږي. د اصلي کانال څخه دويمې درجې کانال ته د اوبو د لويې برخې د اوښتو لامل ګرځي. او د هغه ځايه ښايي چې اوبه سيند ته واوړي يا دا چې نورو کانالونو ته واردې شي. او پدې توګه د ساحوي کانال د وروستۍ برخې ګټه اخيتسونکو ته د اوبو د کچې د کمښت لامل کېږي. هغه ټولنې چې د اوبو د مديريت، څارويو او دترياکو د اقتصاد د ځېړنې په ترڅ کې ورسره مرکه شوېده، ويلي يې دي چېددې شخړې حل لومړيتوب او زيات ارزښت لري[۵]. د اوبو د قانون مسوده جوتوي چې هغه اوبه چې د بر ښنا د لاسته راوړنې لپاره کارول کېږي (د MRP د دستګاه په ګډون) بايد پداسې شکل اداره شي چې د څښاک او د کورني لګښت د اوبو او د سيند د ساحل او نورو ودانيو د زيان لامل نشي. (۲۵ ماده) پدې ماده کې د کرنې او اوبولو د اوبو چمتووالي ته د احتمالي زيان يادونه نده شوې. سربېره پدې دا قانون وايي چې د اوبولو په سيستم کې د MHP د دستګاه نصبول د کرنې وزارت،

۴ د DIASU لخوا تمويلېدونکې د کرنيز بازار د بيارغوني پروګرام (د ۴۸۳۱ د غوابي ۴) او د بلخ د سيند د هر اړخيز مديريت پروژه، د اسيا د پراختيايي بانګ لخوا تمويلېدونکې پروژه ( د ۴۸۳۱ د زمري مياشت)

۵ کاي ويګريچ، د اوبو ستراتېژۍ ځايي واقعيتونو ته ځواب وايي.

د اوبولګولو او مالداری وزارت، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت، د ګټه اخيستونکو د ځايي ټولنې لخوا تاييد شي. (۲۵ ماده) دا مسئله پدې مانا ده چې MHP دستګاه د اوبو او انرژی د وزارت په وسيله نه تنظيمېږي.

## د جواز او ليسانس مسئوله اداره

(۲۱ ماده) پدې ماده کې ژرندو او د اوبو غيرلګښتي ګټې ته هيڅ اشاره نده شوې. ښايي د نويو ژرندو د جوړولو لپاره د جواز لاسته راوړنې ته اړتيا په هغو شرايطو کې موجوده وي چې د اوبو ايستل چې نوې پرمختيايي پروژې تنظيم کړي.

(۲۱ ماده) مګردا اړتيا جوته نده، دغو تشو ته د پاملرنې اړتيا ده. د اوبو د قانون مسوده د جواز ليک او ليسانس په ګټه اخيستنه کې د څرګندتيا غوښتونکې ده، د هغو اوبو د کچې د معلومولو لپاره چې په کانال کې منحرفېږي او يا دا چې د خلکو ځمکو ته ځي، او سمهال ورته هيڅ ډول تکنالوژي نشته.

د څارويو په هکله د اوبود مديريت، مالداری د ترياکو د اقتصاد موضوعي څېړنې يولړنوورو سره تړلې موضوعګانې په نښه کړي. لمړنۍ څېړنې په کليوکې د څارويو دتوليداتومهمې ځانګړتياوې تشريح کړي، په داسې حال کې چې ورستنۍ څېړنې د څارويو د توليداتو لپاره د بزګرانو لخوا دخوړو د سرچينو او کاورنې ته د لاسرسي څرنګوالی، دمحصول د ډول[۶]، دڅارويو لپاره دبازار موندنې دمؤثريت درجه[۷]، اود څارويو د محصولاتو د ښه والي د څرنګوالي په شان مطالب رانغاړي. په دغو څېړنو کې هڅه شوې ده چې هغه اقدامات په ګوته کړي او بازار سره آشنا حيواني محصولاتو سره مرسته کيدای شي په ډېره ګټوره توګه تر هدف لاندې ونيول شي.

## دحيواني محصول له سيستمونو سره اړوندې موندنې:

څاروي د محصولاتود ډولونو، خطرونو دکموالي او عوايدو د زياتوالي له لارې د بزګرانود معيشت د زياتوالي لامل کېدای شي. شته سرچينو او د توليد شرايطوته په کتنه، څاروي کولای شي چې په يو لړ کرهنيزو سيستمونو کې شامل شي. دبيلګې په توګه، ډېر کم شمېر څاروي په ګټوره توګه آبي کرهنيز سيستم کې کولای شي شامل شي، په داسې حال کې چې د پسونو او اوزو رمې په لويه کچه په خطرناکو للمي شرايطوکې مناسبې دي. په افغانستان کې د پسونو او اوزوسوداګريز محصولات طبيعي څرځايونوته د لاس رسی اړتيا لري ؛ خو په ژمي کې د څارويود روزنې ټول سيستمونه کرل شويو يا پيرودل شويو وښوته اړتيالري؛ دا هغه وخت دی چې څرځايونه د څرلپاره مناسب نه وي. دڅېړنې موندنو دا ښودلې ده چې، خوړو ته لاس رسي د ژمي په مياشتوکې د څارويو د د دوام لپاره د بزګرانو پر وړاندې يوله مهمو خنډونو څخه دی.

غوا لرنه (ګاوداري) د ورځني ژوند لپاره ډېره مهمه ده(د لبنياتو توليد د کورني لګښت او دغواييو په واسطه د ځمکې يوې کول). د مديريت دغه ډول د کرهنيزې ځمکې پر بنسټ او په ژوره توګه د کرل شويو وښو پربنسټ دی. برعکس، د اوزوو او پسونو محصولات هم د کورنۍ او هم په بازارکې د خرڅلاو لپاره اوپه ډېره کچه له څرځايونو او له غيرې کرهنيزو ځمکو ړ څر ځايونو څخه کار اخلي. سربېره پردې، په څېړنيزه ساحه کې دشته څارويو ډېری محصولات له تمې له حد څخه کم وي او په ژمي کې وښوته لاس رسی د ټولو توليدي سيستمونولپاره يو له مهموخنډونو څخه ګڼل کيږي.

د کرهنې د پراختيا ملي کاري چوکاټ څرګندوي چې په ژمي کې څارويو ته د وښو او خوړو کمښت په افغانستان کې د حيواني محصولاتو په وړاندې يوله لويو خنډونوڅخه دی او سپارښتنه کوي چې بايد يو ژمنی تغذيوي پروګرام رامنځته شي او د کليو د پورونوله هغه پروګرام سره وتړل شي چې د کرهنيزو موسمي اړتياو لپاره پورونه چمتوکوي چې د کرهنې د موسمي طبيعت

۶ د حيواني خوړواوتوليدي رژيمونوپه هکله د تفصلي توضيحاتولپاره دې،آی. فتززبرت، دترياکواقتصاد او څاروي:حيواني محصولات او خواړه،(کابل:د افغانستان د څېړنې اوارزنوې واحد،۵۸۳۱ ). همدارنګه الن ور، پرکورنيو اوفارمونوباندې د نظارت دلمړي کال پايلې، ته دې مراجعه وشي.

۷ دڅارويو د بازار موندني په هکله د لاډبرومالوماتو لپاره دې ټامپسن، (داوبو،څارويو او ترياکواقتصاد مدريت؛ د څارويو د بازارموندنه) (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد،۵۸۳۱ ) ته مراجعه وشي.همدارنګه په فارمونو او کورنيو باندې دنظارت دلمړي کال پايلو، ته دې مراجعه وشي.

ښکارندوی دی. همدارنګه وړاندیزکوي چې په کليوالي سيموکې د وښو، کشميرو او وړيو زېرمې جوړې شي ترڅوچې په بازارونوکې د بيوله موسمي بدلونو څخه ګټه پورته کړي اوياهم د پورونو د ضمانت په توګه وکارول شي.

په للمي سيموکې نسبت آبي او نيمه آبي سيموته د رمې مديريت، عمدتاً بازارته د وړاندې کونې لپاره وي. د للمي سيمو بزګران لويې رمې اداره کوي؛ پسونه داوزو په پرتله ډېر ښه روزي؛ او د آبي سيمو په پرتله لږ نارينه خاروي لري. سره له دې، د خارويو د روزنې د مديريت د ټولو ډولونو څخه، د کوچيانو د کوچنيو رمو محصولات په ډېره ښه بڼه د بازار له پاره چمتوشوې دي، په داسې ډول چې د رمو اندازه لويه، د پسونو تناسب ډېر او د نارينه خارويو کچه لږه وي.

بازارته په کتنه د کوچيانو له لورې د اوزو او پسونو د روزنې څخه دلاسته راغلې ډېرې اقتصادي ګټې لپاره بايد د فرعي سکټور ودې او انکشاف ته ډېره پاملرنه وشي. خو د هغوی اقتصادي ګټه د ځمکوپه سرد جګړې له کبله له ګواښ سره مخ شوې ده ځکه چې دوديزو څرځايونو ته د نه لاس رسی لامل شوی دی او يوه پايله يې هم ناقانونه کرهڼه، ساختماني چارې او دځمکو تصرف دی. له همدې امله، کوچيانو د خپل د معيشت ددوام لپاره مزدوريو ته مخه کړې ده. سربېره پردې، په څر ځايونوکې روغتيايي خدمتونه او د خارويو پراختيا[8] ډېره محدوده وي. او د هغې پر ځای زياتره هغو ځايونو کې چې خاروي د معيشت د وسيلې په توګه کارول کيږي متمرکز دي. د کرهنې ملي پراختيايي کاري چوکاټ د دغو ستونزو د لرې کولو لپاره له بېلابېلو لارولکه د کوچيانو لپاره د يوه مرستندويه پروګرام جوړول، لرو پرتو سيموته دوترنرانو د شبکې د ساحوي واحدونو پراختيا او د ځمکو او څرځايونوپه سر د اخ و ډب د حلولولپاره ديوه ميکانيزم له جوړلو څخه کار اخلي.

د ۱۳۸۸ کال دکرهنې ملي پراختيايي کاري چوکاټ دخارويو فرعي سکټور ته نسبت بڼوالی سکټورته لمړيتوب ورکړ ترڅوچې وکولای شي ديوې انډولې لارې نه اقتصادي ودې او د بېوزلۍ په راټيټولو کې مرسته وکړي. د اوبود دمديرت، مالدارۍ، ترياکو د اقتصاد څېړنه په څرځاي لرونکوسيموکې د حيواني محصولاتو مقايسوي ګټې څرګندوي. په کم آبه او حاشيوي سيموکې له خارويوڅخه لاسته راغلې ګټه( په هغه ځای کې چې مالداران او بزګران د خپل ژوندانه دتامين لپاره د معيشت نور لږ امکانات لري او ډېر زيات د ګواښ سره مخامخ او زيانمنونکې دي) ، د بېوزلۍ د کمښت لپاره د ريښتينو فرصتونو د برابرولو لامل کيږي.

د سيمې څخه لاس ته راغلې شواهد څرګندوي چې ډېری بزګرانو د توليدد لګښتونو په کمښت لاس پورې کړی چې له همدې امله له خپلوخارويو څخه اعظمي محصول په ندرت سره لاسته راوړي. يوائې بډايه بزګران اومسلکي مالداران د ډېرې ګټې کولو او لويو رمو درلودلولپاره، اضافي لګښتونه او ګواښونه په ځان مني. په پايله کې لګښتونه کميږي، د وري او اوزو بچيان په کافي اندازه نه چاغيږي اوپه مناسبه بيه نه خرڅيږي.

لکه څرنګه چې پورته هم يادونه وشوه، غوالرنه(ګاورداري) کابو ټل د شيدو د توليد او دکورنۍ د لبنياتو اړتياوو دپوره کولولپاره وي. سيمه ايزې کتنې او ورنه لاسته راغلي معلومات څرګندوي چې ډېری فارمونه يوائې يوه غوا لري او لاسته راغلې شيدې يوائې ديوې کورنۍ لپاره بسيا وي چې د خرڅلاو لپاره کوم څه نه پاتې کيږي. د شيدو اضافي اندازه د بالمثل معاملې د اصل له مخې، معمولاً د کورنيو ترمنځ شريکيږي. معمولاً شيدې د ښځولخوا د شيدو په يوشمير دوام لرونکو او نه دوام لرونکو محصولاتو بدليږي، ځکه چې ښځې د غوا او نورو خارويو د لويشلو دنده پرغاړه لري[9]. په حقيقت کې بزګران کله چې په نيمه ښاري سسيمو کې ژوند کوي نو يوائې بازارته د شيدو پلورلوفرصت پيداکوي او د دوو يا ډېرو غواګانود روزنې لپاره په خپل فارمي سيستم کې سرچينې په واک کې لري.

د اوبومديريت، مالدارۍ او ترياکو د اقتصاد څېړنې څخه لاسته

8 ترويجي خدمات عبارت له هغوتخنيکي مرستوڅخه دي چې د دولتي ترويجي چارواکوله خوا بزګرانوته چمتوکيږي.(( دخارويو ترويج)) ؛ د کرهنې د نوروډولونو په پرتله، په خارويوباندې متمرکزه دی.

9 د شيدو د محصولاتو تفصيلي توضيح او د تهيه کولو لاره يې په ۲ ضميمه کې، ا. فتزربرت، (( د حيواني محصولاتو خواړه))، وړاندې شوې ده.

راغلي شواهد څرګندوي چې، يوائې لږ شمېر بزګران( هغوی چې له وړاندې څخه ځمکې او د اوبو سرچينو ته ترجيحي لاس رسی لري او د نورو نباتاتو په څنګ کې د وښو د کرلو وس ولري په هغه صورت کې کولای شي چې د ښاري سيمو د شيدو او د څارويو د نور محصولاتو لپاره مخ په زياتيدونکې غوښتنو ته نيغ په نيغه ځواب ووايي. د لبني محصولاتو او شيدو د چاڼ( پروسس) د مرکزونو جوړول په لمړي سرکي به ښايي د بېوزله خلکو لپاره ګټور نه وي.

شنو وښو ته د غوا ګانو اړتيا ته په کتنه( په ځانګړې توګه د شيدو د ډېرولو لپاره)، د شيدو ورکونکو څوغواوو لرنه ډېر کله هغه مهال ممکنه ده چې بزګران وکولای شي چې د سيندونو په دروکې په پوره توګه واښه وکري. سربېره پردې، وښو ته د آبي ځمکو د ځانګړې کونې لوی زيان ته په کتنه، د ترټولو کوچنۍ اوبريالۍ د لبنياتو د توليد او خرڅلاو بيلګې هغه مهال ترسترګو شوي چې واښه له نورو نباتاتو( لکه زړې لرونکې مېوو)، سره په يوه کرنيزه ځمکه کې يو ځای وکرل شي او يا تر يوه کرهنيز رژيم لاندې وکرل شي.

د کرهنې مل پراختيايي کاري چوکاټ او د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ/د کرهنې او کليو د پراختيا سکتوري ستراتيژي دواړه دحيواني محصولاتو د زياتوالي لپاره د اصلاح شويو حيواني نسلونو په اهميت باندې ټينګار کوي. داسې ښکاري چې د خصوصي سکتور لخوا د غوييو د فارمونو د جوړولو په صورت کې، کېدای شي چې د مصنوعي القاح د خدمتونو په مټ عوايد لاسته راشي.دا لاره د خصوصي سکتور د خدمتونو د لوړولو لپاره د حکومت له پاليسيو سره په هغه ځای کې چې شونې وي، سمون لري.

د موجوده نسل د اصلاح لپاره د بهرني نسل د واردولو په هکله اوسنۍ ستراتيژي، غلې ده.د بهرني نسل پلويان استدلال کوي چې دغه لاره د موجوده نسلونو د ښه کيدو ترټولو چټکه لاره ده، ځکه چې وطني نسلونه اوږد مهاله ښېګڼيزو پروګرامونو ته اړتيا لري ترڅو چې له مخې يې دڅارويو يو شمېرزيات بچي ترازمايښت لاندې ونيول شي د اغيزمنتوب لپاره بايد يوزيات شمېر د څارويو روزونکې په نښه شي. د بهرني نسل مخالفين استدلال کوي چې د بهرنيو نسلونو د تورېد او د يو ښه نسل د د ساتنې لګښتونه او ګواښونه د دې لامل کيږي چې دغه ستراتيژي د افغانستان له شرايطو سره ښه سمون ونه لري. بهرني نسلونه د هېواد له اقليمي شرايطو سره لږ سمون لري، له سيمه ايزو ناروغيو په وړاندې لږ مقاومت ښکاره کوي او د سختو شرايطو په وړاندې ډېر حساسيت ښيي. سربېره پردې، هغوی د نويو نسلونو دوره اي تورېد ته اړتيا لري، ترڅو چې په نسل ګيرۍ کې جنيتيکي ښېګڼې په پام کې ونيول شي.

د لبنياتو د توريد او د شيدو غواګانو ډېری پروژو خپل کارونه پلان کړي يا يې له وړاندې څخه ترسره کړې دي. د ښوالۍ او د مالداری پروګرام دکشميرې اوزو نسل يې له منګوليا څخه وارد کړی او په يوه دولتي فارم کې يې د نسل ګيرۍ يو ستېشن رامنځته کړی دی. همدارنګه د ننګرهار بزګرانو د شيدو د توليد ډېرولو لپاره پاکستاني اوزې له مخکې نه واردې کړې دي. په راتلونکې کې د پروګرامونو او پروژو د طرحې لپاره بايد دغه نوښتونه د شواهدو په توګه په پام کې ونيول شي.

## د څارويو د بازارونو په هکله موندنې:

د څارويو دبازار له معاملاتو څخه لاسته راغلي معلومات څرګندوي چې د څارويو د وضعيت( د بيلګې په توګه اندازه،عمر يا وزن) او بيې ترمنځ يوه ډېره محدوده متقابله اړيکه شتون لري، نو له همدې امله د مالدارانو لپاره قوي دلايل شتون نه لري ترڅو چې د څارويو د وضعيت ښه کولو لپاره پانګونه وکړي. سربېره پردې، کيسه ايز شواهد وړانديز کوي چې بزګران يو کم شمېر وري په څرځايونو کې د مېښتو مالدارانو څخه اخلي او د کرل شويو وښو او نورو نباتاتو او د نباتاتو د پاتې شونو په ورکولو سره يې چاغوي او وروسته يې په جګه بيه پلوري[۱۰].

لکه د نورو کرهنيزو محصولاتو د څارويو بيه هم موسمي بدلون مومي. چې دا بدلونونه په وړو رمو کې ډېر څرګند دي. همدارانګه، نورفکتورونه لکه وچکالي او د سوداګرانو چال چلند د موسم په

۱۰ رو،د اوبو مديريت،څارويو او د ترياکو اقتصاد : پرکرهنه باندې د ولاړ قانوني ژوندانه د پياوړتيا لپاره فرصتونه او ننګوني، XV او ۸۴. د تامپسن پربنسټ، (( د اوبو مديريت،څارويو او د ترياکو اقتصاد : د څارويو بازارموندنه)).

پرتله د بیې په کچه او د بدلونونو په اندازه لویه اغیزه لري. لاډېرې څېړنې ددې ضمانت کوي چې د بازار په بیو کې ډېره پوهه حاصله شي او د اسې ستراتیژۍ طرح شي چې د بیو د بازارځخه د راپورته شویو ګواښونو په برخه کې له بزګرانو سره مرسته وکړي.

په افغانستان کې د ښاري عوایدو د زیاتوالي د دوام په صورت کې لکه څنګه چې په څوتېروکالونوکې وو؛ د غوښې، لبنیاتو او تازه شیدو د ثابتې غوښتنې هیله کیږي.د شیدو، هګیو، کنګل وهلوچرګانو او ژوندیو څارویو( عمدتا ً غواګانې او مېښې) د اړتیا یوه لویه برخه له پاکستان او نورو هېوادونو څخه په وارديږو پوره کیږي او څرګندوي چې یو ښه داخلي بازار د افغاني لبنیاتي محصولاتولپاره شتون لري، خو په دې شرط چې مالداران په بریالۍ توګه له وارداتي بیوسره سیالي وکړی شي.

د نیمه ښاري سیمو مالداران له دغه مخ په زیاتیدو غوښتنې څخه ښه ګټه اخیستلای شي. دښار په شااو خوا کې د اخیستل شویو بچیانو چاغول یو عملي میتود کېدای شي. د څرځای سیمو(د حیواني محصولاتو د بنسټیزو سیموپه توګه) له آبي ځمکو(د بالغو څارویولپاره) سره د ارتباط ورکولو له لارې د ګټه راوړنکي زنجیرد رامنځته کولو لپاره ښکاره فرصتونه یوه کوچنۍ پانګونه او رنګارنګۍ جوړونې لپاره یو چانس دی. دلیرې پرتو سیمو مالداران هم خپل عواید د څارویو د چاغولو له لارې زیاتوي، په دې شرط چې د اړتیا وړ واښه له خپلو ځمکوڅخه لاسته راوړي. دغه حالت د ښه موقعیت لرونکو آبي ځمکو مالک بزګرانو ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د څارویو له روزنې څخه په لاسته راغلې ګټه کې شامل او د څرځای سیمو مالدارانو لپاره د څارویو د شیدي خوړنکو بچیانو په روزنه کې د تخصص زمینه چمتوکړي. اصلي ننګونه هماغه په محدودو کرهنیزو سیموکې د وښو دتولیدي لارو پیدا کونه ده چې اکثریت یې د پیسه جوړونکو نباتاتو او اساسي غذایي توکود کرلولپاره کارول کیږي.د کرهنې ملي پراختیایي کار ي چوکاټ د وریو له چاغوالي څخه یادونه کوي او دیو اضافي لارې د ودې چې د پسونو او اوزو د تولیداتي پراخو سیستمونو یو ځای کېدنه د نیمه متمرکې ژمني مدیریتي سیستم سره وړاندیزکوي.

له هغه وخته چې ډېرکم شمېر بزګران د غنمو له اړخه پرځان بسیا دي، نو مهمه ده چې د څارویو د پیرودلو د ځواک بدلونونه له غنمو سره تړلي وګڼو. د غنمو په اوړو باندې د پسونود تبادلې بازار د ۱۳۷۹ کال را هیسې په بې سارې توګه د بدلون په حال کې دی د ۱۳۷۹ کال د وچکالۍ په مهال د دوو بوجیو اوړو په بدل کې د یوه پسه له خورا ارزانې تبادلې څخه نیولې بیاد ۱۳۸۲ کال په وروستیو کې تر۵٫۷ لوړ نرخ پورې، چې د ۱۳۸۲ کال په منځ کې ۲ ته په تدریجي توګه کم شوی څرنګه چې د غنمود اوړو بیه لوړه شوې وه، وروسته بیا د۱۳۸۷ کال په منځ کې په چټکۍ سره ۲ ته راولوېږد.د پسونو د پیرودنې په برخه کې دغه بې سارې بدلونونه دد مالدارانو له وچکالۍ او د اوړو دبیو د چټک لوړوالي له امله د سختې زیانمنې شاهد دی.

## ۴٫۳ د تریاکود اقتصاد په هکله مهمې موندنې:

د د اوپو دمدیریت مالداری او د تریاکو د اقتصاد موضوعي څېړنه څرګندوي چې په افغانستان کې د تریاکود کرلو لپاره ډېرې انګېزې شتون لري او همدارانګه په کلیوالو کورنیو باندې د کوکنارو د کښت د کموالي اغېزې په ډاګه کوي. لاسته راغلي شواهد د وروستیو ادعاو په خلاف دي چې وایي په افغانستان کې د کوکنارو کښت له بېوزلۍ سره نور تړاو نه لري.همدارنګه دغه څېړنې د نښه یي توکوپه وړاندې د مبارزې له ستراتیژۍ سره مل ستونزې، د اقداماتو د ترتیبولو په شمول چې د کوکنارو په کښت کې یې او سنی کمښت غیردوام لرونکی کړی دی هم په ډاګه کوي. د نښه یي توکو په وړاندې د مبارزې د بریالیتوب نیمګړې اندازه چې د تیرو کلونوپه اوږدوکې د کوکنارو د کرل شویو هکتارونو ځمکوپه کموالي باندې متمرکزه ده دپراخو اقداماتو د مخنیوي اودا سې پایلو ته د پام اړونې لامل شوې چې د دوام لرونکې لاس رسۍ د بریالیتوب لپاره اړینه ده.

## د کوکنارو د کښت په هکله د بزګرانو د پرېکړو سره اړوندې موندنې:

د پېچلو، بیلا بیلو او سره تړلو لاملونو پربنسټ چې په سمه توګه نه دي پیژندل شوي، د کوکنارو د کښت کچه ښکته او پورته ځي. د ۱۳۸۵

**۱۳۸۷** کلونو ترمنځ په بدخشان، غور، بلخ او ننګرهارولایتونو کې د کوکنارو په کښت کې د راغلي بدلون په هکله د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري سیمه ایزې څېړنې څرګندوي چې څرنګه د کوکنارو د تولید اساسي شرایط چې د کوکنارو تولید سره مرسته او یا دهغه څخه مخنیوی کوي د موقعیت، ټولنیزاو اقتصادي ګروپ او وخت ته په کتنه سره توپیر لري[۱۱]. هغوی چې سرچینو، بازارونو اود نیمه کرهنیزو ځمکو عوایدوته ښه لاس رسي درلوده، نسبت هغوکسانو ته چې په لیرې پرتو، کمو سرچینو او د ګوابښ سره مخامخ او نا څرګندو شرایطو لرونکوسیموکې ژوند کوي، د کوکنارو کر کیله کموي او په پای کې د کوکنارو کښت څخه په چټکی سره یې بندوي. په ولایتونوکې له امکاناتو او لاس رسی څخه پورته شوې دا ډول توپیرونه ددې لامل کیږي چې د کوکنارو د کښت د کموالي پایلې او دوام توپیر ولري. دغه حالت همدارنګه په دې مفهوم دی چې د غوراو بدخشان په لیرې پرتو سیمو کې د کوکنارود کښت دوام، له یوشمیر نورو معشیتي عواملو سره اړیکه لري. دغه توپیرونه په ولایتي کچه د پام وړ پالیسیو څخه د ژورې خبرتیا غوښتونکي دي.

د اوبو د مدیریت مالداری او تریاکو د اقتصاد څېړنې د پورته څخه ښکته هڅونه او زور چې په ځینو مواردوکې د مرستې د ژمنو له امله( بلخ او ننګرهار) اوپه نورومواردوکې سیاسي حاکمیت ته د ولایتي مشرانو د درناوي په خاطر(بلخ) د کوکناروکښت له منځه تللو لپاره یو دلیل دی. دغه ډول بندیزونه د د کوکنارو د کر کیلې بی سارې کمښتونو لامل کیږي خو له ناوړه پایلوڅخه یې یوه هم د کوکنارو د کښت په لوړي بېرته د بزګرانو چټکه ګرځیدنه ده، په ځانګړې توګه هغه مهال چې ژمنه شوې مرستې عملي نه شي. د ننګرهار ولایت د دغه حالت یوه بېلګه ده.

اقتصادي شرایط هم دکوکنارو د کښت په کمښت کې ونډه لوبوي. د کوکنارو د کښت کمېدنه هغه مهال ترستوګرکیږي چې بزګران د نورو نباتاتو کرکیلې ته مخه کړي او یاهم محیطي شرایط دکوکنارو دکښت لپاره ناسم وي. په ټوله نړۍ کې د خوراکي توکو د بیو دلوړېدلو، د تریاکو د بیو ورستنی لوېدنه، د پاکستان ددولت له خوا افغانستان ته د غنمو پرصادراتو او په افغانستان کې د اوربښت د ټیټې کچې له امله، د کوکنارو په وړاندې دغنمو په سوداګری کې یومثبت بدلون ترسترګو شوی. په **۱۳۸۷** کال کې د حاشیوي سیمو بزګرانو وکولای شول چې  له خپلوځمکوڅخه د پام وړ غنم لاس ته راوړي چې دژوندانه د لمړنیو خوراکي توکو اړتیاوې یې پوره کړې، پرته له دېنه چې د کوکنارو دکښت او خرڅلاو له لارې غنم لاسته راوړي. د دغه حالت دوام د غنمو د نرخ د ټیټوالي له امله نا څرګند دی. د کارګرانو د مزد ډېروالي هم بېرته د کوکنارو کښت ته په ګرځېدو اغېزه کړې ده. بد خشان د دغه ادعا غوره بېلګه ده، هغه ځای چې لوړ مزد د کوکنارو د کښت د کمېدلو لامل شو کوم چې قویاً په کارګرانو یې اتکا درلوده.

دکوکنارو د حاصلاتو مخکینی کیفیت اوپه روان کال کې کرهنیزو لرلیدونو هم د بزګرانو په پرېکړوباندې اغېزه کړې ده. تېر خراب حاصلات د ګوابښونو د زیاتیدو لامل شول( غور، بدخشان)، په داسې حال کې چې ډېره واوره او باران د دې لامل شو چې د حبوباتو یا نورو نباتاتو په حاصلاتوباندې د بزګرانو باور زیات شي او په پایله کې د کوکنارو دکښت پرېښودلو ته وهڅیږي( غورپه **۱۳۸۵** **۱۳۸۲**کالونوکې).

د کر کیلې پیلګې مطلقاً د بدلون په حال کې دي: نه یوازې بزګران د هرکال په اوږدوکې خپلو کرهنیزو نباتاتو ته بدلون ورکوي، بلکې هغه مهال چې په یوه سیمه کې دکوکنارو کښت منع کیږي، بلې سیمې ته انتقال مومي؛ په ځانګړې توګه هغه مهال چې امنیتي او رسمي لاملونه په څرګند یا نا څرګند ډول ورسره مرسته وکړي. په سویلي(جنوبي) سیموکې د کوکنارو کښت د دغه ادعا شاهدي ورکوي. د ټیټې بیې او کمې ګټې سره سره، په **۱۳۸۷** کال په سویلي سیمو کې د کوکنارو کښت خپل لوړحد ته ورسېد. په سویل یعنې هغه ځای کې چې د ټول افغانستان **۹۸** سلنې تریاک تولیدوي، دتریاکو کښت د امنیتي وضعیت ، اقتصادي ودې او سالمې اداري د نه ښه والي په پایله کې منځته راغلی دی. په سویلي ولایتونوکې

۱۱ ډیویډ منزفیلډ اوآدم پېن، سیمه ایزشواهد ، په افغانستان کې د کوکنارو دکښت په درجه کې د راغلیو بدلونونو څېړنه(کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ، **۵۸۳۱**)؛ ډیویډ منزفیلډ او آدم پېن، په افغانستان کې د نښه یې توکو پروړاندې مبارزه: د بریالیتوب ناکامي؟( کابل: دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ،**۲۸۳۱**).

فزيکي نا امني د تېرې يوې لسيزې په اوږدوکې خپل خورا ناوړه کچې ته رسيدلې ده. سربېره پردې، د فاسدو چارواکو ګټه غوښتونکی چال چلند، پاټکونه او د بې مورده ماليات اخيستنه هم مخ په زياتېدو ده چې مارکېټ ته له رسېدو سره سره يې بياهم دقانوني کرهنيزومحصولاتود ګټو د کمېدو لامل کيږي[12]. هغه کسان چې د ځمکې له لارې سفرکوي؛ د دولتي چارواکو او مخاليفينو له تاوتريخوالي، ګواښونې او د مالونو له په زور اخيستنې سره مخ کيږي. په دا ډول شرايطوکې، په ډېرو خطرناکوشرايطوکې هم د کوکنارو کښت يو کم خطره کار دی. کښت يې ګټور، د محصول وزن کم او نه خرابيدونکی هم دی.سربېره پردې، بزګران يې په خپلو ځمکوکې پلوري او د ولايت، ولسوالۍ يا نوروبازارونوته د سفر اړتيا نه پېښيږي[13]. په سويل کې داسې يوه عقيده شتون لري چې فاسد دولتي چارواکي که څه هم چې د کوکنارو کرکيله نه هڅوي، مګرهغه زغمي؛ دا هم کېدای شي چې دولتي چارواکي نسبت طالبانوته د نېشه يي توکوپه سوداګرۍ کې لويه ونډه ولري[14].

په پای کې کولای شو ووايوچې د کوکنارو تل پاتې کمښت څوفکتورونوپورې اړه لري چې ترټولو مهم يې: د امنيتي وضعيت ښه والي، اقتصادي وده او سالمه اداره ده.

## دبې وزلۍ، نا امنۍ او کوکنارود توليد ترمنځ د اړيکوپه هکله موندنې:

په افغانستان کې بېوزلي، نا امني او کوکنار يوله بله سره ذاتي اړيکې لري. سره له دې چې کوکنار د افغانستان په ډېرو سيموکې د بېلابېلو ټولنيزو او اقتصادي ډلو په واسطه کرل کيږي، خو کښت يې ډېر په کم آبه، ګڼ ميشته، او د محدودو عايدات لرونکو فرصتونو نيمه کرهنيز او غير کرهنيزو ځمکوکې او هغه ځای کې چې انساني

12 ډيويډ منزفيلډ، د بې ثباتۍ او ګواښونوپه وړاندې غبرګون: د ۲۸۳۱ ۷۸۳۱ په کرنيزو موسمونوکې په کوکنارو باندې د متکي کورنيو په ژوندانه کې د راغليو بدلونود ماهيت څېړنه( په افغانستان کې د نېشه يي توکوپه هکله د بريتانوي حکومتي واحد لپاره ترتيب شوی راپور، تله ۷۸۳۱ کال).

13 ډيويډ منزفيلډ، ((د بې ثباتۍ او ګواښونوپه وړاندې غبرګون)).

14 دافغانستان په سويل کې د مهمو خبررسونکو له خولې، دشخصي اړيکوپربنسټ، د ۷۸۳۱ کال د وري مياشت، د منزفيلډ او پين مندرجات، د نېشه يي توکوپه وړاندې مبارزه: د برياليتوب ناکامې، ۲۱.

نه خوندي توب خورا زيات وي، متمرکز دی. لکه څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، دهېواد په ځينو سيموکې د فزيکي نا امنيو ډېروالي د کوکنارو د کښت دزياتوالي لامل دی.

دغه موندنې دلاندې څرګندونو او په د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي کې د ورته اخځليکونولخوا ترننګونې لاندې نيول شوې دي او په دې اند دي چې بېوزلي د کوکنارو د کښت لپاره د بزګرانو د پرېکړې يو مهم فکټور نه دی:

*په حقيقت کې اوس مهال د افغانستان دهغوټولوولسواليو بزګران چې درې کاله وړاندې يې کوکنار نه کرل دهغه په کرلو يې پيل وکړ؛ او ډيروهغو چې مخکې يې کرل، اوس يې کر کيله درولې. په دغوپرېکړوکې بېوزلي کوم ټاکونکی لامل نه دی، .... ترټولوبېوزله کسان د افغانستان په شمال کې ژوند کوي او د کوکنارو توليد يې خورا راکم کړی يا يې بېخي درولی دی. له بل لورې، د سويلي سيمو بډايه ولايتونو د کوکنارو کښت ته د پام وړ زياتوالی ورکړی دی*[15].

هغه څرګندونې چې شمالي ولايتونه يې لږبېوزلې ښودلې د مرکزي احصائيې (CSO) د دفترلخوا نه دي تائيد شوي.د مرکزي احصائيې د فترلخواپه ۱۳۸۳ کال خپاره شوي معلومات څرګندوي چې د ټولنيز او اقتصادي سوکالۍ له اړخه سويلي او شمالي ولايتونه په ورته ډول سره ويشلې دي. د افغانستان د ۳۴ ولاياتوڅخه د سويلي ولايتونو اقتصادي او ټولنيزه سوکالي يې په لاندې ډول درجه بندي شوې ده:هلمند په ۲ درجه کې، کندهارپه ۱۵ درجه، ارزګان په ۳۲ درجه، او زابل په ۳۳ درجه کې. د شمال اوه ولايتونه لاندې درجې لري:

جوزجان ۱ درجه، بلخ ۹ درجه، بغلان ۱۱ درجه، سمنګان ۳۱ درجه، باميان ۱۸ درجه، فارياب ۲۵ درجه او سرپل په ۳۱ درجه کې ځای لري. داسې ښکاري چې د د نشه يي توکو او جرمونو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري څرګندونې به د هغه معلوماتو پر بنسټ وي چې د د

15 د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت ، د نېشه يي توکوپه وړاندې د مبارزې ستراتيژي؛ دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۱.

نشه یي توکو او جرمونو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره‌ د څېړنو په پایله کې چې د کورنۍ د منځنۍ برخې عایداتو په هکله د تریاکو د کرونکو او نه کرونکو کورنیو باندې تر سره شوې راغونډ شوې دي. دغه څېړنه څرګندوي چې په سویل ولایتونوکې دوارو ډوله کورنۍ نسبت شمالي او مرکزي ولایتونوته لوړ عاید درلودل. د ولایتونوترمنځ د عوایدو د نا عادلانه ویش څخه که سترګې پټې شي چې ښایي د ګټوالي او د کورنیو د عایداتو د کچې د اندازه کولو سره تړلې کړندودیزو مشکلاتو له امله په مخ پر ودې هیوادونو کې پټ پاتې وي ، د کلني عاید له مخې دیوې کورنۍ د بېوزلۍ د درجې ټاکنه پرته له دې چې دکورنۍ د غړو شمېرپه پام کې ونیول شي، د بېوزلۍ د طبیعت د پوهاوي په هکله لږ معلومات تر لاسه کوي، په ځانګړې توګه په هغو حالاتو کې چې مزمنه بېوزلي خپره وي[۷].

په کندهار او هلمند کې د کوکنارو د کښت زیاتوالی څرګندوي چې نه یوازې بېوزلي د هغو پریکړو سره چې کوکنارو کرل شي تړاولري بلکې نسبي شتمني او کرهنیزمساعد شرایط( له منځني حد څخه د ډېر ځمکې درلودنه، بسیا اوبه، ښه خاوره او ولایتي بازارونه ته نږدېوالی) د نورونباتاتو د کرلو د هڅونې لپاره په خاصه توګه هغه وخت چې فزیکي نا امنۍ خپره وي، بسیا نه دي. دکوکنارو د کښت په هکله د بزګرانو په پرېکړو کې نا امني ډېراهمیت لري ځکه چې دا کورنۍ ان د ښو امکاناتو د شتون په‌صورت کې‌هم د نورونباتاتو کرلو ته زړه نه ښه کوي.

دا ډول څرګندونې چې په( افغانستان کې د کوکنارو کرکیله ښایي له بېوزلۍ سره کومه مستقیمه اړیکه نه لري) به افغانستان کې پر ځای نه دي، ځکه چې د بنسټیزو فکټورونو درک او ننښه کونه چې د کوکنارو د کښت د تل پاتې کمښت لپاره ضروري ده، د تمرکز لوربې بل لوري ته ګرځوي. د کوکنارو د کچې دوامداره کمښت ته د رسیدو لپاره د په کلیوالي معیشت کې د کوکنارو د ونډې په هکله پوهاوی اړین دی. ځیني نباتات په ځانګړې توګه دیوه ګډ کرهنیز سیستم د یوې برخې په توګه د غیر کرهنیزو عایداتي فرصتونو سره یوځای د عایداتو په لحاظ له کوکنارو سره هغه مهال چې د کوکنارو بیه

۱۲ منزفیلډاو پین، په افغانستان کې د کوکنارو د کښت په کچه کې د راغلیو بدلونونو مطالعه.

ښکته وي، سیالي کولای شي. خو هېڅ ډول نبات کوکنارو ته ورته کیفي ځانګړتیاوې لرلای نه شي؛ لکه د وچکالۍ په وړاندې نسبي مقاومت، نه خرابېدونکي، کابو تضمین شوی بازار، د سوداګرو له خوا د محصول د لاس ته راوړلو څخه وړاندې د پیسو ورکړه[۱۷]، پیرودونکې کولای شي د کښت په ځای کې محصول وپیري او د ځمکوالو امتیازات د شریک کښت یا اجارې په ډول[۱۸]. د کوکنارو ځانګړتیاو اودکلیو په اقتصاد کې یې ونډې ته په کتنه، د خوړو د زیاتیدونکې خوندیتوب په مراعتولو سره( د کورني عاید د ډېرښت او د عاید د وړاندې ورکونې نه)، اقتصادي فرصتونه( ځمکې ته لاس رسی، پور، بازارونه، او نور د اړتیا وړ موارد)، او د ګوابښ دکمونې لپاره باید داسې لارې چارې ولټول شي چې هم د کوکنارو له کښت سره مبارزه وشي او هم د کوکنارو د کښت کمونې څخه را پورته کېدونکې منفي اغېزې را کمې شي.

## د کوکنارو د کښت کمونې د ټولنیزې اقتصادي پایلو په هکله موندنې:

دکوکنارو کښت د کلیوالي اقتصاد یوه مهمه برخه ګڼل کیږي او دنیمه کرهنیزو ځمکو دکاري فرصتونو او دندو جوړولو په برخه کې کارنده اغېزه لري[۱۹]. شواهد څرګندوي چې د کوکنارود کښت پراخه او چټک کمښت سره یو ځاي هغه ستونزې کولای شي د نېشه یي توکو په وړاندې د مبارزې هڅې چې کېدای شي په بزګرانو باندې د فشار راوړنې یا له مینځه وړلو له لارې وي، له بنیاده خرابې کړي. د منفي اغېزو بیلګې په‌لاندې ډول ځلاصه شوې دي:

د تریاکو لوړې بیې: د وړاندې کونې یا عرضې کمښت د بیود چټک

۱۷ که څه هم د راتلونکو حاصلاتولپاره وړاندې ورکړه د نورو کرنیزو محصولاتو په برخه کې هم ترسره کیږي( مثلاً غنم او kcab nimuc )، خو کوکنار د پور ورکونکو په زړه پورې کښت دی.

۱۸ کارګرته د شدید اړ نبات په توګه کوکنارهغه نبات دی چې د بې ځمکې خلکو دژوندانه لمرنۍ اړتیاوې او کاري زمینه چمتوکوي. په هغه صورت کې چې ځمکوال کم کارګره نباتات وکري، خلک شریک یا اجاره یې کښت ته زړه نه ښه کوي او په بدل کې یې د کښت لپاره د خپلې کورني له غړو څخه په ارزانه بیه کار ګر نیسي. ځمکوال ډېرکله د کوکنارو کښت ته متمایل بزګران غوره کوي، ځکه چې د لوړې اجارې یا په محصول کې د شراکت له لارې( نیم یا دوه په دریه) ډېر عاید لاسته راوړي.

۱۹ کارنده اغېزه( څوارخیزه) هغه مهال ښکاره کیږي چې یو اقتصادي فعالیت په نورو اقتصادي برخو کې د تحریک لامل شي، په پای کې به پراخه اغېزه ولري.

لوړوالي لامل کېدای شي، څرنګه چې په ۱۳۷۹ کال د طالبانو لخوا د کوکنارو د کښت له منع کولو وروسته ترسترګو شو. د نورو امکاناتو د نه شتون په صورت کې، دغه حالت بېرته د کوکنارو کښت ته د بیرته ګرځېدلو لامل کېدای شي.

**د پورونو ډېرښت:** د کوکنارو د بیوچتېکه زیاتېدنه د پورونو دلوړېدلو لامل کیږي، لکه څرنګه چې د طالبانو ترمنع کولو وروسته، د کوکنارو سوداګرود کوکنارو پورونه په نوې بیه واړول. ډېری بزګران د لویو پورونو له امله سخت زیانمن او اړ شول چې په بل فصل کې ډېرکوکنار وکري، خپلې ځمکې ګرو کړي او یاهم خپلې لوڼې د پورونو په بدل کې تبادله کړي.[20]

**د کرهنیزو ځمکود عاید له لاسه ورکونه، د مزدورۍ د نرخ کمېدنه او په کلیوالو سیمو کې د مهاجرتونو اوبېکاریو زیاتوالی:** د کرهنیزو ځمکو دعاید اوکاري فرصتونو له لاسه ورکونه چې د کوکنارو له نه کرنې سره یوځای وي، د مزدورانو د ډېرښت لامل کیږي چې هغه بیا په خپل وارسره د اجرې یامزد د کموالي (نغد یا جنس) لامل کیږي[21]. په بل عبارت، کارونه کمیږي او د کارکولو مزد ښکته راځي. ډېری وزګاره کسان ایران او پاکستان ته کډوال کیږي.

**د اقتصاد پراخه کمزوري:** د کوکنارو زیاتې ونډې ته په کتنه، د دغه بوټي د کښت کمېدنه د کوکنارو کښتونوکې د بوختوکارګرانو او کورنیو د عوایدو د کمښت سبب شول، همدارنګه دهغویو شمیرنورو دندوعواید او ګټې چې په نیغه توګه یې له د مخدره توکو د سوداګرۍ سره اړیکه نه درلوده لکه هوټلونه او پرچون پلورنه هم کمیږي.

**د صدمو په وړاندې دزیان منني زیاتیدل:** په ۱۳۸۷ کال هغه مهال د کوکنارو کښت منع کیدل په ننګرهارولایت کې پلی شو چې د غنمو بیه خپل لوړ حد ته رسېدلې وه. د دغه کارپه پایله کې د ډېرو بزګرانو لپاره د خوړو د نه خوندیتوب لامل شو، ان دهغوکسانو لپاره هم چې ۹۵ سلنه ځمکه یې غنمو ته وقف کړې وه، ځکه چې ډېرلږ شمېر کورنۍ د دومره ځمکې خاوندان ول چې د دوی د غنمو اړتیاوې پوره کړي. هغه بزګران چې غنم یې کرلي ول په خپلو کورنیوکې د غنمو له کمښت سره مخامخ شول، او په داسې وضعیت کې نه وه چې د غنمو د پلورلو له لارې د لوړو بیوڅخه یې ګټه پورته کړي، اوهغه کورنیو چې د کوکنارو د نه کرولو له امله یې خپل عاید له لاسه ورکړی وو او دخپلو لمړنیو اړتیاو دپوره کولولپاره یې دبسیا خوراکي توکود اخیستلو توان نه درلود.[22]

**د نارضایتۍ ډېرښت او د امنیت کمښت:** له پورته څخه ښکته، په زور لاره په دې معنی ده چې د کوکنارو منع کول پلې شوي او وروستۍ اغیزې یې په کلیوالي کورنیو اوعمومي اقتصاد د نارضایتۍ د مینځ ته راتلو سبب شوی. دغه حالت د ننګرهارولایت په شمول[23]، په ځینونورو ولایتونوکې هم د بې ثباتۍ اغېزې پرځای پرېښې دي.

له سیمه ایزو مشرانو سره د کوکنارو د کرکیلې د کمښت په هکله د خبرو په لړ کې د پراختیایي مرستو ژمنې وشوې، چې دکوکنارو د پرېښودلو یوه برخه د عایداتو له لاسه ورکونه یې جبران کړل. سربېره پردې، پراختیایي مرستو په عمومي توګه بشپړ اقتصادي فرصتونه را مینځ ته نه کړل ترڅو چې د کوکنارو له کښت څخه د تېرېدلوله بهیرسره مرسته وکړي.همدارنګه دغه ډول درجه بندي کره ثابته نه شوه. د کوکنارو د کښت کمېدلو ته هیله له پانګه اچونې څخه وړاندې کېده، ترڅو د معیشت دوامدارې لارې برابرې کړي، له همدې امله یې د ډېرې کورنۍ له ستونزوسره مخ کړې. په ننګرهارولایت کې په ۱۳۸۲ کال کې د کوکنارو کرکیلې ته بېرته ګرځېدنه په یوه بې باوره چاپېریال، ژمنه ماتونه، اقتصادي رکود او دکوکنارو د لوړو بیو په درشل کې ترسره شوه. د کوکنارو د کرکیلې د بنسټیزو عواملو په نښه کول په دا ډول شرایطو کې ډېره ستونزمنه شوه.

---

۲۰ د جرمونواو نېشه يي توکولپاره د ملګروملتونو دفتر(CDONU )، د بدلون په حال محیط کې د کوکنارو کښت: د ۱۸۳۱۲۸۳۱ کالود کرنیزو فصلونو لپاره د بزګرانو پرېکړې.

۲۱ ډېویډ منزفیلډ، (( hairaP یا بېوزلي؟)) په۲۸۳۱ کال په ننګرهار ولایت کې د کوکنارود کرکیلې منع کونه. د کرهنې موسم او د کلیوالو سیمو دژوندانه په ستراتیژیو یې اغېزه، ( ۱۱ شمېره نړیوال سند، په ختیځ افغانستان کې دبدیل معیشت لپاره د ZTG پرژه، ۴۸۳۱ ).

۲۲ منزفیلډ، د بې ثباتۍ او ګواښونو په وړاندې غبرګون، ۳۷ ۸۳، او منزفیلډ او پین، د بریالیتوب ناکامي.

۲۳ ډېویډ منزفیلډ، د کښت کمښت او شورش: په غور اوننګرهار ولایاتوکې د کوکنارو په کچه کې د تغیراتو د راوړلو دلایل،( کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۸۳۱)؛ ډېویډ منز فیلډ او آدم پین، د بریالیتوب ناکامي.

نا انډوله اغېزې: د کوکنارو د کښت کمونې پلې کېدنه په بېوزله او غريبو خلکو باندې ډېرې نا مناسبې اغېزې درلودلای شي. لکه څرنګه چې د دغه رسالې په متن کې تکرار شول، سره له دې چې کوکنار دلږشمېر بډايه د ځمکو خاوندانو لپاره يو ګټور حاصل دی، د ډېرو نورو هغوکورنيو لپاره چې د سرچينو له ژور کمښت سره مخ دي، هغه يوازېنی نبات دی چې په لاس کې موجودو سرچينو ته په پاملرنې سره د کرهنې پر بنسټ دوامداره معيشت ته زمينه برابرولای شي

د بديل معيشت پروګرامونه( چې د پراختيا دبديل په نوم هم يادېږي) لنډ مهاله پروژې، د کار په وړاندې پيسې او هغه پانګونې چې د ميوه جاتو او څارويو له روزنې سره مرسته کوي په کې شاملې دي. دغه لاره بازارته د خېرمه سيمو هغه ځای چې د کوکنارو کرکيلې د پرېښودلو بنه امکانات شتون لري، د نسبتاً بډايه بزګرانو په ګټه ده چې بېلګه يې په ننګرهارولايت کې ترسترګوشوې ده.دغه لاره د ګواښ، زيانمننې او هغه توکوته لاس رسی چې د کوکنارو له کښت سره ذاتي اړيکه ولري، په شان مسايلو په ښه کولو کې پاتې راغلې ده.

دلويو اجرااتو او چټکوپايلو د پلې کيدو لپاره په بسپنه ورکونکو او پلې کونکومؤسسو باندې سياسي فشار نه يوازې د بېوزله کسانو په ګټه نه دي بلکې د کوکنارو د کمښت يواوږدمهاله حل لاره هم نه ده. نسبتاً ، د کرنو شاخصونه او موخې ډېرکله په ستونزمنو او ګواښ درلودونکو اوبېوزله لرونکو سيمو کې هڅوونکي فکتورونه په پام کې نه نيسي. د کوکنار د کرلو په سيمو کې د امنيت نه شتون د دې لامل کيږي چې د پراختيايي مرستو ډېرتمرکز د سيمود مرکزونو په شا اوخوا باندې را وڅرخي.

د نښه يي توکو په وړاندې د مبارزې د برياليتوب او سني شاخصونه، په ځانګړې توګه ترکوکنارو لاندې په کرل شوې ځمکې باندې د اتکا درجه د برياليتوب د څرنګوالي په هکله او دا چې دې د رسيدو لپاره څه ته اړتيا ده د مغشوشيت د رامنځته کېدو لامل کيږي. لکه څرنګه چې په د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتيژي کې يادونه شوې ده، د سيمې پربنسټ شاخصونه د کوکنارو د کمښت د دوام په هلکله ، او دهغه د بستېزو عواملو يا پايلو په هکله لږ معلومات برابروي. که څه همد نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتيژي او د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي د دغوشاخصونو محدوديتونه يې په ګوته کړي او څو اضافي شاخصونه په کې برخه لري، يا د سياسي او پوځي فشارونو په وړاندې د يوه لنډ غبرګون سره ، خو بيا هم نه څرګندوي چې د کوکنارو د کښت کموالی د دغه بوټي د نه کرلو په لوري يوه دوام داره پديده و اوسي. همدارنګه دا نه ارزوي چې د کوکنارو د نه کرلو تل پاتې مساعد شرايط شتون لري چې د دې بوټي د نه کرلو سره مرسته وکړي. هغه شاخصونه چې دا ډول يوچاپېريال شتون څخه استازيتوب او دکوکنار ترکښت لاندې ځمکې کچه اندازه کوي، کولای شي د نښه يي توکو په وړاندې د مبارزې او په کليوالو سيموکې د عمومي معيشت د څرنګوالي لپاره غوره معلومات به برابر کړي.

## د کيمياوي درملو د شيندلو په هکله د خلکو د نظرياتو په هکله موندنې:

د ناټو لخوا ترسره شوې ټول پوښتنې وښوده چې د افغانستان کليوال خلک د کيمياوي موادو په واسطه د کوکنارو له منځه وړلو سره مخالف دي[۲۴]. د ۱۳۸۴ کال په لړم او ليندی کې د د افغانستان د خيړنې او ارزونې د اداري لخوا لاسته راغلي شواهد څرګندوي چې، هغه مهال چې رسنيو او دولتي چارواکو د کيمياوي موادو د استعمال په هکله خبرې کولې،د دغه موندنې يې لا پياوړې کړې[۲۵]. په کليوکې ډېری اوسېدونکي افغانان په دې باور دي چې درمل شيندنه د حاصلاتو د له منځه وړلو لامل کيږي ، د ناروغيو او انسانانو او څارويو د مړينې لامل کيدای شي. په داسې يوه چاپېريال کې چې د ماشومانو مړګ ژوبله کچه لوړه وي، حاصلات خراب وي، او څاروي په ګڼ شمېر ناروغيو اخته وي، په پوره احتمال سره دا

---

۲۴ ډيويډ منزفيلډ، سالمه ادره، امنيت او اقتصادي وده: دبدخشان ولايت په بهارک او جرم ولسواليوکي د کوکنارو د کښت ټاکونکي فکتورونه، ( کابل: د آغاخان پراختيايي شبکه، ۵۸۳۱، ۴۴ ۵۴ .

۲۵ ډيويډ منزفليډ، سالمه اداره، امنيت او اقتصادي وده، ۴۴ ۵۴.

ډول پيښې به له درمل شيندلو سره وتړي. دکوکنارو د له منځه وړنې دا ډول کمپاين چې د کيمياوي موادو له کارونې سره يوځای وي، په دولت باندې د کليوالو خلکو باور له مينځه وړي. تر او سه پورې د افغانستان حکومت له هوا څخه د کيمياوي موادو د شيندلو له پلويانو سره مخالفت کړی. د نشه يي توکو دکنټرول ملي ستراتيژي څرګندوي چې د کوکنارو د له منځه وړلو يواځې ځمکنی لارې به وکارول شي او د هواله لارې د کيمياوي توکو پاشل به شامل نه وي، په داسې حال کې چې د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژی/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژې د ځمکې يا هوا له لارې د کوکنارو له منځه وړلو ته هيڅ ډول اشاره نه ده کړې.

## ۳٫۲ پايله:

دغه برخه د نېشه يي توکود اقتصاد، مالداری، او اوبو مديرت د څېړنې هغومهمو موندنو ته ځانګړې شوې چې دکليو د معيشت د خونديوالي، دځمکې له اجارې، د اوبود مديريت سيستمونو ، د ترياکو له اقتصاد او د څارويود محصولاتو سره اړيکه لري. لاسته راغلې موندنې د اوسنيو پاليسيو په زمينه کې ځای ورکوي او همدا راز په پاليسيو کې شته تشې په ډاګه کوي. په بله برخه کې له څيړنې له موندنو څخه لاسته راغلې سپارښتنې تشريح کوي. د سپارښتنو له وړاندې کونې څخه موخه، دطبيعي سرچينو د مديريت د پاليسيو ته د معلوماتو برابرول دي ترڅوچې له بېوزلو خلکو سره اړوند اقدامات په ښه توګه ترسره شي.

# ۴. سپارښتنې:

ددې ځیرنې مهمه موخه د افغانستان د کلیوالو سیمو د معیشت پراختیا او پالیسي جوړونکو ته په کرهنیز سیستم کې د طبیعي سرچینو د ونډې او پر کرهنیزو فرصتونو د هغوې د اغیزې په هکله د کره معلوماتو د وړاندې کولو له لارې پر ناقانونه نباتاتو د اتکا د کچې را کمول دي. په تیره برخه کې یادې شوې پایلې په کلیوالي سیمو کې د کرهنیزو محصولاتو او د معیشتونو د را مینځ ته کیدو تر مینځ د پیچلې اړیکې څرګندونه کوي. لاس ته راغلي شواهد بازار ته د کرهنیزو محصولاتو د وړاندې کونې، کورنۍ ته د کرهنیزو محصولاتو د برابرونې او د غیر کرهنیزو اقتصادي فعالیتونو تر مینځ ژوره اړیکه څرګندوي. پالیسۍ او پروګرامونه باید دغه اړیکو ته د خلکو د معیشتونو د ښه والي او بازار ته د محصولاتو د وړاندې کونې له لارې انعکاس ورکړي او د معیشتونو پر تنوع زیاته پاملرنه وکړي تر څو ګواښونه کم او د غیر قانوني معیشت د کمیدلو په صورت کې دې اضافي فرصتونه برابر کړي.

## ۴,۱ عمومي سپارښتنې:

### طبیعي سرچینو ته د عادلانه لاس رسۍ وده:

عامه سرچینو( اوبو او څرځایونو ) ته د لاس رسۍ او د کرهنیزو محصولاتو د ډېرښت د فرصتونو ترمنځ مستقیمې اړیکې شتون لري. دغو سرچینو ته لاس رسی د غیر رسمي ادارو په واسطه په ژوره توګه بې مینځګړیتوب شوی دی او شواهد څرګندوي چې دا به د ځواک او شتمنۍ د وېش موجوده جوړښت لا پیاوړی کړي. باید له طبیعي زېرمو څخه د کارولو د حقوقو په هکله روښانه قوانین تدوین کړل شي. سربېره پردې، دولتي او ټولنیز اړوندې ادارې باید وهڅول شي او واک ورکړل شي چې د سرچینو په وېشنه کې باید له ډېرو مساواتو څخه کار واخیستل شي.

### له غیر بازاري کرهنیزو محصولاتو ارزښت ته پاملرنه:

بازار ته د کرهنیزو محصولاتو وړاندې کونې په برخه کې د پالیسۍ قوي ټینګار د هغه محصولاتو د ونډې اهمیت ته د نه پاملرنې ګواښ رامنځته کوي چې پیسې ګټونکې نه دي. په ځانګړې توګه په لرې پرتو سیمو کې چې بازارونو او خدمتونو ته کمه لاس رسي لري کرهنیز حاصلات کولای شي چې په دواړو اوږد مهاله او په ځانګړې حالاتو، کړکیچ او د خاصو اړتیاوو په صورت کې د کورنیو د سوکالۍ او د خوړو د ځان بسیاینې او په بازار باندې د نه تړاو له لارې مهم رول ولوبوي. دغه فعالیتونه د پیسو د کمښت پرمهال د پیسو د چمتوکونې، ټولنیزو خدماتي شبکوته دغیر نغدي توکو د لېږدونې او د با ارزښته توکو په توګه د څارویو ساتنې لپاره د پله په شان ونډه لوبوي. پالیسۍ باید له پولي اقتصاد څخه بهر تولیدات په پام کې ونیسي او کرهڼه د تولید او معشیت یوه وسیله وګڼي.

### بازار ته د ننوتلو لپاره له بېوزله کسانو سره مرسته:

ډېرې افغان کلیوالې کورنۍ د سرچینو له ژور کمښت سره مخ دي؛ په حیقیقت کې ډېرکم کسان د بسیا ځمکې د نه لرلو له امله په اغیزمنه توګه د بازار په فعالیتونو کې ګډون نه شي کولای ان تردې چې د خوراکي توکو د کر کیلې په درونه باندې فکر کوي. سربېره پردې د تریاکو د اقتصاد، مالدارۍ او د اوبو د مدیریت څېړنه څرګندوي چې بازار ته د کرهنیزو محصولاتو په تولید کې د بزګرانو ګډون له لوی ګواښ سره یو ځای دی، چې دا کار په بازار کې د دوی ګډون لپاره خنډ را مینځ ته کوي. د کرهنیزو بازارونو هڅونکي پروګرامونه باید بېوزله خلکو ته د پورونو او نورو د اړتیا وړ کرهنیزو توکو د لاس رسی زمینه برابره کړي او داسې لارې چارې ومومي چې د بازار لپاره د تولید سره تړلې ګواښونه کم کړي.

### په کرهنیزو، نیمه کرهنیزو او غیر کرهنیزو ځمکو کې د بوختو کارګرانو لپاره د فرصتونو ډېروالی

د کار د بازارونو جوړول او د د بسیا معاش سره د بسیا کاري فرصتونو رامینځ ته کول د کلیوالي معشیت په خوندیتوب په ښه کولو کی خورا ارزښت لري.موجوده ستراتیژۍ د کرهنیزو، نیمه کرهنیزو او غیر کرهنیزو ځمکو ترمنځ له شته توپیر څخه ګټه اخیستلای شي. ټول د عوایدو په تامین او تنوع کې مهم رول لري.

سربېره پردې، دغه ټکی د اهمیت وړ دی چې په کاري فرصتونو باندې د پېشنهادي اقداماتو مستقیمه یا نا مستقیمه اغېزه څه ډول په سیستماتیکه توګه په پام کې نیول کیږي. د بیلګې په توګه، د کرهنې د پراختیا ملي کاري چوکاټ وړاندیز کوي چې کرهنیزو سامانونو لکه تراکتور، د تخمونو د شیندنې ماشینونه، د لو کولو ماشینونو، د خرمنولو ماشینونه اود تخم پاکونکو ماشینونو ته لاس رسي باید ډېر شي. په بشري قوې باندې د لږې متکي ټکنالوژۍ ترویج د وزګارتیا لامل کیږي. هغه مهال چې د کار کچه ټیټه وي، له اقتصادي اړخه به ګټورنه وي. دا کار دې ټکې ته اشاره کوي چې د دندو او ټاکل شویو موخو لکه د کرهنیزو تولیداتو زیاتوالي تر مینځ یوه معکوسه اړیکه شتون لري. د پالیسیو د تدوین پر مهال باید دغه اړیکې په ژوره توګه په پام کې و نیول شي.

## ۲،۴ د ځمکې د اجارې په هکله مهمې سپارښتنې:

### د قبالو د راجستر کولو د یوه دفتر له لارې د ځمکو ثبتول

افغانستان د شخصي ځمکو د راجستر او اداري لپاره یوه ګټور سیستم ته اړتیا لري. په کلیو کې د قبالو د راجستر دفترونه باید د مروجو سیستمونو د عمومي منلتیا او آسانتیاوو په پام کې نیولو سره رامنځته کړای شي. پدې کار سره کادستر ته د تګ او د هغه د اړونده لګښتونو، او د ملکیت د اړونده شخړو مخه نیول کېدای شي او د قبالو د راجستر د یوه دفتر د ګڼ شمېر ګټو څخه برخمن کېدای شو، د قبالو د راجستر د یوه دفتر شتون د ځمکو د پریکنده مالکیت د ټاکلو په لور یو ارزښتناک ګام دی.

### د ځمکې د مالکیت د لېږد ثبت ارزښت

په کلیو کې باید د خلکو د عامه پوهاوي کچه لوړه شي او وهڅول ي چې د ځمکو د مالکیت لېږد باید د هرې شونې لارې ثبت او مستند کړي. اوس مهال موروثي انتقال مالکیت نه ثبتېږي. د راجستر ښن د یوه سیستم په جوړولو سره حتي د اسنادو نارسمي ثبت هم د ځایي چارواکو او کارکوونکو (څارونکو) سره مرسته کوي.

### د عامه ملکیت د اړونده شخړو حل او فصل

د عامه ملکیتونو په اړه د شخړو او جنجالونو د حل او فصل لپاره د یوه ګټور میکانیزم شتون یوه اړینه چاره ده؛ اوس مهال د حل او فصل دودیز سیستمونو په بسیاکوونکې کچه ګټور ندي ځکه پدې پروسه کې د سیمې بهر خلک ورګډوي. البته دا چاره (د بهرنیو ورګډول) د شخړو د دوا اړو لورو تر منځ د پرېکړو د تصدیق لپاره اړینه ده.

### د ثانوي کسانو د ځمکې د حقوقو ښه درک

د اجازې، کرایې یا شریکې کښت له لارې د ځمکې څخه د ګډې کارونې لنډمهاله حقوق باید په خپل حال پاتې شي. دغه چاره د کلیو په اقتصاد کې ارزښتناکه ونډه لري او باید د غور او پلټنې څخه پرته د قوانینو د چوکات څخه بهر نشي او پکې بدلونونه رانشي. خو په هر حال د دغو لنډمهاله تړونونو او پر کلیوالي معیشت د هغوی د اغېزو هر اړخیزه ارزونه اړینه ده. د انډول پر مختګ د پلان جوړولو په مهال باید د چارو مشران دا مشخصه کړي چې د کومو نباتاتو څخه تر لاسه شوي عواید د کلیو د اقتصاد او د شریکو کښتونو له لارې د کم ځمکې خلکو څخه ځمکه لرونکو ته لېږدي. پدې کار سره د بېوزلو خلکو د پرمختګ موخې تر لاسه کېږي؛ په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې ګډ کښت رواج لري. هغه عواید چې د ګډ کښت سره تړاو نلري (لکه د ورځې د مزد په وړاندې حیواني تولیدات) باید د بې ځمکو خلکو لپاره ډېرې ګټې ولري

## ۳،۴ د اوبو د مدیریت په هکله مهمې سپارښتنې

### د اوبو په مدیریت کې د خلکو د پراخ ګډون له لارې د حساب ورکونې وده:

د ګټو تضاد او د قدرت توپیرونه په سیمه ایزه کچه د آبي سرچینو د اداري د کمزورتیا لامل کیږي. د آبي سرچینو د اداري او غوره حساب ورکونې د لوړاوي لپاره د سیمه ایزو ټولنو د ظرفیتونو لوړول ډېر اړین دي. د ټولو ښکیلو اړخونو استازیتوب باید د سیمې د خلکو په سلا مشوره و پیژندل شي. یوله هغو لارو چې د PMIS د پروژې لاندې د ټولنې له خوا ومنل شو، د کانال په اوږدو کې د مېشتو خلکو څخه د یوې کمیټې جوړښت وو ترڅو چې د میرابانو له

کارځخه څارنه اوله هغوی سره مرسته وکړي. د ښکیلو اړخونو لکه ښځو او کوچنیو بزګرانو د استازیتوب دهڅونې له لارې چې ښایي په دا ډول پروسو کې برخه ونه لري. د کانال په کچه د استازیتوب د زیاتیدو لپاره هڅې باید د ټولنې په کچه د استازیتوب د زیاتیدو له لارې زیاتې شي

د اوبو د کارونکو د جوړولو لپاره دیوه ارتجاعي مېتود وده:

د اوبو د د قانون د مسودې په ۱۸ ماده کې د اوبو د کارونکو ټولنې اساسنامې ته اشاره باید روښانه شي ترڅود اوبو د کارونکو ټولنه وکولای شي چې دخپلوآئین نامو په تدوین کې اقدام وکړي. له یوې تفصیلي اساسنامې څخه استفاده چې د اوبو دکارونکو ټولو ټولنو لپاره پلې شي ، د ښکیلو اړخونود ګډون د اوبو د کارونکو د ټولنې د سیمه ایزو شرایطو سره په سمون ورکولو کې منع کوي. همدارنګه وړاندیز کوي چې دغه مؤسسې کیدای شي چې د ټولنې د ګټو او ویسا څخه وړاندې په فوري توګه رامینځ ته شي.

### دکار د پیل ټکي په توګه خبرنه او دهغه پراختیا:

د د اوبو د کارونکو د ټولنې د رامینځ ته کیدو یا د اوسنیي مدیریت د پیاوړتیا لپاره باید د اوبو د مدیریت اوسني او پخواني رسمونه په ټولیزه توګه وپیژندل شي. د دغوهڅو په څنګ کې، د کانالونوهایدرولیک سیستم ځانګړتیاوې او د ابو د ویش په هکله باید معلومات راټول شي ترڅو چې دمدرک په توګه سپربکړوپه کولوکې وړاندې شي. د نویوجوړښتونو د رامینځ ته کیدو لپاره د کار پلان باید د عملي کار له لارې زده کړې په پرتله، د ظرفیتونو لوړولو او په تدریجي توګه ډېرېدونکو پرمختګونوته ډېره پاملرنه وکړي. د ستونزوپه حل کې د ټولنوراښکېلول ددې لامل کیږي چې د بریالیتوب او باورفضا حس شي.  څرنګه چې د نویو اداري تنظیماتو لپاره اړتیاوې پیژندل شوي ، د سیمې خلک نوي قوانین او مقررات وړاندې کوي او دندې او مسؤلیتونه به په ګوته کړي. اساسي موخه باید(( کافي انسجام)) وي ترڅوچې ستونزې حل شي. داوبو د کارونکو ټولنې را مینځ ته کیدل باید د تشخیص، د قواعدو جوړونه، پلې کول او د نظرونو را غونډول تعقیب کړي.

### ترتیبول( تسلسل )

د لومړنیو کانالونو په اوږدو کې د اوبو د عادلانه ویش لپاره هڅې ښایي چې په پیل کې به د کانالو په پورتنیو برخو کې د لوړ ارزښت لرونکو محصولاتو په کرکیلي ناوړې اغیزې ولري. دغه کار به د بنستېیزو چارو( د اوبو د جریان ډېرښت) ، اداري چارو په برخه کې( داوبو د مدیریت مساویانه ډېرښت) او د کرهنې د ودې هڅونکو پروګرامونو( د ګټورو محصولاتو لپاره د زمینې رامنځته کول) په برخه کې د پام وړ ترتیبولو ته اړتیا لري.

### په کرهنیزو ځمکوکې د اوبو د مدیریت ښه والی:

په کرهنیزو ځمکو کې د اوبو د مدیریت د ښه والی لپاره هڅې کېدای شي چې د کرهنیزو ځمکو، کانالونو، او دسیند د ډنډ په کچه د اوبود غوښتنې او وړاندې کونې ترمنځ د تشې په کمیدو کې مرسته وکړي. د بیلګې په توګه، په کندوز ولایت کې د سیند په ډنډ کې د وریجود کر کیلې کړندودونو کې د ښه والې رامینځ ته کیدل ( لکه د وریجو د پیاوړې کیدو سیستم) ، چې د اوبو ساتلو له امله د لوړ سیمو د اوبو لګښت کمیږي، په پایله کې یې حاصلات زیاتیږي او د اوبو د ښکتنې برخې خلکو لپاره ډېرې اوبه چمتو کیږي.

د شخړو دحل کولولپاره د موقتو هڅود رامېنځ ته کولو لپاره د لارو لټون:

د اوبو د کارونکو ټولنې او د سیند دډنډونو د شوراګانو دجوړېدلوترمهاله باید د شخړو دحل فصل لپاره ظرفیت لوړ شي او لنډمهاله میکانیزمونه په ګوته شي. د هغو ورته همکاریو امکانات چې د PEACE پروژې لخوا د څرځایونو سره اړوند شخړو د حل فصل کولو لپاره ترلاس لاندې نیول شوې دي، شتون لري.

### د بیارغونې پرمهال له احتیاط څخه کاراخیستنه:

له سر چینو څخه د اوبو انحراف اصلي لورته ( دابو لګولو د سیستم د بیا رغونې یوه عامه ستراتیژي ده) ښایي په لنډمهاله توګه د اغیزمنتوب د زیاتوالي لامل شي، مګر دسیند په درو کې د اوسیدونکو خلکو لپاره یو اغیزمنه سستراتیژي وي چې د اوبو

د کچې بدلونونه او تګ لاره به تعقیبوي. سر بېره پر دې د کانال په سر کې د دایمي زیرمو جوړول د کانال په لوړو پرخو د اوسېدونکو خلکوته زیاته ګټه ورسوياودنوروسیمود کانالونود ترمیم لپاره دهغوی هڅونې د بشري کاري قوې د چمتوکونې له لارې، کمزورې کوي.

## د اوبولګولود سیستم د بیارغونې د ګټواو لګښتونو مساویانه وېش وده:

د کانال د لاندینی برخې په اوږدو کې د اوبو د ضایع کیدل، په زیانمنونکو او لږ اوبو لرونکو بزګرانو بزګرانوباندې مستقیمه اغېزه لري.د کانال د وروستۍ برخې بزګران په عمومي توګه د زیربناود بیارغونې اوترمیم لپاره پوره پیسې نه شي ورکولای. د سیمې له خلکوسره په سلا ، پراوګرامونه باید داسې طرح شي چې ګټې او مسؤلیتونه په مساویانه توګه په ټول سیستم کې ووېشل شي.

## د اوبو د لوړو سیمو د ابولګولو د سیستم بیارغونه:

د اوبو لګولو دسیستم دبیا رغونې له لارې د کرهنیزومحصولاتو ډېرښت هڅې د ښکته سیمو د اوبولګولوپه سیستم باندې متمرکزهدي. سرېېره پردې، د تریاکو داقتصاد، مالدارۍ اود اوبو دمدیریت څېړنې موندنې څرګندوي چې د لوړآبه سیمو دآبي سرچینود اداري لپاره هم ښه فرصتونه شتون لري. لاسته راغلي معلومات څرګندوي چې په هغومیاشتوکې چې اوبه ډېرې وي، د اوبولوړو کرهنیزوځمکوته د اوبو د نسبت د ښکته ځمکو د اوبو بهیر ته( او د وړو کرهنیزو سیمو ) لوړ وي.د تریاکو داقتصاد، مالدارۍ او اوبود مدیریت په هکله څېړنې څرګندوي چې د اوبو د زیرمو ښه کیدلو لپاره ډېر واړه اقدامات به په ځینو سیمو کې ښایي د دوهم ځل( د لوړ ارزښت لرونکې محصول) محصول لپاره بسیا وي. دا د ښوزله خلکو به ګټه د کرهنې پالیسۍ اوپه سیمه کې دمشروع کرهنیزمعشیت په پیاوړتیا کې، او په بل عبارت د هغو سیمو چې لږې سرچینې لري له محدودو منابعو سره مطابقت و لري.

د اوبو د قانون په مسوده کې دځمکې لاندې اوبو د استخراج په اړه او د ځمکې لاندې اوبو استخراج د کنټرول د هڅو تنفیذ په اړه د اړوندو مادو سپیناوی:

اوس مهال د ځمکې لاندې اوبو د ایستنې او نویو څاګانو دکېندنې لپاره لږ او یا هېڅ ډول کنټرول شتون نه لري. ګټه اخیستونکي یې شتمن بزګران دي او زیان یې نوروګټه اخیستونکوته رسیږي. د ځمکې دسر د اوبو د سرچینو په خلاف، له ځمکې لاندې اوبو سرچینوڅخه ګټه اخیستنه د سیمې دخلکو د څارنې تابع نه ده. داوبوقانون په مسوده کې شته تشې باید ډکې شي ترڅو چې د ځمکې لاندې اوبو د ایستنې د جواز اواجازه لیک اړوند قوانین او مقررات د پخوانه موجودو څاګانو، پخوانیوکاریزونو(نه یوائې نویو ) اوشخصي کارېزونو(نه یوائې عامه ) لپاره عملي شي.

## د اوبو برښنا د وړو دستګاوو او ژرندو پورې اړوند د اوبو د قانون مسودې د تشو به ښښه کول

قانون جوړوونکي باید د اوبو د قانون د مسودې تشې په ښښه کړي چې د ژرندو او د اوبو او بریښنا د وړو دستګاوو منفي اغیزې په اوبو لګولوباندېدي، په ځانګړې توګه د پلانونو په رڼا کې ددغو دستګاوو او ژرندو شمیر پراخ شي.

سرېېره پردې د د چاپېریال د قانون سره سم د اوبو د برښنا او ژرندو د وړو دستګاوو د جوړولو په ملاتړیزو پروژو کې باید اړینه پاملرنه وشي ترڅوداسې یو چاپیریالي کړندودونه پلې او رامینځ ته شي څو د اوبو د ښکتنې برخو په کارونکو یې منفي اغېزې کمې شي.

د فعالیتونو د لوري ورکولو په موخه د یو ستندرد چک لست او ښکیلو اړخونو سره مشورتي کړنلارې څخه ګټه واخستل شي داسې چې د سیمې د شرایطو سره سمون ولري. د ملي پیوستون پروګرام مخکې له مخکې د اوبو د برښنا د وړو دستګاوو لپاره چک لستونه او کړنلارې جوړې کړې دي، مګر د ځایي خلکو نظرهم ارزښتناک دی چې باید وپوښتل شي ترڅو دا معلومه کړي چې آیا کړنلارې د منفي اغېزو په کمولو کې تمه کېدونکې کچې لري.

## د څارویو په اړه مهمې سپارښتنې

د څر ځایونو د ټولنو ګډون د څارویو د ګټو زنځیرونو په منځ ته راوړلو کې

د څارویو د ګټو د زنځیرونو د جوړولو هڅې باید هغه ټولنې تر هدف لاندې ونیسي کوم چې په دودیزه توګه بازار ته د وړاندې کولو لپاره تولیدات کوي. ، د پراختیایي چارو تمرکز باید لوړه کچه د سیندونو غاړې په کومو ځایونو کې چې څاروي د پیسو د لاسته راوړلو لپاره په منظمه توګه نه روزل کېږي وي.

## د څارویو روزنې ته د پاملرنې زیاتوالی

په تاریخي ډول، په افغانستان کې د څارویو د پراختیا یي نوښتونو په برخه کې وترنري پاملرنه خورا غښتلې وه. دغه څېړنه د څارویو په مدیریت، تغذیې او بازار موندنه کې مهمو کمزورتیاوو ته چې د محصولاتو د کمښت لامل کیږي پاملرنه اړوي او وړاندیز کوي چې د څارویو او مالداری په برخه کې باید ډېره هڅه وشي.

## څرځایونو ته غوره لاسرسي

موسمي څرځایونو ته لاسرسي د سوداګریزو څارویو ودې او اوږدمهال پایښت لپاره ډېر ارزښت لري، مګر دغو سرچینو ته لاسرسی د ناقانونه کرنې، ودانۍ او د ځمکو د غصب له امله د ګواښ سره مخ شوي دي. د څرځایونو ټولنې ن د زورواکو په وړاندې زیات زیانمنونکې دي. د ځمکې د ګټې اخیستنې په اړه د ځایي موافقو اړوند کاري چوکاټپیاوړی او د پریکړو د پلي کولو او دشخړو د حل ظرفیت لوړشي. د ظرفیت د لوړوالي یو مهم اړخ هماغه د خلکو هڅول دي. مسئولې اداري باید داسې هڅونکې رامنځته کړي ترڅو د فساد د مخالف لیدلوري او د روڼوالي او د قانون د عادلانه حاکمیت ارزښتونه ترویج ومومي.

## سوداګریزو حیواني تولیدونکو لپاره د پورونو خدمتونه

کرهنیزو پورونو ته لاسرسي به کوچیانو او نور د پسونو او اوزو روزونکو ته دا وړتیا ورکړي چې خپل ژوي د مناسب وزن د ترلاسه کولو پورې وساتې. دغه چاره به د کرهنیزو عوایدو د زیاتوالي او د څارویو په برخه کې به د نویو پانګونې لامل شي. دامهال کوچیان چې تر ټولو زیاتې رمې او په بازار متمرکز تولیدي سیستم لري د پورونو د اخیستلو لپاره د وړ نه دي.

## د مولدینو او ورستنیو سیمو تر منځ د اړیکو وده

لکه څرنګه چې څرځایونه د څارویو د محصولاتو له لحاظه پرتله ییزې ګټې لري، او به لرونکې ځمکې د څارویو د اضافي تغذیې د تامین لپاره مناسبې دي. د دغه شان ګټو په بنسټ د بازار د زنځیر رامنځته کول د محصولاتو د ګټې د زیاتوالي، د معیشت د تنوع، او د عوایدو د زیاتوالي لامل کېږي.

## د حیواناتو د وښو (علوفې) ښه کول

د حیواناتو د روغتیا او جنیتک سمون د متمرکزو فعالیتونو ګټې یواځې په ښه تغذیه شویو حیواناتو کې لیدل کېداي شي. د ځایي توکو او متوازنو غذایي سیستم په واسطه د وطني روغ نسل تغذیه تر ټولو ښه کړنلاره ده.

ډېرې پرمختیایي پروژې د روغتیایي او جنتیکي سمون په اړه دي، مګر د تغذیې مسئلې ته ډېره کمه پاملرنه کوي. نورې ممکنه چارې لکه د وښو کرل په للمو ځمکو کې، د ښو طبیعې سرچینو د مدیریت په واسطه د څرځایونو د تولیداتو په زیاتوالي سره د څرځایونو د ګټې اخیستنې پر سر د شخړو د حل او فصل میکانیزم.

د څارویو د خوراک لپاره د نباتاتو د پاتې شونو (لکه هغه د غنمو واښه په یوریا لړلې وي) په بازارد متمرکزو محصولاتو ستراتیژي او په نیمه هڅونکو  سیمو کې د ژرندو رامنځته کول. دغه لارې چارې د حبوباتو نړیوالو بیو د زیاتوالي  او د کمیابو ځمکو د کارونې د لوړو فرصتونو، د څارویو لپاره د اومو خوراکې توکو پرځای د وښو د ودې لپاره د  اوبو د سرچینو او دکارګرانو له نظره د بزګرانو د غوښتنې او ګواښ ډېر ښه پوهاوي لپاره د زیاتو څېړنو ضمانت کوي.

پرمختګ د ټولنیز خوندیتوب له پلوه، اساسي امنیت، عواید او د دندو شاهد دی، دغه بهیر د دولت د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې له پالیسۍ سره سمون لري، داسې چې د نشه يي توکو په وړاندې مبارزه د کلي پرمختیا د پروګرامونو او پالیسیو سره یو ځای شي.

ټول پورتني ذکر شوي موارد د کلیوالي اقتصاد د سیستماتیکې او ورځنۍ شننې او سروې وړاندیز کوي نسبت او سنیو ژمنو ته. که څه هم د ګواښ او زیانمنې ملي ارزونه او د نشه یي توکو او جرمونو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري سروې ګڼ شمیر مهم معیارونه پیدا کړي ، معلوماتو کې تشې وې او د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د مفهوم د ښه درک لپاره باید موجوده معلومات په ښه توګه تحلیل او تجزیه شي، دغه مسئله باید د د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتیژۍ په راتلونکې بیا کتنو کې په ښه شي.

د کوکنارو د کښت د کمولو د بالقوه منفي اغېزو کمول د دواړه د دولت د کوکنارو د له مینځه وړلو کلنۍ موخه او د ښو کړنو نوښتونه د کوکنارو په کر کیله کې بې ساري کمښت هغه څه دي چې غوښتنه یې شوې او جوړ شوي. دغه نظر د ثبات د ټینګښت او د دولت د مشروعیت سره د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د عیار کولو سره په ټکر کې دی ځکه د کوکنارو د کښت له منځه وړل د نشه یي توکو او د بلواګرو په وړاندې د مبارزې د هڅو د کمزورتیا لامل کېږي او پداسې حال کې چې د معیشت د نه خوندیتوب د زیاتېدو لامل دی. د کوکنارو د له منځه وړلو او د کوکنارو پر کښت د بندیزونو د لګولو د چارو یو ځای مخته وړل په هغو سیمو کې چې مشروع معیشت شونی وي او پر لویو کروندګرو نه کوچنیو، د دواړو موخو د پلي کېدو لاره او اروي. د دغه کړندود له مخې د مشروع معیشت د فرصتونو شتون باید د مخکې ذکر شویو معیارونو له مخې و ارزول شي او د ((کوچنیو)) او ((لویو)) بزګرانو د پېژندنې معیارونه هم وټاکل شي. وروستنی یاد شوي معیار د روښوالي د ښه والي لپاره اړین دي، په ځانګړي ډول د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو په پروسه او پر کوچنیو کروندګرو د پلي شوې پروسې په بهیر کې د مفسدو مامورینو د دخالت د ادعاوو په رڼا کې، ځکه کوچني کروندګر د بډې د ورکړې توانایي نلري او د کښت د له منځه وړلو په وړاندې هم مقاومت نشي کولای.

د دغې پالیسۍ په مخکې د پرتو ننګونو څخه یوه داده چې د ولایت یا ولسوالۍ په کچه د ((پراخو امکاناتو لرونکو)) او ((کمو امکاناتو لرونکو)) سیمو د کلیوالي معیشت شمېرې په کافي توګه نشي وړاندې کولای. دغه چاره بازارونو ته د نښلوونکو سړکونو، د اوبو لګولو بېخبناوو او خدمتونو ته لاسرسي، د ځمکې ځانګړتیاوې، د طبیعي سرچینو او اقلیم ځانګړتیاوې، د مزد کچه، د کورنۍ عاید او نور ټولنیز اقتصادي معلومات، امنیتي معیارونه، د بازار بیې، د نباتي او څارویو د ناروغیو خپرېدل او نور عواملو ته د لاسرسیۍ غوښتونکې ده. د کرنیزو مالوماتو ملي سیستم یا د جغرافیایي معلوماتو نورې زېرمې او سیستمونه پدې موخه کارول شوي دي. تر لاسه شوي مالومات د د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د پالیسۍ د ګټور پلي کولو لپاره اړین دي او د کلیو ګڼ شمېر پروژو او پراختیایي پروګرامونو ته د ګټې رسولو په موخه او د شواهدو او پر بېوزلو د راڅرخېدونکو په بنسټ د کړندودونو د ملاتړ او پېژندنې په موخه کارول کېږي.

د منفي اغېزو د کمولو یوه بله لار د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو څخه ډډه او د هغه ممنوعیت دی او د هغه په ځای د بدلون راوستلو په موخه متفاوتې پربکړې او کړنلارې غوره کړای شي. د یوې داسې ستونزې چې په کلیوالي سیمو کې رامنځه شوی او د نه پاتې کېدونکو پایلو ګواښ لري چې د کلیوالي سیمو د سوکالۍ او ثبات د کمزورتیا لامل کېږي، د سملاسي له منځه وړلو په موخه د کوکنارو د کښت منع او له منځه وړل د اوبو د مدیریت، مالدارۍ او د تریاکو د اقتصاد موضوعي د ګټه اخیستنې څېړنې د یوه پراخه لید او د مرحله یي کړنلارو پلوي کوي او په یوه مساعد چاپېریال کې کروندګر د کوکنارو له کښت څخه راګرځوي، او ټولنیز خوندیتوب، اقتصادي وده او سالمه اداره رامنځته کوي. دغه لاره په غالب ګومان د کوکنارو د کښت د تلپاتې کمښت لامل کېدای شي. همدارنګه دغه لاره د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې لپاره د دولت د پالیسۍ سره سمه ده.

کوکنارو د کښت او د بیوزلۍ تر منځ د اړیکې د نشتوالي ادعا د ناسمو ارزونو په بنسټ ده، دوي د کليو د پراختیا او د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې د ستراتېژۍ لپاره جدي پايلې لري، او د خلکو ملاتړ د یوې ښې پالیسۍ د پلي کولو لپاره دي. دا ډول ادعاګانې باید د افغانستان ملی پراختیایي ستراتیژي/ د نشه يې توکو پر وړاندې د مبارزې( د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې  ستراتیژي )او نورو رسمي پالیسو څخه بهر او د هغه په ځاي د پالیسۍ څخه د پایلو راښه او کره تفسیرات ځاي په ځاي شي.

## مامورین، معامله کوونکي او د پام وړ ملاتړ کوونکي

د مامورینو، معامله کوونکو او ملاتړ کوونکو شبکې( د طالبانو او مفسدو مامورینو په ګډون ) چې په ولایتونو کې د کوکنارو د اقتصاد پراخونکې دي. د کوکنار د سوداګرۍ د پرېښودلو لپاره په نفوذ لرونکو خلکو باندې فشار د کوکنارو په اقتصاد مستقیمه اغېزه لري. د هېواد په سویل کې مفسد لوړپوړي مامورینو لیري کول چې د کوکنارو د سوداګرۍ سره اړیکې لریسد کوکنارو د سواګرۍ او فساد په ضد په مبارزه کې به دولت د ژمنتوب اعتبار به خورا زیات کړي. دا طریقه د د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي او د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ/د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي سره سمون لري.

## د ناامنۍ او د خطر د بنسټیزو لاملونو پیداکول

د هغه مهمو عواملو موندل چې بزګران د کوکنارو د کر کیلې ته هڅوي د ځینو نور موضوعاتو لکه مزمنو ګواښونو  او نا امنۍ چې د رسمي او غیر رسمي چارواکو د نه حساب ورکونې له کبله را مینځ ته شوي په ننبه کولو ته اړتیا لري. کوکنار په له ګواښه ډک چاپېریال کې د کم خطره نبات په توګه ګڼل کېږي. د دغه تصور بدلون د پرمختیایي هڅوونکو د لنډ مهالو ممرستو یا د کوکنارو د کښت د ممنوعیت له ګواښ څخه خورا مهم دی. د کلیوالي معیشت د ګواښ او ناامنۍ د کموالي لپاره ، باید د فساد په کمولو ، د بېخبناوو او نورو عامه خدمتونو ښه کولو او د بیوزلو په ګټه د کرهنې ودې ، د کلیو د کرهنې پرته نورو سکټورونو ته پاملرنه اړینه ده. د کرهنې او د کلیو د پراختیا په ستراتېژۍ کې وروستي بدلونونه د بېوزلو د ودې په ګټه او د کوکنارو د کښت او د کلیو د متوازنې پرمختیا پر ملاتړ د ډېر ټینګار ښودونکی دي.

# ۵. پایلې

د پایلې په توګه ویلای شو چې د اوبو د مدیریت، مالدارۍ او د تریاکو د اقتصاد خېړنې چې د کلیوالي معیشت، د ځمکې د اجارې، د اوبو د سرچینو د مدیریت، د څارویو او د تریاکو د اقتصاد سره اړیکې لري، د بیوزلو په ګټه پالیسیو د ودې او د بیوزلۍ په راکمولو کې د دولت د روانو هڅو ملاتړ کوي. که څه هم چې د اوسنۍ پرمختیایي ستراتېژۍ په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې بیا کتنه یو شمېر هغه تضادونه چې د بېوزلۍ د ستراتېژۍ او د بیوزلۍ د کمولو موخو تر منځ شته راڅرګند کړې دي، حکومت د خپلو ژمنو سره سم د کلیوالي سیمو د متوازنې پرمختیا او کرهنې لپاره د یوې هر اړخیزې ستراتېژۍ غوښتونکی دی.

اوسنۍ ننګونه د هغو کړنلاور پېژندنه ده چې په عمل کې ستراتېژۍ او پالیسي پلې او په کلیوالي معیشت کې رښتینې بدلون رامنځته کړي. پدې رساله کې د بیوزلو په ګټه د اقداماتو او کړنلارو څو بېلګې وړاندې شوې دي. لکه څرنګه چې د ستراتېژیو عیارول او راتلونکو پانګو اچونو ته لومړیتوب ورکونه د پرېکړه کوونکو مقاماتو په وړاندې یوه ستونزمنه چاره ده، د تاکنې معیارونه باید کورنیو ته د شته ګواښونو، او په کلیو کې د مزد په کچه او کاري فرصتونو، او ځمکې او طبیعي سرچینو ته په لاسرسي متمرکز وي.



په ننګرهار ولایت کې کورته د راتګ په وخت کې رمې (عبیدالله هدایت)

### په کروندو او رمو کې د انفرادي او مشارکتي ځېړنو سرته رسول

د دولتي او د پوهنتون د ځیړنیزو فارمونو په ځای د ځارويو ځېړنې باید پر فارمونو او د کوچیانو د کورنیو په مینځ کې وشي. د ستونزو په پېژندنه، د حل لارو په پلي کولو او د پایلو په ارزولو کې د بزګرانو او رمه لرونکو شاملول، دا امکانات برابروي تر څو ځېړنې د مال لرونکو په لومړیتوبونو باندې متمرکزې سپارښتنې د عمل جامه واغوندي.

د ځارويو د مولدیت په اړه د معلوماتو تشې دادي: د غوایانو د نسل ځانګړتیاوې(د شېدو اندازه او د ځایي او ګډ نسل زیاتوالی د ځایي اوښو شرایطو لاندې) ؛ د پسونو د نسل ځانګړتیاوې(د بهرني نسل د واردولو څخه مخکې دښو او ځایي مدیریت تر شرایطو لاندې د مثل د تولید ، د ودې اندازه او د وړیو کیفیت )د شېدي ورکوونکو اوزو واردول( د پاکستانیو شېدو ورکوونکو وزو ګټورتیا او د لږو شېدو ورکوونکو وطني غواګانو په ځای د هغوي ځای په ځای کول)؛ او د چینجیو ضد درملو اغیزمنتیا ( داخلي پرازیتونه په بیلابیلو فصلونو اوبیلابیلو ځایونوکې) .

## ۵،۴ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه مهمې سپارښتنې

### د پراخو معیارونو سره د بریالیتوبونو د کچې پرتله کول

په عمومي توګه یو لړ پراخو معیارونو ته نسبت هغو ته چې په د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی/د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتیژي کې د کوکنارو د کر کیلې او د معیشت د بدیل د بنستیزو هڅونکو په برخه کې د بدلونونو د پیداکولو لپاره لیست شوې دي، اړتیا ده. دغه شاخصونه باید په اداره کې د مثبتو بدلونونو، د ټولنیزې او اقتصادي فرصتونو ښودونکي وي. دغه شاخصونه باید د هغو سیمو په بنسټ چمتوشوي وي چې مختلف جغرافیایي او اقتصادي خنډونه تشخیص او د ځمکه لرونکو او د اوبو څخه غني کورنیو او ( په اصل کې په هغو سیمو کې واقع وي چې د لوړو او متوسطو ظرفیتونو درلودونکې وي) او د هغو کورنیو چې کمې ځمکې او کمې اوبه لري، توپییر ومومي.

( په هغو سیمو کې چې د لوړې، منځنۍ او ټیټې کچې ظرفیتونو درلودونکې وي. )

د ټولنیزخوندیتوب اړوندې پایلې: د خوړو د خوندیتوب سره سم کورنۍ باید کم تر کمه خپل د خوړو اړتیاوې پوره کړي، دغه چاره د یو شمېر مواردو لکه د خوړو چمتو کول، د پیسو لېږدول، او کاري فرصتونو له لارې پلې کیداې شي.


باید زیان منونکو کورنیو ته په کافي اندازه مرستې، د کافي وخت لپاره ورکړل شي تر څو د خوړو خوندیتوب تامین کړي، د هغو غذایي خوندیتوب ارزونې چې د ګواښ او زیانمننې د ملي ارزونې لخوا په لاره اچول شوي، یو د ګټورو کړنلارو څخه ګڼل کېږي.

د سالمې اداري پایلې: د امنیت برابرول، د شخصي خوندیتوب د تامین سره د او شخړو د حل او فصل د سیستمونو په کار اچول د اړتیاوو له ډلې شمېرل کېږي. د اشتراکي امنیت او د شخړو د ارزونې په اړه باید د کورنیو د تجربو څخه ګټه واخیستل شي.

د اقتصادي پراختیا پایلې: د لوړو او متوسطو ظرفیت لرونکو سیمو لپاره. د باثباته مارکیټونو منځته راتګ به د سرچینو له لورې بډایه بزګرانو په واسطه د کوکنارو کښت د پرېښودلو سبب ګرځي. لدې کبله د امتعې لپاره د بازار موند نې او د بزګرانو د کورنیو عوایدو اندازه چې د هغې په واسطه په بازار کې د ګډون کچه، مولدینو ته بېرته راتګ او د سوداګرۍ شرایط اندازه کوي ، اړین دي. نورو ټولو سیمو او کورنیو لپاره د معیشت مهم موضوعات د کار بازار، د مزد کچه او کافي دندې په کار اچوي تر څو کورنۍ ته خوندیتوب برابر کړي.

دکوکنارو تر کښت لاندې سیمه باید د پورتنیو معیارونو سره یوځای د نشه یي توکو پر وړاندې په مبارزه کې د یوه معیار په توګه وکارول شي. د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د بریالیتوب له یوه کاله تر بله کاله د کوکنارو د کښت لاندې سیمو د کموالي، د کورنیو

ضمیمه: د اوبو د مدیریت، مالدارۍ او د نشه يي توکو د اقتصاد تر موضوعي څېړنې لاندې سيمو نخشه



# د څېړنې او ارزونې د ادارې وروستنۍ خپرونې

| | |
|---|---|
| ۲۰۰۹ کال جون | د لاس رسۍ څخه تر اغېزې: په افغانستان کې کوچني پورونه او کليوالي معيشتونه، د پاولا کانتور ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال جون | د افغانستان په ښاري او کليواله سيمو کې د بيوزلۍ لامل نه د ماشومانو د کار څخه د استفادې پرېکړې اغيزمنې کوي، د پاميلا هنت ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال جون | د اوبو اداره، د څارويو او د ترياکو اقتصاد د بيوزلو په ګټه د کرنې د ودې فرصتونه، د لورن فلمينګ ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال جون | پاليسي نامه: د مرستو د اغيزمن کيدو لپاره دوه اړخيزې حساب ورکونې ته وده ورکول، د ربيکا رابرت ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مې | په افغانستان کې د ماشومانو د کار په وړاندې چال چلند، د امندا سيم ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مې | د کليو د پراختيا او کرنې په برخه کې پاليسي جوړونه، د آدم پين ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مې | د کوکنارو څخه خلاص ولايتونه: يوه اندازه يا يوه نښه ؟، د داويد منسفيلد ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مې | د څارويو د ومحصولاتو د اغيزمن کيدو لپاره څېړنه او پراختيا، د ايوان تامسن ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مې | د انضباط او واک تر مينځ: د لوړو سيمه ايزو ټاکنو شاوخوا پاليسي ګانې، د مارتين وان بيجلرت ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال اپريل | د اوبو اداره، د څارويو او ترياکو اقتصاد: د قانوني زراعتي معيشت د پياوړې کيدو لپاره فرصتونه او ننګونې، د الن روی ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال اپريل | د اوبو لګولو د نابرابرۍ پلټنه: د کانال داوبو لګولو سيستمونه د هرات ولايت د انجيل په ولسوالۍ کې، د سيرينيواز چوکاکيولا |
| د ۲۰۰۹ کال اپريل | اوبه، ترياک او څاروي: د کورنۍ او کروندو د لومړي کال د څارنې موندنې، د الن روی ليکنه |


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار
کابل، افغانستان
رښنا پاڼه: www.areu.org.af برېښناليک: areu@areu.org.af ټيليفون: ۵۸۴ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړيا توګه تر لاسه کولاي شئ:


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار

کابل، افغانستان

ټليفون: +۹۳ (۰) ۷۹۹۶۰۸۶۴۸۵

برېښناليک: areu@areu.org.af برېښنا پاڼه: www.areu.org.af